EUROPEAN UNION

د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره

AREU
څېړنه د ښه افغانستان لپاره



# کله چې او به ختمېږي:

## د سوېل لويديځ افغانستان د دښتو ظهور (او حتمي زوال) او پر کړوالۍ ، کوکنارو او ثبات يې اغيز

ډيوېډ منسفيلډ

مرغومی ۱۳۹۹

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
تلفیقي څېړنلیک

# کله چې او به ختمېږي:

## د سوېل لویدیځ افغانستان د دښتو ظهور (او حتمي زوال) او پر کډوالۍ، کوکنارو او ثبات یې اغیز

ډیوېډ منسفیلد

غبرګولی ۱۳۹۹

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۴۱-۹۸۳
لیکوال ډیوېډ منسفیلد
ژباړه سید رحمان
د خپرونې کوډ پ ۲۰۰۶
©۱۳۹۹ د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کېدای شي یوازې د غیری سوداګریزو موخو لپاره نقل، او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبع یې خبره شی. په یاده خپرونه کې ځای شوی نظرونه لیکوال پوری اړه لري او په حتمی ډول د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری او اروپایې ټولنې نظرونه نه منعکوسوی که چیری دغه خپرونه بیاچاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af ") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څیړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څیړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څیړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څیړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداره دیوی غیرانتفاعی اداری په توګه د اقتصاد په وزارت کی ثبت شوی ده. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څیړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څیړنیزو بنسټونو په منځ کې په دریم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څیړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری له څیړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څیړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

**مالی مرسته کوونکې:**

د دې ادارې مالی مرسته کوونکې د سویدن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), Central Asia Regional Economic Cooperation Institute (CAREC), The Foundation to Promote Open Society (FPOS), The French Medical Institute for mother and children (FMIC), The Royal United Services Institute (RUSI), Institute for Integrated Transitions (IFIT), and UN Women.

**همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:**

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

## د لیکوال په اړه

ډیویډ منسفیلډ (David Mansfield) له **۲۰۰۵** میلادي کال راهیسې د افغانستان د څېړنې او ارزونې له ادارې سره د یو خپلواک سلاکار په توګه کار کوي. نوموړي په افغانستان کې د کلیوالي معیشت او د کوکنارو کښت په اړه په **۲۴**پرله پسې فصلونو کې څېړنه کړې ده. په یادې څېړنې کې د افغانستان په کلیوالي سیمو کې تر ۱۲،۰۰۰ زیاتې هراړخیزې کورنۍ مرکې شاملې دي. ښاغلی ډیویډ د لندن د ختیځ او افریقایي مطالعاتو له پوهنتون څخه د پرمختیایي زده کړو په څانګه کې دوکتورا لري. نوموړی د "پر شګو جوړ شوی دولت: څرنګه کوکنارو افغانستان کمزوری کړی دی" تر سرلیک لاندې د یو کتاب لیکوال دی او په افغانستان کې یې د مخدره توکو اقتصاد او کلیوالي معیشت په اړه **۷۵** څېړنیزې لیکنې کړې دي.

## مننه

له السيس کمپنۍ (Alcis Ltd) څخه د دوی د لوړ کيفيت لرونکو ليرې حس انځورونو (High Resolution Remote Sensing Imagery) د شننې او همداراز په کار سيمه کې د څېړنې او پايداره پرمختيا له موسسې (OSDR-Organization for Sustainable Development &Research) څخه د دوامداره زيار او هڅو مننه کوو.

د دوی له ارزښتناکې مرستې او اوږدمهالې ملگرتيا پرته به دې څېړنې دومره دقت او صحت نه درلودای. د دې څېړنې په لومړنې مسوده کې د حاجی سلطان محمد احمدي ، ريچارډ بريټن ، راس ايونټن ، انتوني فيټزربرت ، پاول فيشستين، غلام رسول موسی خېل ، مايک عثمان او اليکس سوډرهولم له نظرونو څخه هم مننه کوو.

# سریزه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) لپاره د خوښۍ ځای دی چې خپلو مخاطبو مينه والو سره د «کله چې اوبه ختميږي: د سوېل لويديځ افغانستان د دښتو ظهور (او حتمي زوال) او پرکېدوالی ، کوکنارو او ثبات ېې اغيز» تر سرليک لاندې يو هراړخيز تلفيقي څېړنليک شريکوي. نوموړی څېړنيز سند د کوکنارو او کليوالي معيشت په برخه کې د يادې ادارې د مخکښ کارپوه ډاکټر ډيويډ منسفيلډ لخوا د اروپايي ټولنې په سخاوتمنې مالي مرستې ليکل شوی چې د طبيعي زيرمو د مديريت (NRM) پروژې د اړينو برخو په اړه د يادې ټولنې درې اړخيزو څېړنيزو څخو يوه برخه ده.

دا څېړنيز سند د تيرو څه د پاسه لسو کلونو ساحوي کار ته په کتو چمتو شوی دی او په کې له ليرې لار څخه اخيستل شوو لوړ کيفيت لرونکو انځورونو او هراړخيز سيمه ييز کار څخه ګټنه شوې چې هغه بهيرونه انځوروي کوم چې د سوېل لويديځ دښتو د غصب ، آبادولو او بدلون لامل شوي دي.

دا سند  په مستند ډول دا ښيي چې څنګه دغو سيمو ته کډوالی د وخت په تيريدو او موقعيت په تفکيک سره توپير موندلای او همداراز په تفصيل سره دا څېړي چې څه ډول دغه وچې دښتې په دايمي ميشت سيمو بدلې شوي. نوموړې څېړنه بيا د دې ثبوت هم وړاندې کوي چې د پخوانيو دښتو ګړندی بدلون، په دغو سيمو کې پر ميشتو خلکو باندې څنګه اغيز کړی دی او دا چې د دوی معيشت د اوږدمهاله پايښت په وړاندې ګواښونه څه دي.

په پای کې، ياد څېړنيز سند د هغو اړينو اقداماتو د ترسره کولو وړانديز کوي کوم چې په دغه دښتو کې پر ميشتو خلکو د فشارونو کمولو لپاره بايد ترسره شي: نه يوازې هغه لاملونو ته د رسيدنې په برخه کې وړانديز کوي چې دغو سيمو ته د کډوالی لامل کيږي بلکې د افغانستان دننه، ګاونډيو هيوادونو او نورو ملکونو ته د خلکو د پراخې بې ځايه کيدنې احتمال او د هغې د راتلونکي اغيز د راکمولو په موخه، د هغو لاسوهنو د ترسره کيدو وړانديز هم کوي چې ښايي په يادو سيمو کې د ميشتو خلکو اقتصادي ، ټولنيزې او چاپيريالي ننګونې کمې کړي.

همداراز نوموړې څېړنه په ځانګړي توګه او په مستند ډول په دغو دښتو کې د ميشتو ميرمنو له ننګونو ډک ژوند څېړي هغه چې د خپل ګوښيتوب، ژور خفګان او حتی ځان وژنو ؛ په اصلي ټاټوبي کې له خپلې کورنۍ او ملګرو څخه د ليريتوب، په وچې دښتې کې د کرهنيز کار د زياتيدونکي بوج، او د پوهنيزو او روغتيايي خدمتونو د نشتون په هکله خبرې کوي.

د اهميت وړ خبرې په توګه بايد په ياد ولرو چې په دغو دښتو کې ميشتې ټولنې د معيشت د يوې وسيلې په توګه د کوکنارو په توليد پورې خورا زياتې تړلې دي، د کوکنارو هغو نغدو پيسو په شمول چې دوی يې په مرسته د لوړ لګښت لرونکو کرهنيزو تخنيکونو په برخه کې پانګونه کوي. په ورته ډول، د خلکو د هوساينې کچه د دوی د کوکنارو د نرخونو او حاصلاتو له کچې سره سم ښکته او پورته کيږي.

کله چې د کوکنارو حاصل راټيټيږي او فصلونه ښه پايله نه ورکوي(لکه څرنګه چې دا وضعيت له ۲۰۱۲ تر ۲۰۱۵ ميلادي کلونو ورې د څلورو پرله پسې کلونو لپاره دوام درلود ) ، نو دا ډول وضعيت پر کورنۍ عايد باندې د پام وړ اغيز لري. د ترياکو ټيټ نرخونه هم ورته زيان رسونکی اغيز لري، ځکه نو کورنۍ ديته اړ باسي ترڅو د خوړو او روغتيايي خدمتونو لګښتونه کم کړي او د کرهنيزو لګښتونو کمولو لپاره د نويو او حتی خورا اغيزناکو ټکنالوژيو د کارولو په شمول ، د نويو لارو په لټه کې شي.

تر ټولو لويه انديښنه دا ده چې اوس مهال شاوخوا ۱،۴ ميليونه خلک د هېواد په سويل لويديځ کې په دغو پخوانيو دښتو کې ژوند کوي او ګڼ شمېر بزګر په لمريزې برېښنا ټکنالوژۍ سمبالې ژورې څاه ګانې نصبوي، تر ځمکې لاندې پر هغو اوبو چې دا کروندګر د خپل معيشت لپاره تکيه کوي په ګړندۍ توګه ختميږي. دلته دا پوښتنې راپورته کيږي چې که چيرې دا وګړي نور د خپلو کورونو لګښت، څارويو څښاک او همداراز د کرهنيزو فصلونو د خړوبه کولو لپاره اوبه ونلري، نو دوی به چيرته ځي؟ د دغو بزګرو ډيری لومړی ديته اړ شوي ول چې دې دښتې ته کډه وکړي، دوی د لاسرسي وړ اوبه ييزو سيمو څخه د جګړې او د کوکنارو پر کښت د بنديز له امله

تښتیدلي ول او په کلکه باور لري چې دوی ته د ځمکې د نلرلو او دولتي فساد له کبله پرمختیایي مرسته نه وه برابره شوې.

نوموړي خلک چې په دغو پخوانیو دښتو کې میشت دي په سختو الفاظو د حکومت په اړه خپل نظریات څرګندوي او چندان باور نلري چې ګواکې د دوی لپاره دې په اوبه ییزو سیمو کې د دوامداره پرمختیا، یوه بیلګه (ماډل) شتون ولري.

کله چې اوسنۍ اقتصادي هڅې ناکامې شي، آیا په دغو پخوانیو دښتو کې میشت وګړي به بیرته هغو ځایونو ته ستانه شي چې له کومه ځایه راغلي دي؟ آیا د دوی کرهنې او کورنیو ساتنې لپاره په کافي اندازه ځمکه شتون لري؟ د طالبانو تر واک لاندې د ژوند کولو - او له دولت سره د لرې مینې درلودلو سربېره - آیا دا راستنیدونکي به د چارواکو په وړاندې تحریک نشي؟ ښایي ځینې به یې بیرته ښارونو ته لاړ شي او په دې توګه به هلته د نفوس فشار ډیر کړي. آیا د کډوالو د جذب او ادغام لپاره دندې، استوګن ځایونه او خدمات شتون لري؟ ،په ځانګړې توګه په کابل کې چیرې چې تر ځمکې لاندې اوبه لا دمخه د کمیدو له ګواښ سره مخ دي.

بالاخره، د دې ګواښ به څه وي که دا ۱،۵ میلیونه وګړي (او نور یې د سویل لویدیځ هاخوا پخوانیو دښتو کې) بهر ته قاچاقي ولاړ شي؟ او له هغو نورو افغان کډوالو سره یوځای شي چې لا دمخه یې افغانستان پریښی ، او ځانونه په ایران ، ترکیه او اروپا کې د کډوالو په توګه ومومي.

زه ډاډه یم چې دا هراړخیز څیړنیز سند د کلیوالي کډوالۍ، ځمکې لاندې اوبو د لګښت چاپیریالي اړخونو او د سویل لویدیځ پخوانیو دښتو اړوند اوسیدونکو په هکله شته پوښتنو ته ځواب ویلو په موخه پر واقعیتونو ولاړو پالیسي ګانو چمتو کولو لپاره د یوې اړینې سرچینې په توګه کارول کیدای شي. د نورو مسایلو سربیره، د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره غواړي چې په دې څېړنه کې دوه ستر ښکېل همکاران تاسو ته وپیژني او ورڅخه مننه وکړي: د پایدارې پرمختیا او څېړنې له موسسې (OSDR ) او السیس (Alcis) کمپنۍ څخه د معلوماتو د راټولولو په برخه کې د دوی د غوره ملاتړ او زمونږ له ناڅرګندو همکار کره کتونکو څخه د دوی د پام وړ مرستې مننه کوو.



ډاکتره اورځلا نعمت

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری رئیسه

# د موضوعاتو لیکلړ


د لیکوال په اړه ..... ب

مننه ..... ج

سریزه ..... د

اجرایي لنډیز ..... ز

۱. پېژندنه ..... ۱

۲. څېړندود (Methodology) ..... **۵**

۱.۲ د څېړنځایونو غوراوی ..... **۵**

۲.۲ سیمه ییز کار ..... ۷

۳.۲ د جیوګرافیک شننې (تحلیل) ادغام ..... ۸

۳. غصب او آباد شوې ځمکې: د سویل لویدیځ دښتو ته کډوالي ..... ۹

۱.۳ نیول شوې او پلورل شوې ځمکې: د بغرا شمال په دښتو کې میشتیدنه ..... ۹

۲.۳ د بایرو مرزي سیمې پاچاهان: د بکوا په دښتو کې میشتیدنه ..... ۱۸

۴. بدلون: ټکنالوژي، نوښت او د بازار پراختیا ..... ۲۴

۱.۴ اوبو ته په لاسرسي کې د ټکنالوژي ونډه او د اوبو استخراج د لګښتونو راکمول ..... ۲۴

۲.۴ د انساني ځواک د لګښتونو د راکمولو نوښت ..... ۳۱

۳.۴ د بازار پراختیا ..... **۳۵**

**۵.** نا پایداره پراختیا؟ په پخوانۍ شاړه دښته کې د معیشت پر وړاندې ګواښ ..... ۴۰

۱.۵ زهرجنې اوبه: کمېدونکې او ککړې اوبه او د هغه اوږدمهاله اغېزې ..... ۴۰

۲.۵ له عروجه تر زواله: د کوکنارو د کښت سقوط ..... ۴۳

۳.۵ وړې بزګر: د یوه متخاصم او کوچېدونکي ولس ګواښ ..... ۴۹

۶. پایله ..... **۵۲**

# اجرايي لنډيز

د افغانستان په سويل لويديځ کې شاوخوا ۱،۴ میلیونه وګړي میشت دي چې معیشت یې تر ګوابښ لاندې دی. دا خلک د فراه ،نیمروز ، هلمند او کندهار پخوانیو دښتو کې اوسیږي. په ۱۹۹۰ میلادي کلونو کې، دغه سیمه په نیمروز ولایت کې د خاشرود له درې او د مارجې ولسوالۍ کتنې سیمې ماسیوا د استوګنې وړ نه وه او په پراخه کچه وچه او شاړه ځمکه وه.

د دښتې بدلون د کرزی د حکومت په لومړیو کلونو کې د ځایي زورواکانو او د هغوی د ملاتړو لخوا د ځمکو په غصب سره پیل شو. له دې وروسته بیا د کډوالو څو څپې دې سیمې ته راغلې، دوی یا هلته ځمکې ونیولې او یا یې هم رانیولې او په دې توګه په دغو سیمو کې په دایمي ډول میشت شول. په ۲۰۱۲ کال کې ، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د اردو د سرتیرو د زیاتیدو په پای کې چې ګڼ شمېر یې د افغانستان سویل لویدیځ ته واستول شول – هغه مهال په دغو پخوانیو دښتو کې ۱۵۷۰۰۰ هکتاره ځمکه د کرکېلي لاندې وه حال دا چې په ۲۰۰۲ کال کې په ۴۸۰۰۰ هکتار ځمکه کې کر کیده. نور وګړي هم دې سیمې ته د راتلو په حال کې ول: د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۹ کلونو په ترڅ کې ۴۸۰۰۰ نور کورونه په دغه دښته کې ودان شول او هر کال څه د پاسه ۹۲۰۰۰ وګړي په دې سیمه کې میشتیدل.

تر ۲۰۱۹ کال پورې، په لمریزې برښنا سمبال ژورو څاه ګانو د نصب په شمول د ټکنالوژیکو نوښتونو په مرسته، دغو خلکو یاده دښتي سیمه په بریالیتوب سره په ۳۴۴،۴۲۷ هکتاره کرهنیزه حاصلخیزه ځمکه بدله کړه چې په لویه برخه یې کوکنار کرل شوي ول.

هغه اقتصادي ګټې چې میشت شوي نفوس ته رسیدلې وې اړینې ګڼل کیدلې. د میشت نفوس ډیری یې د نږدې ولسوالۍ له اوبه ییزو ځمکو څخه یادې سیمې ته راغلي وو چیرې چې دوی د ونډه لرونکو کروندګرو یا اجاره نیونکو بزګرو په توګه ګمارل شوي ول، یا یې هم د نفوس ډیریدونکو فشارونو له امله چې د افغانستان ډیری کلیوالي سیمې ورسره مخ دي په کافي اندازه شخصي ځمکې نه درلودې.

یادې سیمې ته تګ د دغو خلکو اکثریت لپاره یو داسې فرصت و چې د لومړي ځل لپاره وکولای شي ځمکې ولري او د ځان لپاره د ژوندانه شرایط چمتو کړي؛ د میشت خلکو ډیر لږ شمېر یې د نوموړې سیمې د پریښودلو اراده لري. دغو بزګرو په یاده سیمه کې ځمکې هوارې او آبادې کړې، ژورې څاه ګانې یې په کې کیندلې، کورونه یې په کې آباد کړي، او هغه څه یې رانیولي چې ډیری یې په دغو سیمو کې د ژوند لومړنۍ اړتیاوې ګڼي: یو موټرسایکل ، یو جنراټور ، او یو شمېر د لمریزې برښنا تختې.

د یادې سیمې پر سختو شرایطو سربیره، نارینه په نوموړې سیمه کې د خپلو اصلي کلیو د ژوند په څېر په خپل ورځني ژوند بوخت دي، پر خپلو فصلونو پام کوي، خپل څاروي ساتي او د سیمې بازار ته ځي – دا بازار یو مهال په اوونۍ کې د ځایي سوداګرو د راغونډیدلو سیمه وه. اوس په دې بازار کې ګڼ شمېر هټۍ پرانیستل شوي چیرې چې د ځایي خلکو له خولې: په دې بازار کې تاسو کولای شئ داسې سوداګریز توکي وموموئ چې د هلمند ولایت په مرکز لښکرګاه کې یې پیرودلای نشئ. داسې بریښي چې د دغو وګړو ګڼ شمېر یې په دې سیمه کې میشت او ځای په ځای شوي وي.

د پالیسۍ موخو لومړنۍ اندیښنه باید په دغو سیمو کې د کډوالو میشتیدنې اوږدمهالو پایلو او پایښت په اړه وي. په دغو دښتو کې میشتې میرمنې د خپل ګوښیتوب، ژور خفګان او حتی ځان وژنو په هکله خبرې کوي چې له کورنۍ او ملګرو سره کابو هیڅ اړیکه نه لري چې په وچې دښتې کې د کرهنیز کار زیاتیدونکي بوج، او پوهنیزو او روغتیایي خدمتونو نشتون یې لامل کیږي.

سربیره پر دې، دا ټولنې په لوړه کچه د کوکنارو په تولید پورې تړلې دي، د هغو نغدو پیسو په شمول چې په مرسته یې د لوړ لګښت لرونکو کرهنیزو تخنیکونو په برخه کې پانګونه کیږي. په ورته ډول، د خلکو د هوساینې کچه د دوی د کوکنارو د نرخونو او حاصلاتو له کچې سره سم ښکته او پورته کیږي.

کله چې د کوکنارو د حاصل کچه راټیټیږي او فصلونه ښه پایله نه ورکوي(لکه څرنګه چې دا وضعیت له ۲۰۱۲ تر ۲۰۱۵ زږدیز پورې د څلورو پرله پسې کلونو لپاره دوام درلود ) ، نو دا ډول وضعیت پر کورنۍ عاید باندې د پام وړ اغیز لري. د کوکنارو ټیټ نرخونه هم (لکه د ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو په څیر ) ورته زیان رسونکی اغیز لري، ځکه نو کورنۍ دیته اړ باسي ترڅو د خوړو او روغتیایي خدمتونو لګښتونه کم کړي او د کرهنیزو لګښتونو کمولو لپاره د نویو او حتی خورا اغیزناکو ټکنالوژیو د کارونې په شمول ، د نویو لارو په لټه کې شي.

دا د کوکنارو حاصلاتو ټیټه کچه وه چې د لمریزې ټکنالوژۍ د پام وړ کارونې لامل شوه. د بې کیفیتو ډیزلو د کارولو د بیاځلي لګښتونو د راکمولو په موخه او همدارنګه د هغو زیانونو له امله چې دا ډول ډیزل یې جنراټورونو او پمپونو ته اړوي، بزګرو د لمریزې بریښنا د کارونې تجربه د ۲۰۱۴ زږدیز کال په لمړیو کې پیل کړه هغه هم په داسې وخت کې چې ګڼ شمېر بزګر د کوکنارو په فصلونو کې له زیانونو سره مخ ول.

په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې، په نوموړې سیمه کې څه د پاسه ۵۰،۰۰۰ زرو په لمریزې برښنا سمبالو ژورو څاه ګانو شتون درلود ،خو اټکلونه ښیي چې په ۲۰۱۹ زېږدیز کې د دغو څاه ګانو شمېر لږ تر لږه، ۲۳۰۰۰ زرو ته لوړ شوی و. د نوموړې ټکنالوژۍ اغیز او پخوانیو دښتو ته د خلکو دوامداره ورتګ د پام وړ دی.

د ځمکې لاندې اوبو کچه په لوړه اندازه راټیټېږي، دا ستونزه د کمزوري مدیریت له امله لاپراخېږي، لکه د اوبو زیرمو څخه تبخیر چې ډېری وختونه په لمریزې برښنا سمبال څاه ګانو له ستونزې او د ځايي خلکو له دې باور سره یوځای پېښېږي چې ګواکې «اوبه وړیا دي.»

د کیمیاوي سرې لوړ استعمال (- چې د کوکنارو لپاره اړین بلل کېږي اما په پخوانیو دښتو کې یې کارونه لا هم اړینه ده-) د ځمکې اوبه یې هم په ځانګړې توګه په سرې کې د نایټریټ موادو د ترکیب له امله ککړې کړې دي. د کوکنارو په کښت کې کیمیاوي درملو ته په پراخه کچه مخه کول به خامخا، هم پر چاپېریال او هم د انسانانو پر روغتیا ناوړه اغیز وکړي.

د افغانستان حکومت او پرمختیایي تمویلوونکي باید له دې اندېښنه ولري چې په دغو سیمو کې د پرمختګ نوې پوله به د څه لامل شي او تر ټولو اړینه دا چې هغو خلکو ته چې هلته اوسېږي څه پېښ شي. په ځینو سیمو کې، د ځمکې اوبه په نایټریټ ککړې شوي دي.

تر ټولو اړینه دا چې د ځمکې لاندې اوبو زیرمې (aquifer) د بیا ډکیدو څرنګوالي، وچیدو مهال او د وچیدو پایلو په اړه چې څه د پاسه د یو میلیون وګړو د ژوند او معیشت زمینه چمتو کوي خورا لږ پوهاوې شتون لري. د ځمکې لاندې اوبو کچه اوس مهال په کال کې تر ۳ مترو پورې راټیټېږي او هر کال ګڼ شمېر نور خلک دې سیمې ته راځي او په لمریزې برښنا سمبالې څاه ګانې نصبوي. د ځايي خلکو ترمنځ داسې ویره شته چې په چټکۍ سره به داسې وخت راشي چې په کې به کرهنیز تولید نور شونی (ممکن) نه وي او له امله به یې ډېر خلک نوموړې سیمه پرېږدي.

دلته دا پوښتنې راپورته کېږي چې که دا وګړي نور د خپلو کورونو لګښت، څارویو څښاک او همداراز د کرهنیزو فصلونو د خړوبه کولو لپاره اوبه ونلري، نو دوی به چیرته ځي؟ د دغو بزګرو اکثریت لومړی دیته اړ شوي ول چې یادې دښتې ته کډه وکړي، دوی د لاسرسي وړ اوبه بېزو سیمو څخه د جګړې او کوکنارو پر کښت د بندیز له امله تښتېدلي ول او په کلکه باور لري چې دوی ته د ځمکې د نلرلو او دولتي فساد له کبله پرمختیایي مرسته نه وه چمتو شوې.

نوموړي خلک چې په دغو پخوانیو دښتو کې میشت دي په سختو الفاظو د حکومت په اړه خپل نظریات څرګندوي او چندان باور نلري چې ګواکې د دوی لپاره دې په اوبه بېزو سیمو کې د پایداره پرمختیا ، یوه بېلګه (ماډل) شتون ولري.

که اوسنۍ اقتصادي هڅې ناکامې شي، آیا په دغو سیمو کې میشت وګړي به بیرته هغه ځایونو ته ستانه شي چې له کومه ځایه راغلي دي؟ آیا د دوی کرهنې او کورنیو ساتنې لپاره په کافي اندازه ځمکه شته؟ د طالبانو تر واک لاندې پر اوسیدو او له دولت سره د لږې مینې درلودلو سربېره - آیا دا راستنیدونکي به د دولتي چارواکو په وړاندې تحریک نشي؟ ښایي ځینې به یې ښارونو ته لاړ شي او په دې توګه به هلته د نفوس فشار ډېر کړي. آیا د کډوالو د جذب او ادغام لپاره دندې، استوګن ځایونه او خدمات شتون لري؟ په ځانګړې توګه په کابل کې چیرې چې د ځمکې لاندې اوبه لا دمخه د کمیدو له ګواښ سره مخ دي.

بالاخره، د دې ګواښ به څه وي که دا ۱،۴ میلیونه وګړي (او نور یې د سویل لویدیځ هاخوا پخوانیو دښتو کې) بهر ته قاچاقي ولاړ شي؟ او له هغو نورو افغان کډوالو سره یوځای شي چې لا دمخه یې افغانستان پرېښی ، او ځانونه په ایران ، ترکیه او اروپا کې د کډوالو په توګه ومومي.

دا څېړنیز سند د تیرو څه د پاسه لسو کلونو ساحوي کار ته په کتو چمتو شوی او په کې له لیرې لار څخه اخیستل شوو لوړ کیفیت لرونکو انځورونو او هراړخیز ساحوي کار څخه ګټنه شوې ده چې هغه بهیرونه انځوروي کوم چې د سوېل لویدیځ د دښتو د غصب ، آبادولو او بدلون لامل شوې دي.

دا سند په مستند ډول دا ښیي چې څنګه دغو سیمو ته کډوالۍ د وخت په تیریدو او موقعیت په تفکیک سره توپیر موندلای او همداراز په تفصیل سره دا څېړي چې څه ډول دغه وچې دښتې په دایمي میشت سیمو بدلې شوې. نوموړې څېړنه بیا د دې ثبوت هم وړاندې کوي چې د پخوانیو دښتو ګړندی بدلون په دغو سیمو کې پر میشتو خلکو باندې څنګه اغیز کړی دی او بله دا چې د دوی د معیشت اوږدمهاله پایښت پر وړاندې ګواښونه څه دي.

په پای کې، یاد څېړنیز سند د هغو اړینو اقداماتو د ترسره کولو وړاندیز کوي کوم چې په دغه دښتو کې پر میشتو خلکو د فشارونو کمولو لپاره باید ترسره شي: نه یوازې هغه لاملونو ته د رسیدنې په برخه کې وړاندیز کوي چې دغو پخوانیو دښتو ته د کډوالۍ لامل کېږي بلکې په افغانستان دننه، ګاونډیو هیوادونو او نورو ملکونو ته د خلکو د پراخې بې ځایه کیدنې احتمال او د هغې د راتلونکي اغیز د راکمولو په موخه، د هغو مداخلو وړاندیز هم کوي چې ښایي په یادو سیمو کې د میشتو خلکو اقتصادي، ټولنیزې او چاپېریالي ننګونې کمې کړي.

# ۱. پېژندنه

د افغانستان د ناکامي په اړه د رسنيېزو راپورونو تاييد چې د «افغانستان له ورځپاڼو» سره تړاو لري د لويديځوالو د اغراق روايت دی: په داسې يو هيواد کې د مالي او ځاني قربانيو ضايع کول چې د کابو شلو کلونو په لړ کې د لويديځو مرستندويه هېوادونو لخوا د ملياردونو ډالرو پانګونې سربيره لاهم بدل شوی نه دی.[۱] - دا بحث د پاليسۍ او خپرونې پر ناکامۍ څرخي: په دې اړه چې ګواکې په افغانستان کې په پراخه کچه د پيسو لګښت سربيره، بيا هم لږشمېر لاسته راوړنې ترلاسه شوي دي.

ښايي د دې بحث څرنګوالي ته په پام سره، چې په افغانستان کې د پرمختګ اندازه کولو لپاره د معيارونو دقت او اغيزمنتيا په اړه پوښتنې راپورته شوي وي، او د حکومتي چارواکو پر وړاندې د دروغو او اغراق تورونه لګول شوي وي، په دې وړانديز سره چې دوی په هغه ځای کې د برياليتوب په هکله د راپور ورکولو په لټه کې ول په کوم ځای کې چې ثبوتونه برعکس ول.[۲]


حال دا چې لږ شک شته چې ګواکې د مالي او ځاني سرښندنو د ضايع کولو په تورونو کې يو څه حقيقت شتون لري ، خو دا په افغانستان کې يوازنۍ له واقعيت څخه ليرې کيسه ده. د رسنيو د سرليکونو هاخوا ، په دې هيواد کې ښلابښلې لاسته راوړنې تر سترګو کيږي. په داسې حال کې چې روښانه ناکامي شتون لري ، د افغانستان داسې برخې هم شته چې په تيرو لسيزو کې په پيژندنې نه وړ سيمو بدلې شوي، دا هغه ځای دی چيرې چې د هوکړې، نوښت او اقتصادي پرمختګ پياوړي ثبوت شتون لري.

سربيره پر دې ، د افغانستان د اقتصاد ، سياسي سيستم او امنيت عمومي فعاليت د لويديځ له لاسوهنو سره په مستقيم ډول تړاو ورکولو ته ليوالتيا - لکه څنګه چې ډيری د ارزونې سيستمونه دا ډول ميلان لري- د پراختيا او ارزونې په وړاندې تقليل پاله او برخليک پيژانده کړندود غوره کول دي ، حال دا چې په دې برخه کې په پراخو ټولنيز-اقتصادي ، سياسي او چاپيريالي بهيرونه باندې سترګې پټيږي او د افغانستان د دولت او خلکو فعاليت له پامه غورځول کيږي . په دې باور کول چې پرمختيايي بريا يا ناکامي تر ډيره حده د لويديځو هڅو او مالي مرستو فعاليت دی، په اصل کې د افغانستان اقتصاد او د خلکو تحرک په اړه ناسم پوهاوې بلل کيږي.

دا ځيرنه د افغانستان د سويل لويديځ اړوند پخوانې دښتې ځيري؛ دا سيمه د ۲۰۰۱ زيږديز کال په وروستيو کې د طالبانو رژيم د نسکورېدو پرمهال شاړه او شنډه ځمکه وه. دا هغه سيمه ده چيرې چې لږې مستقيمې لاسوهنې شوي دي او حتی په کې پوځي هڅې محدودې وې. اما دا هغه سيمه ده چې لږترلږه په لنډه موده کې يې د دولت جوړونې پروژې له غير مستقيمو ګټو څخه له زيربنا نه نيولې بيا تر ټکنالوژۍ ، بازارونو او پوهې ته د غوره لاسرسي پورې په تيرو دوو لسيزو کې د پام وړ ګټنه کړې ده چې د هېواد په هر ګوټ کې د نړيوالو هڅو په پايله کې رامنځته شوي دي.

د خورا وچ چاپيريال درلودونکو سيمو په توګه، چيرې چې په دوبي کې د تودوخې درجې تر۵۰ سانتي ګراده رسيږي ، دا سيمې په هلمند کې د اوبو لګونې لويو بهيرونو څخه لويديځ لوري ته غزيږي چې د متحده ايالاتو حکومت لخوا په ۱۹۷۰ او ز۱۹۸۰کلونو کې تمويل شوي دي، په نيمروز ولايت کې د خاشرود له سيند او د بکوا ولسوالۍ د دښتو له هوارو ځمکو څخه تيريږي او د فراه بالا بلوک ولسوالۍ په څنډه کې د لور کوه په غونډيو کې ختميږي (لومړۍ انځور وګورئ). دا کابو ۲،۳۱۵ کيلو متره مربع ساحه ده چې په ۲۰۰۳ زيږديز کال کې يې يوازې د ۲۱۰۰۰ هکتاره کرهنيزه ځمکه درلوده چې دا ټوله ځمکه د خاشرود سيند او په بکوا ولسوالۍ کې د کاريزونو د پاتې شويو برخو پر غاړه پرته وه.

لکه څرنګه چې د افغانستان د دولت جوړونې پروژه په ۲۰۰۵ زيږديز کې پيل شوه - وروسته له هغې چې حامد کرزی د افغانستان په لومړيو ډيموکراتيکو ټاکنو کې ولسمشر وټاکل شو او کله چې د پراختيايي مرستو کچه په ډراماتيک ډول لوړه شوه - د هلمند، خاشرود او فراه رود سيندونه د اوبه ييزو درو هاخوا ، د ژوند لږ څرک ليدل کيده. يوازې څو سوه کورنۍ وې چې د کورونو او ځينې کرهنيزو ځمکو په لټه کې وو چيرې چې دوی وکولای شي ځان ته د ژوندانه شرايط چمتو کړي. دا هغه ناهيلي خلک ول چې په اوبه ييزو درو کې له وچکالۍ ، د نفوس فشارونو او په خپل کليو کې د ځمکو له نشتون څخه تښتيدلي وو ، په دې هيله چې دوی به ښايي وکولای شي چې خپل اړين ضرورتونه پوره کړي- او د دې دښتې په سخت اقليم کې لږ تر لږه خپله ځمکه ولري.




لومړی انځور: دا انځور ۲۰۰۲ او ۲۰۱۹ زیږدیزو کلونو په ترڅ کې
په سوېل لویدیځ کې د کرهنیزې ځمکې پراختیا ښیي.
سرچینه: السیس کمپنی.


په هرصورت، دا وضعیت په بدلون پیل وکړ او په ۲۰۰۹ زیږدیز کال کې ، د دې پخوانۍ دښتې شاوخوا ۱۰۱،۰۰۰ هکټاره سیمه په کرهنیزه ځمکه بدله شوه. د لوی نفوس د ادغام ډیریدونکي نښې هم موجودې وې: د کورونو ډیری ودانۍ جوړې شوې وې، ژورې څاه ګانې کیندل شوې وې ، او یو شمیر اوونیز بازارونه رامنځته شوي ول چیرې چې د ولسوالۍ مرکزونو او د اوبه ییزو سیمو ته د تګ پر ځای، د دې سیمې میشت وګړي وکولای شي چې د اړتیاوړ توکي وپیري.

په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې، دا پخوانې دښتې سیمې د پیژندلو وړ نه وې. نور نو په دې پراخه دښتې کې محدود شمېر ګوښې کروندې نه وې. پرځای یې، ټوټه ټوټه کرهنیزو ځمکو شتون درلود چې له هوا څخه کابو د نادعلي ، مارجې او نهر سراج ولسوالیو په څېر ښکاره کیدلې کومې چې د هلمند او ارغنداب درې پروژې په مرسته د جوړ شوي لوی کانال بهیرونو لخوا اوبه کیږي. دایمي بازارونه هم جوړ شوي ول. د ۱۲۰۰ متر مربع پورې د اوبو زېرمو په شمول، د لمریزې بریښنا په برخه کې له پانګونو وروسته ، په دې سیمه کې شاوخوا ۱۴۱۰۰۰ زره کورني او کابو ۱،۴ میلیونه وګړو شتون درلود (دوهم انځور وګورئ)[۳]

دې څېړنیز سند په دغو سیمو کې د اوږدې مودې څېړنې راخیستې چې په مرسته یې د دې ټولنو پایښت وارزوي. دا سند په پنځو برخو وېشل شوې دی. بله برخه د تفصیلي سیمه ییز کار او د لوړ کیفیت لرونکي سټلایټ انځورونو جوړښت په ګوته کوي چې د ناقانونو فعالیتونو په هکله په لیرې پرتو او ناامنه سیمو کې د څیړنې ترسره کولو ډیری ننګونې له مخه لیرې کوي. دریېمه برخه د تیرو دوو لسیزو په اوږدو کې د افغانستان د سویل لویدیځ پخوانیو دښتو د سیمو نیول او آبادول، د هلمند د بغرا کانال د شمال سیمه او د فراه او نیمروز د بکوا دښتې سیمه یو له بل سره د پرتله کولو له لارې، په تفصیل تشریح کوي.

څلورمه برخه د دغو سیمو بدلون څیړي: د ټکنالوژیو نوښت او کارونه چې په یوه شاړه ځمکه کې یې د کرهنیزو محصولاتو په تولید کې مرسته کړې ده او دا ښیي چې دې کړنې په هغه سیمه کې پر میشتو خلکو څه ډول اغیز کړی دی. پنځمه برخه د ټولنیز، اقتصادي او چاپیریالي پام وړ بدلون پایلې څیړي چې په دغو سیمو کې رامنځته شوي دي. دا سند هغه ټکنالوژیک نوښتونه هم مستند کوي چې پلې شوي، اغیز او اوږدمهاله پایښت یې ارزوي او همداراز احتمالي سناریو ګانې یې په ګوته کوي که چیرې په یادو سیمو کې د پرمختیا شته ښېګڼه، نادوامداره ثابته شي. په پای کې ، شپږمه برخه د موضوع اړوند پایله او وړاندیزونه وړاندې کوي.

۳ دا اټکل د نوموړې دښتې په سیمه کې د ۱۴۱،۷۱۴ کورونو شمېر او په اوسط ډول د لسو تنو غړو د کورنۍ اندازې پر بنسټ دی.




دوهم انځور: دا جیوګرافیک شننه د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په لړ کې د افغانستان
د سوېل لویدیځ دښتو په سیمو کې د کورونو شمېر ښیي.
سرچینه: السیس کمپنی.

# ۲.    څېړندود (Methodology)

دا راپور د یوې لسیزې څېړنې سربیره چمتو شوی چې د دښتي سیمو په اوږدو کې په شلو څېړنځایونو کې ژور سیمه ییز کار او لوړ کیفیت لرونکي انځورونه سره ترکیب کړي چې دغه دښتې د هلمند د بغرا کانال له شماله تر بکوا او د بالا بلوک تر پوله غزیږي.

په سیمه ییز کار کې له کلیوالي کورنیو سره ۱۴۱۸ مرکې او دغو ټولنو ته د خدماتو چمتو کوونکو ترمنځ د اضافي معلوماتو راټولول شامل وو. په ټوله کې ، د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۸ زیږدیز کلونو په لړ کې د هلمند ولایت د بغرا کانال شمال په اتو څېړنځایونو کې له بزګرو سره **۸۵۳** مرکې او د فراه ولایت په بکوا کې په دولسو څېړنځایونو کې له کروندګرو سره **۵۱۳** مرکې ترسره شوي. ۴


هر کال، په لښکرګاه ، ګرشک ، فراه او دلارام ښارونو کې د یادو سیمو خلکو ته د لمریزې برښنا تختو ، ډیزل ، آفت وژونکو درملو له پلورونکو او د ژورو څاه ګانو د کیندلو برمو له اجاره ورکوونکو سره ۴۰ نورې مرکې ترسره شوي. په ۲۰۱۸ زیږدیز کې، د څېړنې ساحوي کار، د هلمند د بغرا شمال د پخوانیو دښتو په سیمو کې له میشتو میرمنو سره د **۵۲** نورو مرکو په ترسره کولو سره بشپړ شو. په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ زیږدیز کلونو کې د اوبو نمونې هم د دواړو سیمو له ژورو څاه ګانو څخه واخیستل شوې ترڅو د کیمیاوي او بیولوژیکي ترکیباتو لپاره وازمول شي.

دا سیمې څېړنه د هلمند په کانال اوبه ییزه سیمه کې چې د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۲ زیږدیز کلونو په ترځ کې د هلمند خوړو زون په نوم یادیدله د موازي سیمه ییز کار لخوا یې لا هم ملاتړ وشو. په ټولیز ډول، په دې لړ کې د خوړو زون په سیمه کې له میشتو کورنیو سره ۱،۷۸۰ مرکې ترسره شوې. د معلوماتو په دغه دوهمه ټولګه کې ځینې داسې مرکه کوونکي شامل دي چې په پخوانیو دښتي سیمو کې یې استوګنه درلوده یا یې هم د کورنۍ غړي په موسمي یا دایمي ډول هلته ژوند کوي.

## ۱.۲    د څېړنځایونو غوراوی

څېړنځایونه د یو لړ معیارونو پر بنسټ غوره شول. د څېړنځای د غوراوي لپاره تر ټولو اړین معیار په یاده سیمه کې د اوسېدو نیټه او موده وه، ځکه چې دا به د هغو انګیزو د ښه پوهاوي په برخه کې مرسته وکړي چې پخوانیو دښتي سیمو ته د کورنیو کډوالۍ او میشتیدنې لامل شوي او بله دا چې دا حالت د وخت په تیریدو سره څنګه توپیر کړی. د دې چارې لپاره، د جیوګرافیک انځورونو د سیستمونو شننه اړینه وه او په کې د زرغونو سیمو نورمال توپیر پر شاخص بیاکتنه شامله وه. دا د کرهنیز فعالیت سنجش دی او په دې ډول یې د دې فرصت چمتو کړ ترڅو یو شمېر احتمالي څېړنځایونه په هماغه کال غوره شي چې د کرهنیز تولید لاندې راغلي (دربیم انځور وګورئ). بیا پر لوړ کیفیت لرونکو انځورونو باندې بیا کتنه وشوه ترڅو د کښت کچه او د کورونو شتون او داسې نورې ځانګړتیاوې وارزول شي.

د څېړنځای غوراوي دوهم پړاو له ځایي څېړونکو سره په ګډه د لومړني نوملړ (لیست) بیاکتنه او د څېړنځایونو پر لاسرسي باندې غور کول و. په دغو سیمو کې امنیتي وضعیت ننګونکی دی: بلواګرو په دغو سیمو کې خپل دوامداره شتون ساتلی او هغه وګړي چې هلته میشت دي پر بهرنیانو شک لري. د څېړنې لپاره، هغه ځایي څېړونکي په دنده وګمارل شول چې د یادې سیمې په اړه یې ښه معلومات درلودل او په ټاکل شویو څېړنځایونو کې اړیکې لرلې. په هغو سیمو کې چې ځینې څېړنځایونه احتمالاً د لاسرسي نه وړ سیمو په توګه تثبیت شوي ول، د لاسرسي نه وړ څېړنځای له بل داسې ځای سره بدلیده چې د میشتیدنې کال له پلوه یې، ورته مخینه درلوده. په دې توګه، دا ډاډ ترلاسه شو چې کافي شمېر څېړنځایونه د میشتیدنې له مختلفو نیټو سره شتون ولري.




دربیم انځور: دا انځور د بغرا شمال او بکوا دښتو کې د ځیرنځایونو
نقشه او هغه کلونه ښیي چې دغو ځمکو په کرهنیز تولید پیل کړی
سرچینه: السیس کمپنی.

## ۲.۲ سیمه ییز کار

لکه څنګه چې په اړه یې پورته یادونه وشوه، سیمه ییز کار د ځایي ځیرونکو ډلې لخوا ترسره شوی و چې د نوموړو دښتي سیمو په اړه یې کافي معلومات لرل او د څه پاسه یوې لسیزې راهیسې یې د مخکښ څیړونکي او لیکوال ډاکټر ډیویډ منسفیلډ سره له نږدې کار کړی وو. د ناقانونه یا پټو فعالیتونو په څېړنې پورې اړوند د ذاتي ستونزو رامنځته کیدو د مخنیوي لپاره، یاده څیړنه د کورنیو د معیشت پر ستراتیژیو باندې تمرکز درلود. پر افغان حکومت د هغه فشار له امله چې د کوکنارو کښت او سوداګرۍ پر وړاندې باید اقدام وکړي، د ۱۹۹۰ ، او ۲۰۰۰ لمړیو کلونو په پرتله، ناقانونه مخدره توکي یې د بزګرو او نورو شریکانو ترمنځ د بحث وړ په یوه خورا حساسه موضوع بدله کړې ده.

په هرصورت ،د کوکنارو ملي اقتصاد ته د کتنې پر مهال، کلیوالي کورنۍ تر ټولو د لاسرسي وړ واحد په توګه پاتې کیږي، ځکه چې دا د کلیوالي معیشت په اړه د نورو کارونو او په نورو څیړنو کې په افغانستان او نورو هیوادونو کې د کوکنارو تولید د ځانګړی ونډې په هکله د نورو موندنو لپاره یو اساس چمتو کوي.

نارینه مرکه کوونکي په اصلي سیمه کې د مرکو لپاره غوره شوي وو. د څیړنې په سیمو کې د ټولنیز - اقتصادي تنوع او د کورنیو بیلابیلو تجربو د ترلاسه کولو لپاره، ځایي څیړونکو په هر څیړنځای کې د ځمکو خاوندانو له یو شمېر بېلابېلو ډلو سره مرکې کړې: (i) بې ځمکو یا لږو ځمکو خاوندان -دا هغه کسان دي چې ځمکه نلري یا د خپلو کورنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره کافي ځمکه نلري ځکه نو د نورو په ځمکه کې د اجاره نیونکو کروندګرو یا ونډه لرونکو بزګرو په توګه کار کوي؛ (ii) ځمکه لرونکي کروندګر - دا هغه کسان دي چې د خپلو کورنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره کافي ځمکې لري؛ او (iii) د ځمکو خاوندان- دا هغه کسان دي چې له خپلو اړتیاوو څخه زیاتې ځمکې لري نوځکه نور کسان د اجاره نیونکو یا ونډه لرونکو کروندګرو په توګه د خپلو ځمکو لپاره په کار ګماري .

له نارینه وو او ښځینه وو مرکه کوونکو سره بحثونه د مرکه کوونکو او د دوی کورنیو پر مستقیمو تجربو باندې متمرکز ول، نه په یوې پراخې جغرافیوي ساحې کې پر پیښو او ښکارندو باندې چیرې چې ځوابونه تر ډیره د حدس او ګمان تر بریده وي.۵ له نارینه مرکه کوونکو سره انفرادي مرکې په کروندو کې ترسره شوې ځکه چې دوی له خپلو فصلونو ساتنه کوله. د کور په انګړ کې د مرکو ترسره کول کیدای شي د لاسوهنو او تعصب تر اغیز لاندې راشي. له کروندګرو سره له ډله ییز بحثونو مخنیوی شوی، ځکه چې دوی د ټولنې نخبه ګانو تر حاکمیت لاندې دي اودا ډول بحثونه د کوکنارو د کښت په څېر د حساسو مسایلو لپاره مناسب نه بلل کیږي. او د افغانستان په کلیوالي سیمو کې ، په ځانګړي توګه په سویل کې ، د مرکه کوونکو او څیړونکو لپاره د امنیت ګواښ تر ډیره بریده څرګندوي.

له میرمنو سره مرکې د پلار او لور ډلې لخوا ترسره شوې. دې څیړنې په هغو کورنیو تمرکز درلود چې د بغرا کانال په شمال کې په نوموړو سیمو کې په موسمي ډول یا هم د کانال په شمال کې د یو څو کلونو لپاره ژوند کړی وو، خو په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې بیرته د کانال اوبه ییزې سیمې ته بیرته تللي ول. د دې تمرکز دلیل عملي جنبه درلوده. ناامني او په هلمند کې د بغرا شمال او په بکوا کې د میرمنو پر تګ راتګ باندې کلتوري محدودیتونو، څیړنځای ته د مناسب تعلیم یافته ښځینه څیړونکې لیږل ناشونی کړ. پرځای یې ، څیړنې باید د هلمند کانال په اوبه ییزه سیمه کې ترسره شوې وې ، په دې لړ کې د هغو کورنیو ښځینه غړي په نښه کول چې د بغرا شمال کې د کوکنارو کښت د فصل راټولولو پای ته رسیدو وروسته د پخوانۍ دښتې سیمې څخه راستانې شوې وې. دا منل شوې چې دغه خورا محدوده نمونه د هغو میرمنو له نظرونو استازیتوب نکوي چې د کال په اوږدو او په دایمي ډول په دې سیمه کې ژوند کوي .

په هرصورت، په یادې څېړنې کې د څو میرمنو شمولیت کوم چې په دې وروستیو کې هلته د څو کلونو ژوند وروسته د کانال لاسرسي سیمې ته راستنې شوې وې او د بغرا په شمال کې یې خپلې کروندې پریښې وې، د هغو میرمنو ژوند ته یو لنډه کتنه ده چې په دغو دښتي سیمو کې په دایمي ډول ژوند کوي.

د څیړنې دې برخې یوې اړینې خو په سختۍ د لاسرسي وړ ډلې ته ارزښناک لید (پوهاوی) چمتو کړی کوم چې د پخوانیو دښتي ځمکو لپاره د کار ځواک، لازمي برخه ده او د دغو دښتو د آبادولو او کرلو لپاره اړتیا لري او ښایي هلته د موسمي او دایمي کډوالۍ په اړه پر پریکړو او غوره شوي معیشت باندې یو څه واک ولري.

د څېړنې سیمه ییز کار د کوکنارو د کښت او د کښت فصل د راټولولو پر مهال ترسره شوی چې په دې وخت کې مرکه کوونکي د تیر فصل له کرنې او مالي پایلو څخه خورا ډیر خبر وي او بزګر هم په فعاله توګه پریکړه کوي چې په راتلونکې کې څه وکري. په ځمکه کې د کوکنارو د فصل ښکاره شتون، څیړونکو ته هم دا اجازه ورکوي ترڅو د بزګرو د ځینو ځوابونه صحت تایید کړي او که اړتیا وي ، سمدلاسه مرکه کوونکو ته ووایي چې دوی په کوم ځای کې د کرکیلې او د کښت کچې په اړه په بشپړه توګه رښتینې نه ول.

په پای کې ، له ۴۰ ژورو ځاګانو څخه د اوبو نمونې راټولې شوي چې له دې جملې څخه ۲۰ یې په بکوا کې له ۱۲ څېړنځایونو څخه او ۲۰ نور یې د هلمند د بغرا په شمال کې له اتو څېړنځایونو څخه دي. د نمونو دواړه ټولګې کابل ته لیږدول او ټسټ شوي دي. له هلمند څخه د اوبو نمونې د کیمیاوي او بیولوژیکي ترکیباتو لپاره وآزمول شوي، خو له بکوا څخه د اوبو نمونې یوازې د کیمیاوي ترکیباتو لپاره ازمایل شوي ځکه چې د دې امکان شتون نه و چې دغه نمونې له څېړنځای څخه راټولې او د ۲۴ ساعتونو په ترڅ کې کابل ته ولیږدول شي.

## ۳.۲ د جیوګرافیک شننې(تحلیل) ادغام

د څېړندود یو بل اړین عنصر د لوړ کیفیت لرونکو انځورونو کارول و. لکه څنګه چې یې پورته په اړه بحث شوی، جیوګرافیک اطلاعات د څېړنځایونو د تثبیت لپاره کارول شوي. په هرصورت، دا یوازینی کړندود نه و په کوم کې چې له لیرې لارې د سنجش اطلاعات کارول شوي. د سپوږمکۍ (سټلایټ) په واسطه اخیستل شوي لوړ کیفیت لرونکي انځورونه هم په دې موخه کارول شوي ترڅو دا تایید کړي چې آیا سیمه ییز کار کونکي ټاکل شویو څېړنځایونو ته تللي او همداراز په دې موخه هم چې د لومړنیو معلوماتو صحت وڅېړي.

له مخکښ څېړونکي سره بحثونه د هر څېړنځای او شاوخوا چاپیریال له لارې خبرې کول شامل و، د نقشې او تاریخي انځورونو په ګټېنې سره چې د وخت له تیریدو سره سم بدلون ښيي. دا ډول انځورونه د ځايي ښکارندو (پدیدو) لکه پر کرکیلې د ناامنۍ اغیز، د شته فصلونو تثبیت، د خاورې مالګې کچه او نویو یا زیانمن شویو فزیکي زیربناوو په اړه د مفصلو خبرو زمینه پیاوړې کړه. انځورونو هم مرسته وکړه ترڅو د دغو ښکارندو له جملې څخه ګڼ شمېر یې وسنجول شي.

په پای کې، جیوګرافیکه شننه (تحلیل) پخپله د څېړنځایونو هاخوا په پراخه جغرافیایي سیمه کې څېړنیزې موندنې استنتاج کړي. د بېلګې په توګه ، چیرې چې ښکارندې په څو څېړنځایونو کې عملاً تثبیت شوې، انځورونه د دې کچې ارزولو لپاره کارول کیدلای شول چې آیا دا حالت په ټولو څېړنځایونو او پراخه سیمه کې عام و. د دې یوه بېلګه په لمریزې برښنا سمبال ځاګانو نقشه کول و: د زیرمتون او لمریزو تختو د ځانګړتیا د تثبیت په مرسته، دا هغه ښکارنده وه چې کولای شول د سپوږمکۍ په واسطه د اخیستل شویو لوړ کیفیت لرونکو انځورونو په کارولو سره په اسانۍ وموندل شي او د فریکونسۍ ارزونه کولای شي د کابو ۱۰۰۰ کیلومتره مربع پر ساحې باندې ترسره شي.

# ۳. غصب او آباد شوې ځمکې: د سویل لویدیځ دښتو ته کډوالي

د افغانستان په سویل لویدیځ کې د پخوانیو دښتي سیمو د غصب بهیر په نږدې اوبه ییزو سیمو کې د میشتیدنې اصلي نمونې پر بنسټ په پراخه کچه تو پیر کړی دی. د دې بهیر، مرکزي برخه د مالکیت سیمه ییز روایت دی. د افغانستان قانون پر خلاف، په داسې حال کې چې دا ځمکې د دولت ملکیت دی، خو ځایي او هغه وګړي چې د دې سیمې اصلي ټولنې ګڼل کیږي پر دغو ځمکو د دودیزو حقونو (دودیز مالکیت) ادعا کوي او دې سیمې ته له «بهر» څخه د نورو سیمو د کسانو د ننوتو مخه نیسي، حتی د هغو وګړو د ننوتو مخه نیسي چې ښایي په نږدې اوبییزو ځمکو کې یې د ډیرو نسلونو لپاره ژوند کړی وي. د ځېړنې دا برخه د هلمند د بغرا کانال شمال او د بکوا د پخوانیو دښتي سیمو د غصب او میشتیدنې بهیر سره پرتله کوي.

## ۱.۳ نیول شوې او پلورل شوې ځمکې: د بغرا شمال په دښتو کې میشتیدنه

د مرکزي هلمند دښتې لا دمخه په **۱۹۵۰** ، **۱۹۲۰** او **۱۹۷۰** زیږدیز کلونو کې د افغانستان د دولت لخوا بدلې شوې وې. په دې موده کې، د هلمند او ارغنداب درې ادارې د متحده ایالاتو د مالي ملاتړ او تخنیکي همکارۍ په مرسته په **۱۹۷۵** زیږدیز کال کې شاوخوا **۲۰،۱۰۰** هکتاره پخوانۍ دښتې ځمکه په ناد علي او مارجه ولسوالیو کې تر کرهنیز تولید لاندې راوستله او کابو **۵۵۰۰** کورنۍ یې په کې میشتې کړې.[۲] په دې سیمه کې له ننګرهار، لغمان، وردګو، غزني او فراه ولایتونو څخه د وګړو په ګډون د میشتو وګړو اکثریت، غیرهلمندي شپانه او بزګر کوچیان ول. کومه ځمکه چې دوی ته ورکړل شوې وه د نوي جوړ شوي بغرا کانال سویل ته یو پخوانۍ دښته وه، د بغرا کانال سویل لویدیځ لوري ته د نهر سراج د سنګچل له کلي څخه د مارجې ولسوالۍ سویل لوري ته څه د پاسه ۱۰۰ کیلو متره یوري بهیده او ختیځ لور ته له تګ څخه مخکې په ناوا بارکزۍ سیمه کې د هلمند سیند سره یوځای کیده.

په دغه وخت کې، دغه غیرهلمندي میشته ټولنې چې په دې سیمه کې د" ناقلینو "په توګه پیژندل کیدل، داسې ویل: کله چې هلمندي قومونو ته د دولت لخوا د ناد علي او مارجې ولسوالیو پخوانیو دښتو د آبادولو وړاندیز وشو، دوی د دغو دښتو د نیولو په اړه بې میلي وښوده. خرابه خاوره ، د ځمکې په هوارولو کې پاتې راتلل او په خاور کې د مالګې شتون د کمو کرهنیزو حاصلاتو لامل شو او د میشت کډوالو لپاره یې د میشتیدنې لومړي کلونه ستونزمن کړل.

ځینې میشت وګړو حتی د کمو محصولاتو او سخت ژوند له امله دغه سیمه پریښوده.[۷] کله چې نورزي، بارکزي او اسحاقزي مجاهدینو قومندانانو له ناقلینو پریښول شوې او نوې ځمکې - پخوانۍ دښته او ځنګل – په ناد علي او مارجې ولسوالیو کې قبضه کړې، په **۱۹۸۰**مو زیږدیزو کلونو کې د کورنۍ جګړې پر مهال په دغو سیمو کې د ځمکو د ترلاسه کولو لومړنۍ نا لیوالتیا له پامه وغورځول شوه.

په **۱۹۹۰**زیږدیزو کلونو کې د پخوانۍ دښتې نوره ځمکه د سیمې له اصلي ځواکمنو قبایلو څخه د سیاسي-پوځي لوبغاړو لخوا ونیول شوه، په ځانګړې توګه، شمالي علیزي چې د ملا نسیم اخوندزاده د ولایت مقام له لارې او د هغه د ورور رسول له خوا ،د نسیم د وژنې په تعقیب یې په مرکزي هلمند کې زیات نفوذ ترلاسه کړی وو. په مرکزي هلمند کې د ځمکو دغه غصب د نادعلي او مارجې ولسوالیو د میشت سیمو سیاسي جغرافیه بدله کړه او هغه ناقلین یې لا څنډې ته کړل کوم چې د حکومت لخوا سیمې ته د پخوانۍ دښتې ځمکو د کرلو او د هلمندي ځواکمنو قومونو، په ځانګړې توګه د علیزیو ، اسحاقزیو او نورزیو د نفوذ د کمزوره کولو په موخه راوړل شوي ول.[۸]

کله چې فرصت رامینځته شو، ټکنالوژۍ او د کوکنارو نرخونو کرهنه ګټوره کړه؛ په مرکزي هلمند کې د ځواکمن دریځ په لرلو او د دښتې ځمکې په کرهنیزه ځمکو بدلولو په بریالۍ نمونې سره، د هلمند اصلي ځایي قومونو د بغرا کانال په شمال کې د دښتې ځمکو په آبادولو کې هیڅ ډول نالیوالتیا ونه ښودله. په حقیقت کې، د بغرا په شمال کې پخوانۍ دښتې سیمې د کډوالۍ له څو څپو سره مخ شوې دي، چې د ځمکو د کروږ ګرځولو په برخه کې تر ټولو بریالۍ څپه یې، په مرکزي هلمند سیمه کې پر کوکنارو د بندیز لګولو سره سم رامنځته شوه (څلورم او پنځم انځورونه وګورئ).

۲ فریدون شیرزی، غلام فاروق او ریچارډ سکاټ ، د هلمند درې د فارمونو **۱۹۷۵** کال اقتصادي سروې ، (کابل: د امریکې متحده ایالاتو پرمختیایي مرستو اداره/دي، پي، **۱۹۷۵** کال)، شپږم مخ (شپږمه پاڼه) http://scottshelmandvalleyarchives.org/docs/fes-۷۸-۰۳.pdf

۷ ریچارډ سکاټ ، «د هلمند په درې کې قومي او توکمیزې ډلې.» (د مهالنۍ خپرونې ۲۱ ګڼه ، آسیا ټولنه ، ۱۹۸۰ کال)

۸ ډیویډ منسفیلډ، پر شګو جوړ شوی دولت: څرنګه تریاکو افغانستان ویجاړ کړ (اکسفورډ: اکسفورډ پوهنتون مطبعه، ۲۰۱۲) ۲۴۹ مخ

د کډوالۍ لومړۍ څپه د ۱۹۹۰ مو زیږدیز کلونو په وروستیو کې د طالبانو رژیم پر مهال رامنځته شوه خو دا څپه د شمېر له پلوه ډېره محدوده وه. په یادې څپې کې له واشیر او نوزاد ولسوالیو څخه کروندګر شامل وو چې له اوږدې وچکالۍ د تیښتې په لټه کې ول. دغو کډوالو د ۱۹۹۰ مو زیږدیزو کلونو په وروستیو کې د شورابک شاوخوا څو سوه هکتاره ځمکه قبضه کړه او د خپلو ځمکو د خړوبولو لپاره یې د یاد کانال له پمپونو څخه کار اخیسته.

د بغرا سیمې شمال ته د کډوالۍ دوهمه څپه په ۲۰۰۲ زیږدیز کال کې د طالبانو تر رانسکورېدو وروسته پیل شوه او په پراخه کچه د ځایي قومندانانو لخوا رهبري کېده کوم چې د بغرا کانال سویل ته په نږدې ځمکو کې اوسېدل. دغو قومندانانو په سلهاوو هکتاره ځمکه په واک کې واخیسته او خپل غصب یې په دې دلیلونو توجیه کاوه چې دوی او د دوی جنګیالیو«له دې ځمکې څخه د روسانو د یرغل پرخلاف دفاع کړې» او د کلي آبادې ځمکې ته د نږدېتوب له وجې د یادې دښتې پر ځمکه یې دودیزه دعوا لرله. په حقیقت کې، د دغو قومندانانو ګڼ شمېر یې د هغه وخت د والي شیر محمد اخندزاده (۲۰۰۲-۲۰۰۶) (د رسول اخندزاده زوی او د نسیم اخندزاده وراره) له ولایتي ادارې سره اړیکې درلودې. د دغو قوماندانان ځینې یې حتی په سیمه ییز امنیتي خدماتو کې دندې یا هم له پخواني جهادي قومندان معلم ولي سره چې وروسته بیا په ملې اردو کې د ۹۳ مې فرقې قومندان و، کورنۍ یا قومي اړیکې درلودې.[9]

د بېلګې په توګه، د شنه جامه په نوم سیمه د ناد علي ولسوالۍ پخواني امنیه قومندان عبدالطاهر نورزي لخوا د اخندزاده د ولایت پر مهال نیول شوې وه، په داسې حال کې چې د ناقل آباد شاوخوا سیمه د نواب آباد شاول په شمول د لښکرګاه ټرافیکو پولیس پخواني رییس حاجی کبیر خان په ولکه کې راغله چې د خپل قوم نورزیو او د ولایتي پولیسو پخواني رییس، عبدالرحمن جان نږدې ملګری و.[10] داسې ادعا کېږي چې حاجي قدوس په دشت آب پاشک کې ځمکه غصب کړې ده. نوموړی مخکې له دې چې د افغان ځواکونو ۹۳ مه فرقه منحل شي، د ۲۰۰۱ او ۲۰۰۴ زیږدیز کلونو ترمنځ د یادې فرقې مرستیال قومندان و، بیا د امریکا متحده ایالاتو له ځانګړو ځواکونو سره د یو پریکړه لیک پراساس ملیشه ځواک رامنځته کړ ترڅو د دوی د پرایس په نوم د کمپ ساتنه وکړي.[11]

د ځمکې له دې لومړني غصب وروسته ، قومندانانو بیا خپلو لاس لاندې سرتیرو او لیرې کورنیو ته ځمکې ډالۍ کړې چې د واک او نفوذ ساتلو او له قومي سیالانو سره د شخړو ګواښونو کمولو لپاره اړینه چاره بلل کیده. هغو کسانو چې مرکې ورسره شوي خبر ورکړچې د ځمکو ډالۍ کول د ۲۰۰۷ زیږدیز کال تر ورستیو پورې دوام درلود، دا ښیي چې په سیمه کې د طالبانو مخ په زیاتیدونکي نفوذ سربیره، له دولت سره اړیکه لرونکو وګړو د نهر بغرا شمال پر ځمکه یو څه مالکیت ساتلی و. د بېلګې په توګه، په شین غازي کې، یو شمیر بزګرو ادعا کوله چې دوی د ۲۰۰۷ زیږدیز کال په وروستیو کې له عبدالخالق څخه ځمکه ترلاسه کړې وه. په ډېری سیمو کې، د مرکه شویو کسانو په منځ کې د ځانګړو قومي ډلو د واک او تسلط له امله، د ځانګړو قومندانانو ملاتړ او پر ځمکو د دوی د قومونو ادعاوې څرګندې وې (لومړی جدول وګورئ).


د بېلکې په توګه، په شین غازي کې د مرکه کوونکو دوه پر دریمه برخه د قوماندان عبدالخالق قبیلې پورې اړوند الکوزي ول. په شنه جامه سیمه کې، د مرکه شویو کسانو ۲۵ سلنه نورزي وو، لکه څنګه چې قومندان عبدالطاهر هم نورزی و چې په لومړي سر کې د ځمکې په غصبولو تورن شوی و. په دشت آب پاشک او دشت لویه مانده کې د بارکزیو واکمنۍ د قومندانانو هر یو حاجي عبدالقدوس او عبدالحق له قومي تړاو سره برابره ده، داسې ادعا کیدله چې ګواکې د کرزي د حکومت په لومړیو ورځو کې دوی دغه ځمکه نیولې ده. په نورو ځیرنځایونو کې، د قبایلو یو لوی ترکیب شتون درلود. د بېلګې په توګه، په دشت شین او دشت خوشحال کلیو کې، چیرې چې ادعا کیدله د ځمکو غصب یو ډېر فرصت طلبه بهیر روان وه، نو دا ممکنه وه چې د بلوچو او کاکړو قبیلو د شپنو په شمول چې د مالدارو په نوم یادیدل، ګڼ شمېر نورې قبیلې ومومو چې پر یادې سیمې د دودیزو ګټنې حقونو ادعا کوله. دا هم څرګنده وه چې ډېر شمېر کورنیو د اجاره نیونکو بزګرو یا ونډه لرونکو کروندګرو په توګه د ځمکو نیولو ته مخه کړې وه چې دې کار د وخت په تیریدو سره د نوموړې ځیړنې تر پوښښ لاندې د ځینو ځیرنځایونو قومي جوړښت بدل کړی.

9 معلم میروالی له نهو پارلماني نوماندانو څخه یو و چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۱ کال اګست په میاشت کې د مسعود نورزي پر ځای د پارلمان د بریالي غړي په توګه اعلان کړ. مارټین وان بلجرت، «د پارلماني ټاکنو نوې پایله؟» د افغان شنونکو شبکه ، د ۲۰۱۱ کال د اګست میاشتې ۲۱ مه. http://aan-afghanistan.com/index.asp?id=۲۰۳۲

10 ټام کوګلن، « طالبان په هلمند کې: یو شفاهي تاریخ»، د نویو طالبانو د رمز راڅپړنه: د افغانستان له کروندې لید ، ایډ. ای ګستوزي ، ۱۷۳ مخ (لندن: هورسټ او کو، ۲۰۰۹ کال).

11 دیدي ډیرکسن ، «جګړه او سوله: وسله وال، بې وسلې شوی او بیا په وسلو سمبال: څرنګه په هلمند ولایت کې نهر سراج د افغانستان تر ټولو وژونکې ولسوالۍ شوه» د افغان شننوکو شبکه ، د جنوري میاشت ۲ مه ، مخونه ۳-۲.

څلورم انځور: د ځمکې د نیونې په توپیر د بغرا شمال په دښتو ځمکو کې د میشتیدنې کلونه (ان۸۱۴)[۱۲]




سرچینه: ساحوي کار


دا د یادونې وړ ده چې دښتې سیمو ته تګ د ټولو لپاره آزاد نه و. حتی د بغرا په شمال کې د ځمکې رانیولو یا د اجاره نیونکي بزګر یا ونډه لرونکي کروندګر په توګه د ځمکې ترلاسه کولو پر مهال، قومي او کورنۍ اړیکې سیمې ته د لاسرسي لپاره خورا اړینې وې. د څېړنې په لړ کې دا وموندل شوه چې په یاده سیمه کې ټول میشت کسانو له هغو سره اړیکې درلودې چې څو کاله دمخه یې دې سیمې ته کډه کړې وه او کولای یې شول چې له دوی سره د بیا میشتیدنې په لومړیو کلونو کې مرسته وکړي. د مرکه کوونکو یوه عامه خبره دا وه چې د دښتو ځمکې د سویلي قومونو لکه «اسحاقزیو ، نورزیو ، بارکزیو ، علیزیو او الکوزیو» ملکیت دی او دا د هغو قومي ډلو ملکیت نه دی چې په ۱۹۲۰ او ۱۹۷۰ مو زیږدیزو کلونو کې د افغانستان حکومت لخوا د مرکزي هلمند د کانال په اوبه یېزې سیمو کې د ځمکو پیرلو یا آبادولو لپاره هلته میشت شوي ول. په حقیقت کې، د بغرا په شمال کې د مرکه شویو وګړو نږدې ۹۰ سلنه له دې پنځو قومونو څخه وو حال دا چې له یو سلنې څخه لږ یې ناقلین ول چې اصلي ټاټوبی یې د غور ولایت تایمنې سیمه ده.

د بغرا کانال په شمال کې د کډوالۍ په دریمه څپه کې د ځمکو سوداګریز کول او پلورل شامل و. دا څپه په ۲۰۰۷ زیږدیز کال کې پیل او تر ۲۰۰۸ زیږدیز کال پورې په خورا ورو سرعت سره دوام درلوده. دا هغه دوره ده چې په کې د بغرا کانال شمال لویه برخه تر کرهنیز تولید لاندې راغله. سربیره پر دې، دې سیمې ته کډوالې په مرکزي هلمند کې د پیښو له امله خورا اغیزمنه شوه، په ځانګړې توګه د ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ، ناټو پوځي سرتیرو او طالبانو تر منځ د ۲۰۰۷ او ۲۰۱۱ کلونو په ترځ کې د جګړې او تاوتریخوالي د زیاتیدونکي کچې او د هلمند خوړو زون پروژې د پلي کیدو له امله چې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په موخه د ۲۰۰۸زیږدیز کال په منې کې پیل شوه.

په ۲۰۰۶ زیږدیز کال کې د بریټانوي پوځي ځواکونو له راتګ وروسته، په مرکزي هلمند کې او په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸مو زیږدیزو کلونو کې د بریټانیا او امریکا متحده ایالاتو پوځي ځواکونو په شمېر کې د زیاتوالي له امله د تاوتریخوالي کچه لوړه شوه. په ۲۰۰۷ زیږدیز کال کې، د پوځي عملیاتو ډیره برخه، شمالي ولسوالۍ (لکه کجکي ، موسی کلا او سنګین) په نښه کړې. په هرصورت، د ۲۰۰۸ زیږدیز کال د دوبي په موسم کې، بلواګرو د لښکرګاه په مرکز کې پر ولایتي بیارغونې ډلې باندې سخت برید ترسره کړ. ورپسې په ناد علي ولسوالۍ کې له شاوخوا سیمو څخه د طالبانو له شتون څخه د پاکولو په موخه، د ۲۰۰۸ زیږدیز کال په وروستیو او بیا د ۲۰۰۹ زیږدیز کال د مارچ په میاشت کې په مارجه کې یو لړ چاپیز عملیات پیل او د تاوتریخوالي د ډیریدو لامل شول چې پر کلیوالي خلکو باندې یې د پام وړ اغیز درلود.

سربیره پر دې، په ۲۰۰۹ زیږدیز کال کې یو لړ پوځي عملیات («خنجر» [جون] ، «پنتېرز کلا» [جولای] ، «توره شپه» [ډسمبر] پلي شول او همدا راز

۱۲ په دغو ارقامو کې د بوغرا شمال ټول ۸۵۳ مرکه کوونکي شامل نه دي، ځکه چې ځینو یې د خپل میشتیدنې کال څرګند کړی نه دی.




پنځم انځور: د بغرا کانال په شمال کې د کرهنیز تولید د
سیمې جیوګرافیک تحلیل(شننه) ، ۲۰۰۲-۲۰۱۹
سرچینه: السیس کمپنۍ

ګډ عملیات د ۲۰۱۰ زیږدیز کال په فبروری میاشت کې ترسره شول چې له ۱۴۰۰۰ زرو څخه زیات ملي او نړیوالو ځواکونو په کې شامل وو چې په کلیوالي سیمو کې د پراخو جګړو او مرګ ژوبلې د زیاتوالي لامل شول. دغو پېښو پر وړاندې د ځینو غبرګون له تاوتریخوالي تښتیدل او د هلمند مرکزي اوبه بیزې سیمې پرېښودل او د بغرا کانال په شمال کې پخوانۍ دښتې سیمې ته کډه کول و. د ټولنیزو او فزیکي زیربناوو له شتون پرته خو د طالبانو مخ په زیاتیدونکي شتون سره، د دښتې سیمه له جګړو خوندي وه. لږ تر لږه د پوځي سرتیرو له زیاتوالي دمخه، د ناټو ځواکونو په دې سیمه کې په نورو چارو کې نه ،خو یوازې د محدودو بریدونو د ترسره کولو لپاره یې لږه لیوالتیا ښودله.

د هلمند خوړو زون پروژه د ۲۰۰۸ زیږدیز کال په مني کې د یو شمیر پوځي عملیاتو تر څنګ پیل شوه او په مرکزي هلمند کې د نړیوالو او ملي ځواکونو د پام وړ شتون لخوا یې ملاتړ وشو. ایچ ایف زي یا د هلمند خوړو زون پروژه، یوه درې اړخیزه هڅه وه چې موخه یې د مرکزي هلمند په اوبه بیزه سیمه کې د کوکنارو د تولید ختمول و. دا پروژه د دوو بهرنیو سلاکارانو لخوا ډیزاین شوې وه چې د هغه وخت والي ګلاب منګل لخوا پرمخ وړل کیده او د ولایتي بیارغونې ډلې او متحده ایالاتو حکومت لخوا یې ملاتړ کیده. دې نوښت، هڅونه (د معلوماتو راټولولو عملیات) ، انعام (کرهنیزو مرستې ، په ځانګړې توګه غنم او کیمیاوي سره) او جبر ( د کوکنارو د کښت له منځه وړل) سره یو ځای کړي ول چې پر بزګرو فشار راوړي ترڅو په ډیرو مرکزي ولسوالیو لکه لښکرګاه ، نادعلي ، ناوه بارکزی، نهر سراج او همدارراز ګرمسیر، موسی کلا او کجکي کې د کوکنارو کښت پریږدي. په ۲۰۱۱ زیږدیز کال کې، له ګډو عملیاتو وروسته، نوموړې پروژه مارجې ولسوالۍ ته هم وغځول شوه.

دا پروژه هغه مهال پیل شوه چې د یو کیلوګرامه کوکنارو نرخ ۲۰ ډالرو پورې ټیټ شوی و ، په ۱۹۹۰ مو زیږدیزو کلونو کې پر کوکنارو کښت د طالبانو له بندیز وروسته تر ټولو ټیټ نرخ، خو په نړیوالو بازارونو کې د غلو نرخونه لوړ ول، په خپله افغانستان کې د هر یو کیلو ګرام غنمو بیه یو ډالر وه (دې نرخ د غنمو له معمولې بیې سره چې هر کیلوګرام یې کابو ۲۲،۰ سنته کیده توپیر درلود ) ، د کوکنارو د کرکیلې د راکمولو په موخه د مبارزې لپاره تر دې بل ګټور فرصت نه پیدا کیده.[۱۳]

د نرخونو له دې بدلون سره، په ټول افغانستان کې بزګر د خوړو د خوندیتوب په اړه خورا اندیښمن شول؛ ګڼ شمېر یې د خرڅلاو وړ فصلونو پرځای د غنمو کر ته مخه وکړه. په لږو حاصلخیزو سیمو کې چیرې چې د کوکنارو کښت لږ دود و او نفوس یې تجربه او مهارتونه نه درلودل، بزګر په دې پوه شول چې دوی کولای شي د غنمو رانیولو لپاره د کوکنارو له عواید څخه د ګټنې پر ځای په خپله ځمکه کې غنم تولید کړي. په داسې شرایطو کې، د دې اړتیا نه لیدل کیده چې بزګر دې دیته اړ شي چې د کوکنارو له تولید څخه لاس واخلي، که څه هم دې کار، سیاسي مشرتابه یا د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ټولنه یې د کوکنارو کښت له کموالي څخه له امتیاز اخیستلو لاس په سر نه کړه.[۱۴]


لومړی جدول: د هلمند د بوغرا شمال په څېرنځایونو کې د ځمکو د غصب ډول او قبیلوي جوړښت (سرچینه: سیمه ییز کار)

| سیمه | د غصب ډول | د قومندان جزییات | قومي جوړښت |
|---|---|---|---|
| شین غازي | د قومندان په مشرۍ- عبدالخالق (الکوزی) | الکوزی- د حزب اسلامي غړی، د ۹۳ مې فرقې له قومندان میرولي سره اړیکې او د پارلمان غړی | الکوزي (۲۷٪)، نورزي (۱۴٪)، بارکزي (۸٪)، اسحاقزي (۸٪)، خروټي (۱٪)، علیزي (۱٪) (ټولټال **۹۵٪**) |
| شنه جامه | د قومندان په مشرۍ- عبدالطاهر | نورزی- د ناد علي ولسوالۍ پخوانی امنیه قومندان. په ۲۰۱۰ کال کې د موټر د ټکر له امله ومړ. | نورزي (**۲۵٪**)، اسحاقزي (۱۳٪)، بارکزي (۹٪)، الکوزي (۴٪)، خروټي (۳٪)، سلیمانخیل (۳٪)، کاکړ (۲٪)، بلوچ (۱٪)، علیزي (۱٪) (ټولټال ۱۱۲٪) |
| دشت لوی مانده | د قومندان په مشرۍ- عبدالحق (بارکزی) مشهور په حاجي امیر | بارکزی- د حزب اسلامي غړی چې په ۲۰۰۸ کال کې ووژل شو. پلار یې علاوالدین د سیمې وکیل و. ورور یې حاجي ملنګ په ملنګ سیمه کې د ملي پولیسو قومندان و، بل ورور یې محمد حق په افغان دفاعي او امنیتي ځواکونو کې و. | بارکزي (**۵۴٪**)، نورزي (۱۹٪)، اسحاقزي (۱۲٪)، الکوزي (۱۰٪)، علیزي (۴٪) (ټولټال ۱۰۲٪) |
| دشت آب پاشک | د قومندان په مشرۍ- عبدالقدوس (بارکزی) | بارکزی- د معلم ولي پخوانی قومندان او د ملي اردو د ۹۳ مې فرقې مرستیال (په ۲۰۰۴ کال کې خلع سلاح شو). ورور یې د آب پاشک او ګرشک سیمو ترمنځ د تلاشي پوستې کنټرولولې. | بارکزي (۲۰٪)، نورزي (۱۷٪)، اسحاقزي (۱۳٪)، الکوزي (۷٪)، علیزي (۴٪) (ټولټال ۱۱۲٪) |
| دشت خوشحال کلی | د څو قومندانانو په مشرۍ. د بېلابېلو قومونو لخوا فرصت طلبه میشتیدنه،داسې ادعا کیږي چې د تلاشي پوستې د پولیسو قومندانانو لخوا له میشته کیدونکو څخه بډې (رشوت) اخیستل شوې. | | اسحاقزي (**۳۵٪**)، نورزي (۲۸٪)، بلوڅ (۱۲٪)، کاکړ (۷٪)، علیزي (۲٪)، بارکزي (**۵٪**)، الکوزي (۴٪)، تایمني (۳٪)، پوپلزي (۱٪)، منګل (۱٪) (ټولټال ۸۲٪) |
| نو آباد شاول | د څو قومندانانو په مشرۍ خو د حاجي کبیر خان (نورزي) په لومړني نفوذ . د بېلابېلو قومونو لخوا فرصت طلبه میشتیدنه، د شاول تلاشي پوستې قومندانانو له میشته کیدونکو څخه بډې اخیستې. | حاجي کبیر خان (نورزی)، مخکې له واشیر څخه و، د لشکرګاه د ټرافیکو پولیسو قومندان چې په ۲۰۰۸ کال کې ووژل شو. | نورزي (۳۲٪)، اسحاقزي (**۳۵٪**)، بارکزي (۷٪)، علیزي (۲٪)، الکوزي (۲٪)، سلیمانخیل (۴٪)، خروټي (۳٪)، تایمني (۱٪) (ټولټال ۱۰۲٪) |
| دشت شین کلی | د څو قومندانانو په مشرۍ. په ۲۰۰۳ کال کې کوچیان په دې سیمه کې میشت شول چې ادعا کوي دا ځمکې د دوی سنتي څرځای دی. | | اسحاقزي (۴۰٪)، نورزي (۲۱٪)، علیزي (۷٪)، الکوزي (۷٪)، بلوڅ (۷٪)، کاکړ (۷٪)، بارکزي (۳٪)، سلیمانخیل (۳٪)، تایمني (۱٪) (ټولټال۹۸٪) |
| شورابک | د څو قومندانانو په مشرۍ. په لومړي سر کې، د واشیر او نوزاد ولسوالیو نورزي په دغه سیمه کې اوسیدل. | | نورزي (۴۳٪)، اسحاقزي (۱۸٪)، بارکزي (۱۴٪)، الکوزي (۹٪)، بلوڅ (۲٪)، علیزي (**۵٪**)، کاکړ (**۵٪**)، سلیمانخیل (۱٪) (ټولټال ۱۰۳٪) |

په هلمند کې، د ځواکونو په پوځي شتون او د غنمو او کوکنارو تر مینځ د سوداګرۍ شرایطو کې په بدلون سره ، د هلمند خوړو زون پروژې په سیمو کې د کوکنارو کښت د کچې راټيټولو فشار بریالی و. د ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ زیږدیزو کلونو ترمینځ، د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو دفتر اټکل وکړ چې په هلمند کې د کوکنارو کښت یو په دریمه کم شوی، یعنې له **۱۰۳۵۹۰** څخه **۲۹،۸۳۳** هکټارو ته راټيټ شوی، چې د کموالي ډېره برخه یې د مرکزي هلمند په اوبه ییزو سیمو کې رامنځته شوې. (شپږم انځور وګورئ). کله چې د متحده ایالاتو د پوځیانو د شمېر زیاتوالی په مکمل ډول بشپړ

شو او افغان ځواکونو په مرکزي هلمند باندې ډیر کنټرول ترلاسه کړ، د هلمند خوړو زون پروژې د پلي کیدو سیمه پراخه شوه – او د نوموړې پروژې د لګښت په پرتله د پراختیايي پیسو زیاته برخه ولګول شوه. د کوکنارو د کر کچه نوره هم راټیټه شوه او په ۲۰۱۱ کال کې تر ۲۹۸۳۳ هګټارو پورې ورسیده چې رقم یې د ۲۰۰۷ کال له اټکل سره برابر و، دا هغه کال و چې په لومړي ځل، هلمند ته بریټانوي پوځي ځواکونه واستول شول.

شپږم انځور: لاندې ګراف په هلمند او خوړو زون کې د ۲۰۰۷ نه تر ۲۰۱۹ زیږدیز کال پورې د کوکنارو د کښت اټکل شوې کچه په هکټارو ښیي




HFZ = د هلمند خوړو زون پروژه، UNODC = د ملګرو ملتونو سازمان د مخدره توکو او جرمونو دفتر، USG = د امریکا متحده ایالاتو حکومت

سرچینه: د ملګرو ملتونو سازمان د مخدره توکو او جرمونو دفتر او د متحده ایالاتو د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې مرکز

د هلمند خوړو زون پروژې اغیزې او د کوکنارو د کښت کمولو فشار د بغرا کانال شمال په پخوانیو دښتي سیمو کې د ځیرنې لپاره ډیر وخت ونه نیوه. په داسې حال کې چې په دښتو کې د کهوالی دوهمې څپې د ځمکو ملکیتونه د اړینو لوبغاړو او د دوی شبکو ترمنځ ویشلي وو، بیا هم د ځمکو ډیره برخه کرل شوې نه وه. دا وضعیت په ۲۰۰۷ زیږدیز کال کې بدل شو. د کوکنارو کښت د کچې راټیټولو لپاره په فشار سره، په ورته وخت کې له هغو خلکو سره پرمختیایي مرستې کول چې د هلمند په اوبه پیزو سیمو کې ځمکې درلودلې، یادې پروژې او پراخو پرمختیايي هڅو د لږوځمکو خاوندان بې برخې او په دې توګه یې دیته اړ کړل چې په پخوانیو دښتي سیمو کې د ځان لپاره د معیشت په لټه کې شي.

دا هغه ډله خلک و چې نه یوازې د عاید لپاره په خورا لویه کچه د کوکنارو په کرکیلې پورې تړلي ول بلکې د سرپناه ځمکې، پور او اوبو لپاره هم. کوکنار داسې بوټی دی چې د کر لپاره یې ډیرو کارګرو ته اړتیا شته، لکه څنګه چې د کوکنارو د کر لپاره په یوه هکټار کې ۳۲۰ ورځو ته حال دا چې د غنمو کر لپاره په یوه هکټار کې ۵۴ ورځو ته اړتیا لیدل کیږي. د ځمکو خاوندانو دیته اړتیا لرله چې د خپلو ځمکو لپاره کروندګر د اجاره نیونکو او ونډه لرونکو بزګرو په توګه په کار وګماري.[۱۵] د دې چمتووالي لاندې، ګمارل شوېو بزګرو معمولاً له خپلې کورنۍ سره د اوسیدو لپاره یو کور، د کورنۍ لګښت او د فصلونو د خړوبه کولو لپاره اوبو ته لاسرسی او همداراز د کوکنارو په څیر د سوداګریزو محصولاتو او د غنمو په څیر خوراکي فصلونو لپاره ځمکې خو سربیره پر دې د ترکاري او میوو لپاره د پخلنځي ترڅنګ یو بڼ ترلاسه کاوه.

د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۱ زیږدیزو کلونو ترمنځ، د ځمکو خاوندانو د کوکنارو بدیل په توګه غنمو کر ته مخه کړه، هغو کسانو چې د هلمند خوړو زون پروژې په شاوخوا کې یې ځمکې د اجارې یا د ونډې پر اساس نیولې وې، لګښت یې له اړتیاوو پورته و. کله چې یې د مرکزي هلمند د کانال په اوبه پیزو سیمو کې نوره ځمکه ونه موندله، دې ډلې پرته له دې چې پخوانیو دښتي سیمو ته لاړشي او هلته د کوکنارو کښت وکړي، بله چاره یې نه درلوده او له تنګ سره سم، یوځل بیا دوی وهڅول شول چې د اجارې تر ډیرو نامطلوبو شرایطو لاندې په لویه کچه کوکنار وکري. دغو بزګرو لږه هیله لرله چې ښایي دوی به هم وکولای شي د دښتو یو څه ځمکه را و نیسي که چیرې یو ښه کال ولري. له دې نوي کاري ځواک سره، د کروندو ترمنځ له لږ واټن سره، څه نا څه لیرې خورا ګوښې کروندې هم په کرهنیزو ځمکو بدلې شوې (اووم انځور وګورئ).

۱۵ ډیویډ منسفیلډ، پر شګو جوړ شوی دولت: څرنګه کوکنارو افغانستان کمزوری کړ(اکسفورډ: اکسفورډ پوهنتون مطبعه، ۲۰۱۲ کال) ۱۰۵ او ۲۷۰ مخونه



اووم انځور: د بغرا شمال له پخوانیو دښتو سیمو څخه د الوتکې په واسطه اخیستل شوی انځور، ۲۰۱۰ کال

لکه څنګه چې څلورم انځور یې ښيي، د کښوالۍ دریمه څپه هغه مهال ګړندۍ شوه چې د لږو ځمکو خاوندانو د هلمند خوړو زون سیمو په پرېښودو او د کوکنار پر کر له بندیز څخه د تیښتیدو په موخه د بغرا کانال شمال دښتو ته په کښوالۍ پیل وکړ. هغوی چې په کافي اندازه پانګه درلوده خپل راتلونکي فصل لپاره یې پیسې په پور واخیستې او په دغو پخوانیو دښتسیمو کې یې ځمکه رانیوله. په هرصورت، د دغو وګړو اکثریت، ګڼ شمېر یې په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ زیږدیزو کلونو کې هغه مهال د ونډه لرونکو او اجاره نیونکو بزګرو په توګه کډه وکړه چې د کوکنارو کښت د کچې کموالی خورا د پام وړ و.

په عمل کې، هلمند خوړو زون پروژې داسې یو ګرځنده کاري ځواک رامینځته کړ چې د کوکنارو په کرکیلې کې یې مهارت درلود او د کښت لپاره یې ځمکو ته سخته اړتیا لرله. له داسې اقتصادي ماډل سره چې ظاهراً اغیزمن واقع شوی و او حکومت هم د ځمکو د پلورنې او میشتیدنې په مخنیوي کې پاتې راغلی و، نو ځکه هر کال د بغرا په شمال کې ډیره نوره ځمکه په کرهنیزه ځمکه بدلیدله. د خوړو زون پروژې په ترڅ کې، د بغرا شمال د ځمکې کچه په ۲۰۰۸ کال کې له ۱۵،۱۴۳ هکتارو څخه ۳۴،۹۰۴ هکتارو ته په ۲۰۱۱ کال کې دوه چنده لوړه شوه، چې په لویه برخه یې کوکنار کرل شوي ول. په دغو پخوانیو دښتو کې د ځمکو نرخونه په دې موده کې نږدې دوه چنده شوي وو، په دې توګه، د هر یو هکتار نرخ یې له ۱،۲۵۰ ډالرو څخه ۲،۱۰۰ ډالرو ته لوړ شوی و.

په هرصورت، دا چې د دښتي ځمکو په ډیره برخه کې کوکنار او ډیر لږ په کې په نوبتي ډول نور فصلونه کرل شوي ول، نو ځکه د کوکنارو حاصلاتو په کمیدو پیل وکړ. یاده سیمه د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۵ زیږدیز ترمنځ د څلورو پرله پسې کلونو لپاره له کمو حاصلاتو سره مخ شوه، چې په پایله کې یې په ځانګړي توګه هغو بزګرو ته مالي زیانونه واړول چې ځمکې یې په اجاره نیولې وې.

د مرکزي هلمند له ځینو برخو څخه د نړیوال پوځي ځواکونو له کمیدو سره او د هلمند خوړو زون پروژې په شاوخوا سیمو کې د کوکنارو پر تولید باندې د فشار کموالي له امله، ځینې اجاره نیونکې او ونډه لرونکې کورنۍ حتی د ځمکو موندلو لپاره د کانال اوبه ییزو سیمو ته د بیرته ستنیدو په لټه کې شول. د بغرا شمال سیمو ته د کښوالۍ بهیر ورو شو. لکه څنګه چې بله برخه به یې وښيي، دا یوازې د نوي ټکنالوژۍ له بدلون او د کوکنارو حاصلاتو له ښه کیدو سره و چې کرهنیز تولید بیا له اقتصادي پلوه ګټور شو، چې له امله یې د بغرا شمال په کرهنیزو ځمکو کې په ۲۰۱۷ کال کې له ۴۸،۱۸۹ هکتارو څخه په ۲۰۱۸ کال کې تر ۲۵،۹۵۳ هکتاره پورې د پام وړ زیاتوالی راغی.


په لنډه توګه، هغه ګوښه ځمکو چې د ۱۹۹۰ مو کلونو په وروستیو کې د بغرا په شمال کې په کر پیل کړی وو او د کانال پمپونو په واسطه خړوبه کیدلې، په کابو لس کیلو متره پراخې کرهنیزې ځمکې بدله شوه چې د ګرشک ښار په څنډو کې له اب پاشک څخه کابو ۲۰ کیلو متره له کانال ښکته د مارجې ولسوالۍ تر شمالي برخې پورې غزیږي.

د کورونو شمېر په ۲۰۱۴ کال کې له ۲۲،۰۳۲ څخه په ۲۰۱۹ کال کې ۴۵،۵۹۰ ته ورسیده چې کابو نیم میلیون وګړي په کې اوسیدل، دا هغه سیمه ده چې د کانال لاندې سیمو سره سیالي کوي. په حقیقت کې، په پسرلي کې کله چې کوکنارو او غنمو په بشپړ ډول وده کړې وي، ځینې وختونه دا ستونزمنه وي چې د شلمې پیړۍ په وروستیو کې د حکومت لخوا د میشتیدنې لپاره ټاکل شوې پخوانۍ سیمې له هغو سیمو څخه توپیر شي چې د ځایي قومونو لخوا د ۲۱ مې پیړۍ په لومړیو کې د میشتیدنې لپاره ټاکل شوې وې (اتم او نهم انځورونه وګورئ).



اتم انځور: د مرکزي هلمند د بغرا کانال شمال او سویل لوریو ته
له ځمکو څخه د الوتکې په واسطه اخیستل شوی انځور
سرچینه: السیس کمپنۍ

نهم انځور: لاندې انځور د مرکزي هلمند د بغرا کانال په شمال او سویل لوریو کې کرهنیزه ځمکه ښیي





## ۲.۳ د بایرو مرزي سیمې پاچاهان: د بکوا په دښتو کې میشتیدنه

د بکوا پخوانیو دښتي سیمو کډوالۍ او میشتیدنه د هلمند د خورا خطي بهیر په پرتله یوه بله ښه غوره کړه؛ که څه هم دا سیمه د ځایي قومونو لخوا اشغال شوې ده. په داسې حال کې چې بغرا کانال ته نږدې د ښتې سیمه په بشپړ ډول اشغال شوې وه، نوځکه بزګر دې ته اړ شول چې د کورونو جوړولو او کرلو لپاره د ځمکې په لټه کې د سیمې شمال لوري ته لاړشي، په بکوا دښتو کې کوچیدنه په هغو دیارلسو کلیو کې متمرکزه وه چې ځمکې یې د ځمکې لاندې د اوبو سیستمونو (چې د کاریز په نوم پیژندل کیږي) له لارې خړوبه کیږي(۱۰ شکل وګورئ). دغه کلي پر پراخه سیمه خواره دي چې د نورزي قوم د بهادرزیو او چالاکزیو قبیلو تر ولکې لاندې دي. بهادرزي او چالاکزي د سیمې اصلي اوسیدونکي دي چې د یادې څېړنې لپاره د مرکه کوونکو ۹۹٪ جوړوي.

بکوا دښته هغه وچه سیمه ده چې په دوبي کې خورا ګرمه وي او د نیمروز د دلارام سړک پر غاړه د فراه ولایت تر مرکز پورې پرته ده. د شلمې پیړۍ په پیل کې اصلاً د مالدارۍ لپاره کارول کیدله او له تاریخي پلوه، د کندهار او هرات ترمینځ د جګړو ښکار شوې. په آبادو کلیو کې کرهنیزه ځمکه حتی تر ۱۹۰۰ مو کلونو پورې محدوده وه. کله چې یاده دښته د شاوخوا ۳۰۰ کارېزونو په واسطه ښه په اوبه سمبال شوه، د ۱۹ مې پیړۍ په پیل کې له ۲۰ کم کاریزونه فعال وو[۱۲]؛ په ۱۹۹۰مو کلونو کې، د هغې وچکالۍ له امله چې د یادې لسیزې په ډېره برخه کې د سویل لویدیځ سیمه ځپلې وه او بله دا چې وچکالۍ د ۱۹۹۸او ۲۰۰۲ کلونو ترمینځ تر ټولو شدیده وه، نو ځکه بزګرو د خپلو اصلي کلیو له ځمکو څخه نوموړې دښتې ته کډه وکړه.

۱۲ د افغانستان تاریخي او سیاسي جریده، دوهم ټوک، فراه او سویل لویدیځ افغانستان، د اډمیک ال لخوا په ۱۹۷۳کال تصحیح شوی، ایل ، ۱۹۷۳، ۳۰ مخ https://www.scribd.com/document/۲۴۳۵۲۲۴۲۱/Farah-and-SW--۲-Historical-and-Political-Gazetteer-of-Afghanistan-Vol-۱۹۷۳-Afghanistan-s-pdf




لسم انځور: په ۲۰۱۹ او ۲۰۰۲ کلونو کې په بکوا دښته کې د
کرهنیز تولید لاندې د سیمې جیوګرافیک تحلیل
سرچینه: السیس کمپنی.

د لړو اوبو له امله، بزګرو خپلې اصلي ځمکې پرېښودې او د خپل اصلي کلي له مرکز څخه لږ څه ليرې د کلي شاوخوا دښتې ځمکې ونيولې. د هر کلي په شاوخوا سيمو کې د ورته غصبونو په ترسره کېدو سره، ميشت اوسيدونکو دا احتياط کاوه چې په دښته کې ډير ليرې لاړ نشي او داسې ځمکه غصب نکړي چې د ګاونډي کلي لخوا يې د ملکيت دعوا وشي. په سيمه کې داسې ويل کيږي چې د کليو ترمنځ د دښتې ځمکو پرسر شخړې ځکه حداقل ته ورسيدلې چې په دښته کې کمه ځمکه پاتې وه او بل له دې امله چې د سيمې وګړي ټول له يو قوم ول او دا وړتيا يې لرله چې د نورزي په قبيلې کې مسلې په خپله حل او فصل کړي.

په دښته کې هره نوې ترلاسه شوې ځمکه د کليوالو ترمنځ له ځايي دود سره سم وويشل شوې چې په دې لړ کې هرې کورنۍ ته د ځمکې مساحت د هغې ځمکې په تناسب ځانګړې کيده چې په خپل اصلي کاريز اوبه ييز کلي کې يې لرله. د دغو قوانينو په مطابق، که يوې کورنۍ په اصلي کاريز اوبه ييز کلي کې يو هکټار ځمکه لرله په داسې حال کې چې د کلي کرهنيزه ځمکه ټوله ۸۰ هکټار کيدله، په يادې دښته کې د کلي لخوا د نيول شوې له ۱،۱۲۰ هکټار ځمکو څخه ۱۴ هکټاره ځمکه ترلاسه کوله. په دښته کې د زرهاوو هکټاره ځمکو په شتون سره او دا چې هيڅ يو حکومت په دې نه دی توانيدلای چې د خپلې قانوني ځمکې له غصب څخه مخنيوی وکړي، نوځکه دغو نويو کډوالو ډيرځلې ۱۵ تر ۲۰ هکټاره ځمکه ترلاسه کړې ترڅو د خپلې کورنۍ غړو ترمنځ يې وويشي.

هغو وګړو چې په لومړي سر کې په يادې دښته کې ميشت شوي ول د داسو لارو په لټه کې شول ترڅو په مرسته يې د ژورو څاه ګانو د کيندلو لګښت پوره کړي چې په دې واسطه نوې ترلاسه شوې ځمکې يې په کرهنيز توليد پيل وکړي. ځينو يې د خپلې ځمکې ځينې برخې د فراه د ګلستان او بالابلوک او د هرات د شين ډنډ ولسواليو په شمول د سويل له نورو سيمو څخه پر کډوالو وپلورلې. دا چې په خپلو اصلي کليو کې د نفوس له فشارونو او د ځمکې له کموالي سره مخ ول، ځينې بزګر بکوا سيمې ته د غوره ژوند په لټه کې راغلل. د ځمکو دغو لومړنيو پلورنو هغه پانګه چمتو کړه چې په مرسته يې نوې ځمکه په کرهنيزه ځمکه بدله شوه چې دې ځمکې بيا په خپل وار سره هغه کوکنار توليد کړل چې وروسته بيا پلورل کيدل او د ترلاسه شويو پيسو په بيا پانګونې سره نوره ځمکه تر کرهنيز توليد لاندې راتلله. داسې ادعا کيږي چې د دغې بهير له لارې، ځينو ميشتو اوسيدونکو تر درې يا څلورو ژورې څاه ګانې وکيندلې چې هره يوه يې تر څلورو هکټارو کرهنيزه ځمکه خړوبه کولای شي.

د بغرا کانال د شمال سيمې برخلاف، د بکوا ځمکو سوداګريزه بڼه غوره نه کړه او نه هم په پراخه کچه وپلورل شوه (يوولسم انځور وګورئ). د ځمکو پلورلو ډيری برخه د ۲۰۰۴ او ۲۰۱۰ کلونو ترمنځ د ميشتيدنې په لومړيو کلونو کې ترسره شوه چې تر ټولو وروستې پلورنه يې په ۲۰۱۳ کال کې وه.[۱۷] په حقيقت کې، له يو لړ لومړنيو پلورنو وروسته چې دوی د خپلو ځمکو د آبادولو د لګښت پوره کولو په موخه ترسره کړل، د نورزيو اصلي اوسيدونکو په خپلې قبيلې کې د ځمکو مالکيت د ساتنې په لټه کې شول. د ځمکو پلورلو پر ځای، د ځمکو نورزي مالکانو، اجاره نيونکي او ونډه لرونکي بزګر په کار وګمارل. دغو وګړو يو ارزانه او ماهره کاري ځواک چمتو کړ، په خپل زيار يې ځمکې ورغولې او په ځينو مواردو کې هغه پانګه يې برابره کړله چې د ځمکې د دايمي کرکيلې لپاره اړينه وه. نوموړی کاري ځواک د دښتي ځمکو پر بدلون نيوکه لرله.


د دې پانګونې او د ځمکې مالکيت ساتنې د ملاتړ په موخه، ګڼ شمېر دغه بزګر د يو ترتيب له مخې چې د (لخې) په نوم پيژندل کيده په کار وګمارل شول. د ځايي خلکو ترمنځ ورته ونډه لرونکی کښت ويل کيږي، دا ترتيب له اجارې سره ډير ورته والی لري چې په کې بزګر د ټولو اړوندو لګښتونو مسووليت په غاړه اخلي او په خپله دا پريکړه کوي چې په ځمکه کې څه وکرل شي. د دې د لګښتونو او هڅو په بدل کې، ونډه لرونکی بزګر د حاصلاتو ۲/۵ يا ۷/۲ برخه خو د ځمکې مالک پاتې برخه ترلاسه کوي. لخه يوه پنځه کلنه هوکړه ده چې له مخې يې، د ځمکې مالک د اجارې په پيل کې د بزګر لپاره يوه ژوره څاه او يو جنراټور برابروي. کله چې د اجارې موده ختميږي، اجاره نيونکی بزګر بايد دا يقيني کړي چې ژوره څاه لاهم د استفادې وړ ده. دا داسې يو ترتيب دی چې د دواړو خواوو لپاره مناسب بلل کيږي چې له مخې يې د ځمکې مالک د اجارې په پای کې يوه بشپړه حاصلخيزه کرونده ترلاسه کوي او وروسته بيا نوموړی کولای شي خپله ځمکه يو ونډه لرونکي بزګر ته د حاصلاتو د ۵/۱ برخې په بدل کې په اجاره ورکړي.

د هلمند په څير، ټول هغه وګړي چې بکوا ته په لنډمهاله ډول کډوال شوي ول له وړاندې يې په سيمه کې اړيکې درلودلې او لوی ډيری يې د افغانستان د سويل لويديځ اصلي قومونه ول. ټول يې دې سيمې ته د تګ لپاره د کورنۍ غړو يا ملګرو لخوا هڅول شوي وو. ډيری د هغو کسانو چې د اجاره نيونکو يا ونډه لرونکو بزګرو په توګه کار کولو بکوا سيمې ته ځکه راغلل چې په خپل کلي کې يې هيڅ يا په کافي اندازه ځمکه نه درلوده. دوی يادې سيمې ته د هلمند ولايت په شمال او د فراه ولايت په نورو سيمو کې په ځانګړې توګه په ګلستان ولسوالۍ کې له جګړې نه د تښتيدو په موخه راغلل. ګڼ شمېر وګړي په ۲۰۰۲ او ۲۰۰۷ مو کلونو کې بکوا ته له فراه ولسوالۍ څخه راورسيدل، ټول يې د ولايت مرکز په شاوخوا سيمو د کوکنارو پر کر د بنديز په وړاندې په مستقيم غبرګون کې د ځمکو په لټه کې ول. بله څپه د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۳ مو کلونو ترمنځ رامنځته

۱۷ د دې مودې په ترڅ کې ، په هر هکټار ځمکه کې له ۷۰۰ ډالرو څخه تر ۳۰۰۰ ډالرو پورې توپير درلود ، د موقعيت فعاليت او د ځمکې کيفيت. هيڅ داسې شواهد شتون نه درلود چې ګواکې د وخت په تيريدو سره د ځمکې نرخونه لوړيږي. د ۲۰۱۳ کال په پرتله، د ځمکو په بدل کې تر ټولو لوړ نرخونه په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ مو کلونو کې ورکړل شوي.

شوه چې یو شمېر وګړي په کې د هلمند له مرکزي ولسواليو لکه ناد علي او مارجې څخه د حکومت لخوا د کوکنارو پر کر له بندیزه د تېښتیدو پخاطر يادې سيمې ته راغلل. یوازې یو لږ شمېر يې له لیرو ولایتونو لکه غزني او وردګو څخه نوموړې سيمې ته کډه وکړه خو حتی دوی هم په سيمه کې اړیکې لرلې، په لومړیو کې مخکې له دې چې د کوکنارو کر لپاره ځمکه ترلاسه کړي، یادو وګړو د ماهرو کارګرو په توګه کار کولو او له ښځنتو يې کورونه جوړول.

## یوولسم انځور: د بکوا دښتې په سیمو کې د ځمکې اشغال په توپیر سره د میشتیدنې کلونه (ان۴۰۰)[18]




سرچینه: ساحوي کار

وروسته، بکوا سیمې ته د کډوالۍ په چلند کې بدلون رامنځته شو. د ۲۰۱۲ کال راهیسې، پخپله د بکوا سیمو ترمنځ د کوچیدنې نښې نښانې موجودې وې، ځکه چې ګڼ شمېر بزګرو د ونډه لرونکو یا اجاره نیونکو په توګه په يادې ولسوالۍ کې د دوی په باور لا حاصلخیزې ځمکې ونیولې. د یادې داخلي کډوالۍ پیښه په دې ډول وه چې په ۲۰۱۸ کال کې د ټولو مرکه کوونکو کابو  پنځمه برخه يې خبر ورکړ چې دوی سیمې ته سږکال راغلي دي. په دوی کې یو يې د بکوا له بلې سيمې و خو دغه ټول کډوال نورزي ول (یوولسم انځور وګورئ).

دغو بزګرو ادعا کوله چې دوی د کمزورو حاصلاتو او ټيټو نرخونو له امله په علي آباد او نیسو سیمو کې له بې کیفیته خاورې (د شګو په نوم پیژندل کیږي) لرونکې ځمکې څخه د بکوا دښتې نورو برخو ته چې د دوی په باور ښايي لا ښه حاصلات ولري، کډه کړې ده. یوه مرکه کوونکی د نیمروز له دلارام سيمې څخه راغلی و چې د اقتصادي کړکیچ په سبب د کار له نشتون څخه یې سر ټکاوه او دې کړکیچ ته يې د کوکنارو نرخونو او حاصلاتو له راټيټيدو سره تړاو ورکړ. ټول دغه نویو اوسیدونکو ځمکه په اجاره نیولې او په غنمو یا نغدو يې پیسې ورکولې یا يې ځمکې د ونډه لرونکې اجارې پر اساس نیولې او یوازې د حاصلاتو پنځمه برخه يې ترلاسه کوله. هیڅ یو مرکه کوونکي د لخې پر اساس د ځمکو نیونې په اړه خبر ورنکړ. په حقیقت کې، دا چې د بکوا دښتې ځمکو پر لويه برخه کر کیږي، نو د دې احتمال نشته چې د ځمکې مالکان به بزګرو ته د لخې وړاندیز وکړي، خو د کوکنارو له ټيټو نرخونو او حاصلاتو سره، په مساوي کچه د دې احتمال نشته چې بزګر دې وغواړي دا ډول وړاندیز ومني.

۱۸ په دې جدول کې د بکوا دښتې ټول **۵۱۳** مرکه کوونکي شامل نه دي ځکه چې ځینو يې د خپل میشتیدنې کال څرګند کړی نه دی.  دغو مرکه کوونکو وویل چې دوی له «دې کلي» وو او «تل به هلته اوسېدل» ، دا هغه ځايي ادعا منعکس کوي چې ګواکې د دښتې ځمکې چې د اصلي کاریز د اوبه ییز کلي په شاوخوا  سيمو کې موقعيت درلود ، تل په دوی پورې اړه لري.

په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې، د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په پرتله، په بکوا کې د کرهنیزې ځمکې کچه په جزیي ډول له ۲۰۰۰ هکتاړو کمه پراختیا وموندله. په دوامداره توګه د کوکنارو کمزورو حاصلاتو او پر کروندو یې د ټیټو نرخونو له امله او همداراز د بې کیفیتې خاورې لرونکې ځمکې د غصب او ټیټو حاصلاتو له کبله، د کرکیلې سیستم تر خپل وروستي بریده ورسیده.

له هیڅ یوه پانګونې سره چې تیرو اجاره نیونکو بزګرو سیمې ته راوړې، له کمو حاصلاتو او ټیټو عایداتو څخه په دوامداره شکایتونه او د دې نښې نښانې سره چې بزګر په خپل کلي کې د کوکنارو فصل د پایلې نه ورکولو له امله په دښته کې د نویو ځمکو په لټه کې دي، باید دا پوښتنه وشي چې آیا په دښته کې د لا نورو ځمکو غصب احتمال هم شتون لري او آیا په بکوا کې د دښتې په ځمکو کې میشتیدنه بالاخره له ۲۵،۳۰۱ کورنیو او د یو میلیون شاوخوا څلورمې برخې نفوس سره پای ته رسیدلې ده؟[۱۹]

په پایله کې، د دې دواړو دښتي سیمو پرتلنه د مېشتېدنې په چلند کې څرګند توپیرونه په ډاګه کوي. قومي ورته والی او د نورزي قبیلې له خوا پر له پسې د ځمکو نیول، د بکوا شاوخوا سیمو ته د منظمې کډوالۍ لار پرانیسته. برعکس؛ د ۱۹۵۰او ۱۹۷۰لسیزو ترمنځ د افغان حکومت له خوا په مرکزي هلمند کې د مېشتېدنې نیمګړې بهیر، د شلمې پېړۍ په وروستیو کې کورنۍ جګړې او بیا د طالبانو رژیم تر ړنګېدو وروسته د بغرا کانال په شمال کې د دښتي ځمکو پلور د دې لامل شو چې خلک پر ځمکو یرغل وکړي. دغه ځمکې مخکې تر دې چې د هلمند د اصلي ځایي قومونو پر بزګرو وپلورل شي، په لومړي سر کې د ټولو لپاره وړیا وې او د چور په ډول یې ترلاسه کولې او یا هم د زورواکانو او د هغوی د ملګرو له خوا نورو ته د ډالۍ کېدې.

که څه هم؛ په هغو ځینو لاملونو کې مشترکې ځانګړنې شتون لري چې یادو سیمو ته د کډوالۍ لامل کیږي. یو اړین عمومي لامل د افغان حکومت کمزورتیا وه چې دغه دښتې یې له غصب او عرفي مالکیت له ادعاوو څخه خوندي نه کړای شوې. په دغو سیمو کې د حکومت شتون ان په غوره حالت کې تل کمرنګه پاتې شوی دی. په حقیقت کې حکومت د هغو ځمکو مسوولیت چې قانوناً دولتي دي، ځایي متنفذینو لکه قومي مشرانو، سیاسي-نظامي لوبغاړو او تر یوه بریده وسله والو مخالفینو ته پرې ایښی او ټول پام یې پر حاصلخېزو اوبه ییزو ځمکو باندې متمرکز کړی دی. دغه وضعیت د دې زمینه مساعده کړې چې خلک پر ځمکو د عرفي مالکیت دعوا وکړي او دښتي ځمکې تر خپل قیمومیت لاندې راولي. د مرکزي هلمند په قضیه کې کله چې د بغرا کانال کیندل کېده، دوی د دښتي ځمکو په وېش کې ناڅیزه رول لوبولای و.

په دښتي سیمو کې د کډوالۍ او مېشتېدنې دوهم عمومي لامل په یادو حاصلخېزو سیمو کې د سرچینو محدودیت و. په مرکزي هلمند او د بکوا په اصلي میشت ځایونو کې په ځانګړي توګه د نفوس له زیاتېدونکي فشار سره د اوبه ییزو کرهنیزو ځمکو د کمښت ستونزه پراخه شوې وه او له بلې خوا په بکوا کې د کاریز اوبو هم د خلکو اړتیاوې نه شوای پوره کولی. د وخت په تېرېدو سره، ځمکې د څو نسلونو ترمنځ ترکه او ووېشل شوې چې بالاخره ځمکې ډېرې کوچنۍ شوې او د یوې کورنۍ چې معمولاً له ۸ تر ۱۲ تنه غړي یې لرل، ګذاره پرې نه کېده. د نویو ځمکو او غیر کرهنیزو عایداتي سرچینو موندل د دې خلکو لپاره د ژوندي پاتې کېدو یوازینۍ وسیله وه، چې له همدې امله، دوی د افغانستان لویو ښارونو لکه کابل او په سویل لویدیځ کې دښتي سیمو ته د کډوالۍ په فکر کې شول.

له شک پرته، تر ټولو څرګند او اړین لامل چې دغو سیمو ته د کډوالۍ او مېشتېدنې لامل شوی، د کوکنارو ناقانونه تولید دی. دې ټکي ته په پام سره چې د کوکنارو نرخونه او اقتصادي ګټې د ۲۰۰۰ زیږدیز کال په څېر کله چې د کوکنارو کښت د طالبانو له خوا بند شو، هغسې لوړې پاتې نه شوې، په اوس وخت کې په دې دښتي سیمو کې د کرهنې لوړ لګښتونه به له اقتصادي پلوه د کوکنارو د کښت لپاره ګټور نه وي او ښایي ګڼ شمېر ځمکې له کښت څخه پاتې شي. په دواړو سیمو کې د کوکنارو په نرخونو او حاصلاتو کې کمښت، پر کډوالۍ یې اغېز او همدارنګه تر کښت لاندې ځمکو په مساحت کې بدلون په دې صحرایي سیمو کې د اپینو د یوه څېڅپانده اقتصاد ښکارندویي کوي.

۱۹ د کورونو شمیر اټکل د لوړ کیفیت لرونکو تصویري تحلیلونو پر بنسټ دی. د نفوسو اندازه د یادې څېړنې لپاره د کورونو په اړه د راټول شویو معلوماتو او په اوسط ډول، د لسو غړو لرونکو کورنیو پر اساس دی.

هېره دې نه وي چې د کوکنارو تولید د مخنیوي هڅې لکه د هلمند خوړو زون پروګرام هم په دغو دښتي سیمو کې د کډوالۍ او مېشتېدنې بهیر هڅولای. د کوکنارو پر کښت د محدودیتونو لګولو هڅې، لکه په ۲۰۰۰-۲۰۰۱ زیږدیزو کلونو کې چې طالبانو بند کړل او بیا د بهرنیو مرسته کوونکو په غوښتنه د افغان حکومت بندیزونه د دې سبب شول چې د کروندو پر سر د کوکنارو د پېر او پلور نرخونه ټیټ شي او په کرهنیزو ځمکو د دښتي سیمو د بدلولو مالي لګښت لوړ شي. همدارنګه، له مخدره توکو سره د مبارزې نیمګړي پروګرامونه هم د دې لامل شول چې خلک دښتو ته کډه شي. په ځانګړې توګه د هلمند خوړو زون پروګرام له دې کبله ستونزه زیږونکی و چې د کوکنارو په څېر په خوارۍ کرل کېدونکی محصول بې له دې چې د ځمکو د مالکیت شته وضعیت په پام کې ونیسي، پر کم ارزښت لرونکي محصول غنمو باندې عوض شو او یا هم د کوکنارو د کښت راکموونکي اقدامات عملي شول ترڅو هغه کسان راجلب کړي چې وروسته کانال ته څېرمه د ځمکې په پیدا کولو کې پاتې راغلي وو. دا کار د یوه ګرځنده، ارزانه او نسبتاً ماهر کاري ځواک د رامنځته کېدو لامل شو چې د کوکنارو کښت لپاره د نویو ځمکو په لټه کې و.

په دښتي سیمو کې د کډوالۍ او مېشتېدنې بل عمومي او وروستی لامل، افغانستان ته د نوې ټکنالوژۍ راتګ و. ټکنالوژۍ او نوښت په ځانګړې توګه د ځمکې لاندې اوبو د استخراج په اړه، په دغو سیمو کې د کډوالۍ او مېشتېدنې د هڅونې او بالاخره د یادو دښتو د بدلون لامل شول. په راتلونکې برخه کې به پر دې خبرې وکړو چې بزګرو څنګه له دغه بدلېدونکو شرایطو سره ځان عیار کړ او د نوې ټکنالوژۍ د کارونې له لارې یې د کوکنارو د تولید مالي ارزښت او خپل کرهنیز سیستمونه په داسې حال کې وساتل چې د حاصلاتو او نرخونو له ټیټوالي سره لاس او ګرېوان وو.


# ۴. بدلون: ټکنالوژۍ، نوښت او د بازار پراختیا

په داسې حال کې چې په شمالي بغرا او بکوا کې د دښتي ځمکو د نیولو او مېشتېدنې بهیر له یو بل سره توپیر لري، خو په دې سیمه کې بدلون مشابه مسیر تعقیب کړی. ټکنالوژۍ په دې بدلون کې مرکزي ونډه لوبولې چې ترویج یې د اقتصادي او چاپیریالي شرایطو بدلون او په ځانګړې توګه د کوکنارو په خالصه ګټه کې کمښت ته لار هواره کړې ده. په دې برخه کې پر دې غږېږو چې ټکنالوژۍ د شمالي بغرا او بکوا د دښتو په زرغونولو کې څه ډول رول لوبولی، کروندګرو د نوې ټکنالوژۍ په کارونه او په بدلېدونکو شرایطو کې څه ډول نوښت وکړ او هم دغې ټکنالوژۍ د دغو سیمو پر اقتصاد څه ډول پراخې اغېزې شیندلې دي.

## ۱.۴ اوبو ته په لاسرسۍ کې د ټکنالوژۍ ونډه او د اوبو استخراج د لګښتونو راکمول

دښتو ته کډه کېدل اسانه کار نه و، په ځانګړې توګه د هغه چا لپاره چې پخوا یې زمینداري او بزګري نه وه کړې. هغو خلکو چې په لومړي ځل دغه شاړې او سختې ځمکې ونیولې او یا یې وپېرلې، کار پکې ملا ماتوونکی و. هغوی باید د ځمکې له سر نه ډبرې او تیږې لېرې او سطحه یې هواره کړې وای، ترڅو ځمکه د کښت لپاره چمتو شوې وای. وروسته یې ځمکې ته باید سره او پارو ورکړې وای او بیا یې هم د ځمکې د خړوبولو او هم ځان ته د څښاک اوبو د برابرولو لپاره څاه کیندلې وای. هغوی مخکې له دې چې ځان ته کورونه اباد کړي، لومړی یې په ځمکو کې ژوند کاوه او کله چې کورونه استوګنې ته چمتو شول، کلیو ته لاړل او خپلې کورنۍ یې راوستلې. (۱۲ او ۱۳ انځورونه وګورئ).

دولسم: له سپوږمکۍ څخه اخیستل شوي انځورونه ښیي چې په دښته کې د کروندګرو ژوند په لومړیو کې څه ډول و، بکوا




سرچینه: السیس کمپنۍ



دیارلسم انځور: د بغرا په شمالي دښته کې د هغو ځمکو د الوتکې په واسطه اخیستل شوی انځور چې هواره او کښت ته چمتو شوې ده

د مېشتېدنې لپاره لومړنۍ اړتیا د څاه کیندل و. که څه هم لومړنیو راکډه شویو خلکو د لاس په واسطه څاه ګانې کیندلې وې، خو یادې څاه ګانې وچې شوې. وروسته د برمې په مرسته د ژورو څاه ګانو کیندل دود شول چې بالاخره په دې دښتو کې د دې ټکنالوژۍ کارونه خورا زیاته شوه (څوارلسم انځور وګورئ). په دې سیمه کې داسې ادعا کېږي چې د ۱۹۹۰ لسیزې په لومړیو کې د ژورو څاه ګانو د کیندلو په اړه خلکو ته پوهاوی ورکول کېده او دا کار تر ډېره د نادولتي موسسو له خوا ترسره کېده، ترڅو هغوی ته د څښاک پاکې اوبه برابرې کړي. کله چې په ۱۹۹۰ لسیزه کې د وچکالۍ له امله په لاس کیندل شوې عادي څاه ګانې او کارېزونه وچ شول، بزګرو خپلو کروندو ته د اوبو برابرولو لپاره د ژورو څاه ګانو کیندلو ته مخه کړه. په پاکستان او چین کې تولید شوي ارزانه بیه واټرپمپونه او جنراټورونه د دې لامل شول چې زیاتره خلک ژورې څاه ګانې وکني.

په مرکزي هلمند او بکوا کې خلکو ویل چې د څاه ګانو د کیندنې وسایل، لومړی د ځایي سوداګرو له خوا له پاکستان څخه راوړل شول چې وروسته یې ښه بازار پیدا کړ. په حقیقت کې هغو کسانو چې په هلمند کې ژورې څاه ګانې کیندلې، دغه کسب یې د یویشتمې پېړۍ په لومړیو کې په بلوچستان کې زده کړی و. کله چې افغانستان ته راستانه شول، د بغرا کانال په سوېلي او شمالي دښتي سیمو کې یې خلکو ته د برمې خدمات وړاندې کول. د وخت په تېرېدو سره کله چې کاروبار پراخ شو او ډېرو خلکو د ژورو څاه ګانو په کیندنه کې ګټه ولیده په ځانګړې توګه د ۲۰۰۶ او ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ، ګڼ شمېر سوداګرو دغه کاروبار ته مخه کړه او د لښکرګاه او بولان په بازارونو کې یې سرایونه جوړ شول.



خوارلسم انځور: د بغرا په شمال کې د ژورې څاه د کیندنې
لپاره د کارول کېدونکې برمې فضایي انځور

که څه هم ژورو څاه ګانو کروندګرو لپاره تیارو اوبو ته د لاسرسي اسانتیا برابره کړې، خو دا کار لوړ لګښت لري. د بغرا په شمال کې د ۹۰ مترو او په بکوا کې د ۱۳۰ مترو په ژوروالي د یوې ژورې څاه کیندل له پایپونو، جنراټور او واټرپمپ سره شاوخوا ۲،۰۰۰ امریکایي ډالره لګښت لري (دویم جدول وګورئ). هغه څه چې لویه اندېښنه ګڼل کېده، د ډیزلي برېښنا سیستم لوړ لګښتونه وو (پنځلسم انځور وګورئ). د بې کیفیته ډیزلو د کارونې له امله یو جنراټور (۴۰۰ ډالر) او یو واټرپمپ (۲۵۰ ډالر) یوازې یو کال یا هم حداکثر دوه کاله دوام کولی شي، چې دا هم د کرهنیزو تولیداتو پر لګښت اضافه کېږي. د جنراټور مبلایل او فلټر باید په هرو دوو اونیو کې تبدیل شي، چې ۲۵ ډالره مصرف پرې راځي. همدارنګه د ډیزلو بیې هم ۱۰۰ سلنه د بدلون په حال کې وي او د ۲۰۱۵ کال په مارچ میاشت کې یو لیټر ډیزل آن ۱.۴۰ ډالرو ته لوړ شول. کله چې د کوکنارو د یو هکتار ځمکې د اوبو کولو لپاره ۴۰۰ لیټره تېلو ته اړتیا وي، جاري لګښتونه ژر لوړېږي او دا کار هغه وخت وشو کله چې د کوکنارو حاصلات پر له پسې څلور کاله کم و.

دویم جدول: د سولري (لمریز) او ډیزلي واټرپمپونو د نصبولو لګښت

| | ډیزلي | | سولري | |
|---|---|---|---|---|
| توکي | د توکیو شمېر | ټولټال (US$) | د توکیو شمېر | ټولګه (US$) |
| څاه کیندنه (په متر) | ۱۰۰ | **۵۵۰** | ۱۰۰ | **۵۵۰** |
| واټرپمپ | ۱ | **۲۵۰** | ۱ | ۷۰۰ |
| پلاستیکي پایپونه (په متر) | ۳۰ | **۵۵۰** | ۳۰ | **۵۵۰** |
| جنراټور | ۱ | ۴۲۰ | ۰ | ۰ |
| ټرانسفرمر | ۰ | ۰ | ۱ | ۲۲۰ |
| سولري تختې (۳۰۰ Amp) | ۰ | ۰ | ۳۲ | ۳،۹۲۰ |
| برېښنايي مزي (بنډل) | ۰ | ۰ | ۲ | ۲۰ |
| چوکاټ | ۰ | ۰ | **۵** | ۲۵۰ |
| نصب | ۰ | ۰ | ۱ | ۲۰ |
| ذخیره (ټراکټور في ساعت) | ۰ | ۰ | ۴۰ | ۲۴۰ |
| ټولګه | | ۲،۱۷۰ | | ۲،۲۹۰ |



پنځلسم انځور: د بغرا په شمال کې د یوه کور او ژورې
څاه فضايي انځور چې په ډیزلي بربښنا چلېږي

په ۲۰۱۴زیږدیز کال کې په بکوا او هلمند کې بزګرو پر یوه بل نوښت لاس پورې کړ. هغوی دا ځل د ځمکې لاندې اوبو د استخراج لپاره لمريزې بربښنا ټکنالوژۍ وکاروله.[20] په لاندې انځور کې د اوبو زېرمه ګورئ (شپاړسم او اولسم انځورونه وګورئ). دغه ذخيرې چې شاوخوا ۱،۲۰۰ متر اوږدوالی او ۱ تر ۲ مترو پورې ژوروالی لري، شمېر یې هر کال مخ په زیاتېدو دی. خو دا د ټولو په لمريزې بربښنا سمبالو ژورو څاه ګانو شمېر نه شي ښودلی. هغه بزګر چې لږې ځمکې لري، د زېرمې جوړولو ته زړه نه ښه کوي او نه غواړي چې ځمکه پرې ضایع کړي. دغه بزګر اوبه د زېرمه کولو پر ځای مستقیماً کروندو ته پمپ کوي، له همدې امله دا چاره ستونزمنه ده چې له لېرې واټن څخه د فضايي انځورونو د اخیستلو له لارې د ژورو څاه ګانو کره شمېر معلوم کړو.

شپاړسم انځور: د هغه کور فضايي انځور چې څنګ ته یې د اوبو زېرمه ده



۲۰ لومړی ښېلګه چې لیکوال په ۲۰۱۳ کال کېد کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالۍ په بهادرزي بازار کې ومونده. دغه بزګر د سولري څاه د فعالولو لپاره ۱۲،۲۰۰ امریکايي ډالرو معادل پیسې ورکړې وې. هغه سرټکاوه چې د ډیزلي واټرپمپ ترمیم او ساتنې به هر کال ۱،۷۵۷ ډالر لګښت درلود.




اوولسم انځور: له ځمکې د یوه کور اخیستل شوی انځور چې ترڅنګ یې د اوبو زېرمه او د سولرو تختې دي، د بغرا کانال شمال

که څه هم دا د سیمې یو نیمګړی انځور دی، خو د لمریزې برېښنا ټکنالوژۍ په کارونه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی او هغه څه چې د ګوتو په شمېر بېلګو په توګه یادېږي، ډېر ژر به پر یوه عام دود او چلند بدل شي. په حقیقت کې، په بکوا کې مرکه کوونکې د لمریزې برېښنا ټکنالوژۍ د کارونې څرګندې بېلګې وړاندې کوي. په داسې حال کې چې په ۲۰۱۳ زیږدیز کال کې د بکوا سیمې ټولو مرکه کوونکو ویلي وو چې د ژورو څاه ګانو لپاره ډیزلي واټرپمپونه کاروي او هېڅا سولر نه کاروه، خو په ۲۰۱۷ زیږدیز کال کې ۲۸ سلنه او په ۲۰۱۸ کال کې ۹۸ سلنه ځواب ورکوونکو ویلي وو چې سولري واټرپمپونه کاروي. د بغرا په شمالي دښتو کې د سولر کارونه دومره چټکه نه وه او هغه کسان چې په ۲۰۱۳ کال ورسره مرکه شوې وه، هېڅا د سولر یادونه نه وه کړې حال دا چې په ۲۰۱۵ زیږدیز کال کې یوازې دوه مورده و او په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ زیږدیز کلونو کې بیا دغه رقم ۳۳ سلنې ته لوړ شو.


د سپوږمکۍ لخوا اخیستل شوي لوړ کیفیت لرونکي انځورونه هم په یادو دښتو کې د لمریزې برېښنا ټکنالوژۍ په کارونه کې زیاتوالی ښیي. د بېلګې په توګه، د بغرا شمال په شنه جامه سیمه کې د اوبو د زېرمو شمېر په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ زیږدیز کلونو کې له ۱ څخه په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې ۲۴۸ ته لوړ شوی، او د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۲ زیږدیز کلونو ترمنځ د پام وړ زیاتوالی لیدل کېږي. (اتلسم انځور وګورئ).

جیوګرافیک شننه په حقیقت کې څرګندوي چې د شمالي بغرا او بکوا پر دښتو سربېره، په سوېل لوېدیځ کې په لمریزې برېښنا سمبالو ژورو څاه ګانو پراخ استعمال ښیي. (نولسم انځور وګورئ). دا انځور ښیي چې تر ۲۰۱۸ زیږدیز کال پورې به په فراه، هلمند، کندهار او نیمروز ولایتونو کې د اوبو شاوخوا ۵۰،۳۲۰ زېرمې تثبیت شي. دا په داسې حال کې ده چې په ۲۰۱۵ ک زیږدیز ال کې د دې ډول څاه ګانو شمېر ۸،۹۲۷ او په ۲۰۱۴ کال کې یوازې ۱۸۲ و. په یوه محدوده سیمه کې د زېرمو د شمېر یو کره اټکل څرګندوي چې په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې به د اوبو د زېرمو شمېر ښایي ۲۳،۰۰۰ ته لوړ شي چې دغه رقم په لمریزې برېښنا سمبالو ژورو څاه ګانو په شمېر کې لا زیاتوالی ښیي. د اوبو زېرمې چې یوازې د لاندې انځور په یوه برخه کې ښکاري، څرګنده ده چې په لمریزې برېښنا سمبالو ژورو څاه ګانو د کارونې کچه تر دې هم پراخه ده.




اتلسم انځور: په سوېل لوېديځ کې په لمريزې برښنا سمبالو ژورو څاه ګانو جيوګرافيک تحليل، ۲۰۱۸-۲۰۱۹

سرچينه: السيس کمپنۍ




نولسم انځور: په سوېل لوېدیځ کې د اوبو زېرمو د
شمېر جیوګرافیک شننه، ۲۰۱۳-۲۰۱۹

پر دې سربېره په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۷ زیږدیز کلونو کې د سولري برېښنا نوښت هم د پام وړ و چې د پمپ په مرسته د استخراجېدونکو اوبو د مقدار له زیاتوالي سره مل و. د بېلګې په توګه کله چې په لومړي ځل سولر دود شو، بزګرو به ۱۵۰ امپیره کوچنۍ ۲۰ تختې چې ۱.۵ متر کېږي، د واټرپمپ د چلولو لپاره کارولې. په ۲۰۱۷ کال کې تر دې هم د لويو تختو کارول دود شول، چې معمولاً ۳۰۰ امپیره یعنې ۲.۵ متره وې. د دغه تختو ۳۰ دانې قوي برېښنا تولیدوي او ډېرې اوبه پمپ کوي چې د ځمکې لاندې اوبو سطحه یې راټیټه کړې ده.

بزګر د برېښنا د زیات تولید لپاره نور تخنیکونه او لارې چارې هم کاروي. یو نوښت دا دی چې د سولر تختې پر فلزي چوکاټ نصبوي او د چوکاټ په بېخ کې څرخونکې ستنه لګول کېږي ترڅو د ورځې په ترڅ کې د لمر وړانګو ته د تاوېدو وړتیا ولري. یوه بله بېلګه یې د لمریزې او ډیزلي برېښنا یو ځای کارول دي، چې له سولري برېښنا د ورځې او له ډیزلي برښنا د شپې له خوا کار اخیستل کېږي ترڅو په دې توګه اوبه په دوامداره توګه استخراج شي. که څه هم؛ په ټکنالوژۍ کې تازه پرمختګونه هم د یو واحد سیستم د رامنځته کېدو لامل شوي دي. اوس لمریزه برېښنا په بطرۍ ګانو کې ذخیره کېږي چې د پخوا په پرتله د لا زیاتې دوامدارې برښنا د زېرمې لامل شوې. لمریزې برښنا ټکنالوژۍ یوازې په لومړي سر کې شاوخوا ۵،۰۰۰-۲،۰۰۰ امریکایي ډالره لګښت لري (البته دا لګښت د تختو په شمېر او ضخامت پورې اړه لري)، نور ډېر لږ لګښت لري (دویم جدول وګورئ).


پر دې سربېره د لمریزې برښنا ټکنالوژۍ چټکه پراختیا، بازار ته د پرمختللې چینايي ټکنالوژۍ د راتګ له امله وه، چې د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۷ زیږدیز کلونو ترمنځ یې د سولري تختو نرخونه یې نیمايي ته رانښکته کړل.[۲۱] همدارنګه سولري سیستمونه اوس حتی د افغانستان په ډېرو لېرو پرتو سیمو کې هم خرڅېږي (شلم انځور وګورئ). په داسې حال کې چې په ۲۰۱۳ زیږدیز کال کې د هلمند او بکوا بزګر به د لمریزې برښنا ټکنالوژۍ د پېرلو لپاره کندهار ښار ته تلل، خو په ۲۰۱۷ زیږدیز کال کې خپله د هغوی کلیو ته راغلې چې د مجربو انجینیرانو په لاس د سیستم د نصبولو اسانتیاوې هم د لاسرسي وړ وې. د دې نوې ټکنالوژۍ له منځته کیدو سره، د کوکنارو په حاصلاتو او نرخونو کې بدلونونو هم پر لمریزې برښنا اغېز درلود. په لمریزې برښنا کې لومړنی بدلون په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې د کوکنارو د بیو د لوړېدو له امله و، په ۲۰۱۴ کال کې د کوکنارو د هر کیلو ګرام بیه له ۷۵ ډالرو څخه په ۲۰۱۵ کال کې ۱۹۰ ډالرو ته لوړ شوه، خو لکه څرنګه چې پورته لیدل کېږي، جاري لګښتونو او د کوکنارو ټیټو حاصلاتو د یادې ټکنالوژۍ چټکه پراختیا نوره هم وهڅوله او په یوه لوړ لګښت کرهنیز سیستم کې یې د مالي وړتیا اړتیا محسوسه کړه.

## ۲.۴ د انساني ځواک د لګښتونو د راکمولو نوښت


په سوېل لوېدیځ کې په وچو دښتي سیمو کې د کوکنارو د تولید د مالي ارزښت د ښه والي او په ځانګړې توګه د انساني ځواک د لګښتونو د راکمولو په موخه نور چمتووالی، د هرزه بوټو د وژونکو درملو کارول دي. هرزه وژونکي درمل یوازې په وچو دښتي سیمو پورې نه محدودېږي، بلکې په اوبه ییزو ځمکو کې د کوکنارو بوټو د له منځه وړلو لپاره هم په لویه کچه کارول کېږي. خو په دې سیمو کې د ځمکو حاصل ډېر زیات دی، ځکه چې کانال ته څېرمه کرنیزو ځمکو په پرتله، دلته په دښته کې ځمکې پراخه دي او هم پکې یوازې د کوکنارو کښت ډېر کېږي، په تېره بیا د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ زیږدیز کلونو ترمنځ (۲۱ شکل وګورئ).

په افغانستان کې د کارګرو سخت وضعیت او په کلیوالي سیمو کې نسبتاً لوړ مزد - په ځانګړې توګه د خېشاوې او د کوکنارو د کرلو لپاره لوړ مزد ته په کتو، د کوکنارو پراخ کښت یوه ننګونه ده. په اجاره ورکړه (مساقات) هغه طریقه ده چې د ځمکو د مالکینو لپاره د کوکنارو له تولید سره مل د انساني ځواک لګښتونه راکموي. د بزګر او د ځمکوال لپاره د انساني ځواک د لګښتونو د راکمولو بله لاره د خېشاوې په موسم کې د هرزه وژونکو درملو کارول دي. تر ۲۰۱۳ زیږدیز کال پورې په دښتي سیمو کې ۲۵ سلنه بزګرانو هرزه وژونکي درمل کارولي وو او همدارنګه کانال ته څېرمه په اوبه لرونکو سیمو کې هم د دې درملو د کاروني سلنه د لوړېدو په حال کې ده چې ډېری یې په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ زیږدیز کلونو کې د دغه درملو کارول پیل کړل. تر ۲۰۱۷ زیږدیز کال پورې ټولو هغو کروندګرو چې د بغرا او بکوا په شمالي دښتي سیمو کې کوکنار کرل، په خپلو کروندو کې د هرزه بوټو وژونکي درمل کارولي دي. د هرزه بوټو وژونکو درملو د ګټو په اړه پوهاوی په هغې کچه دی لکه د ژورو څاه ګانو د ټکنالوژۍ په اړه چې خلک پوهېږي. دغه درمل چې د ګرشک، لښکرګاه او دلارام په بازارونو کې موندل کېږي، له تېرې یوې لسیزې راهیسې د یو شمېر سوداګرو له خوا له ایران، پاکستان او چین څخه وارديږي. په لومړیو کې به دغه درمل تر ډېره د غنمو په کروندو کې کارول کېدل، ځکه چې کروندګرو به هڅه کوله چې د غیر ټاکنیزه محصولاتو لکه د ډاي کلورو فینوکسي استید اسید (۲,۴D) او پاراکوات د کاروني له لارې چې یو شمېر بېکاره بوټي وژني، د خېشاوې کارونه په غوره توګه مدیریت کړي، نو له همدې امله کله چې کوم بزګر غواړي چې خپل محصولات د هرزه بوټو څخه خوندي او پاک کړي، په بوټلونو کې پېک شوي هرزه وژونکي درمل پېري. دغه درمل د «پټې دوا» په نامه مشهور دي.

۲۱ دا محاسبه په بکوا کې د یوې ۱۵۰ امپایره تختې د قېمت پر اساس چې ۸،۰۰۰ افغانۍ ده، شوې ده، د یوې ۳۰۰ امپایره تختې قېمت بیا په ۲۰۱۷ کال کې ۷۵۰۰ افغانۍ و.




شلم انځور: له فضا او ځمکې څخه اخیستل شوي انځورونه د
هلمند په لښکرګاه کې د سولري تختو پلورنځي ښيي
سرچینه: السیس کمپنی.





۲۱ شکل: د فضا له لارې د اخيستل شويو انځورونو په مټ د هغو کښتونو تحليل چې د ۲۰۰۸-۲۰۱۸ زيږديز کلونو ترمنځ د هلمند د شمالي بغرا د شنې جامې په دښتي سيمو کې کرل شوي وو.
سرچينه: السيس کمپنی.

د نویو تجربو او نوښتونو په پایله کې، د وخت په تېرېدو سره د دغه غیر ټاکنیزه هرزه وژونکو درملو پر ځای ټاکنیزه درمل بازار ته راغلل. انتخابي هرزه وژونکي چې د ټاپیک Topik په څېر محصولات پکې شامل دي، ګڼ پاڼه لرونکي بوټي لکه کوکنار نه وژني او له همدې امله کروندګر اړ نه دي چې هغه بوټي چې دوی یې ساتل غواړي، وپوښي. دغه تولیدات چې د لوځې دوا په نامه یادېږي، له چین څخه واردېږي او د خپشاوې لپاره د چمتووالي اړین وخت یې ډېر راکم کړی دی. د دې درملو ځینې یې د ځانګړو افغان شرکتونو په نامه جوړېږي لکه د درخشان کرنیزه اتحادیه، فراه سوداګریز شرکت او صحرایي لمېټډ کندهار. په ۲۰۱۲ زیږدیز کال کې په هلمند او بکوا کې افت وژونکي درمل هم معرفي شول. زیاتره دغه درمل د ځایي چاپېریال په اړوند جوړېدل او په پښتو او دري لېبلونه یې درلودل. ځینې یې د غنم وژونکي( ګندم کش)، کروز او د ځانمرګي په نامه یادېدل ترڅو ځایي کارونکي پرې رامات کړي. د یو شمېر نورو پر لېبلونو بیا د کوکنارو انځور لګېدلی او په مشخصه توګه هغه ناروغۍ یا حشرې پکې یاد شوي چې د افت وژونکو درملو په مرسته له منځه ځي. (۲۲ او ۲۳ شکل).

په حقیقت کې دا د هرزه وژونکو او افت وژونکو درملو ګڼ ډولونه وو او د کروندګرو په وینا چې « هر کال بازار ته نوي کیمیاوي درمل راځي».

بزګر په دې باور دي چې هرزه وژونکي درمل د کښت د یوې برخې په توګه د کوکنارو لپاره ګټور دي چې د ګمارل شویو کاریګرو اړتیا او د پسرلي په ترڅ کې د کورنیو کاریګرو لپاره تقاضا راکموي. په تېر وخت کې کوکنارو په درې بیلو موسمونو کې خپشاوې ته اړتیا لرله او د دې کار لپاره لوی شمېر کورنیو او ګمارل کېدونکو کاریګرو ته اړتیا وه چې ګمارل کېدونکو کاریګرو په ورځ کې ۴ امریکایي ډالره لګښت درلود. هرزه وژونکي درمل باید د محصولاتو تر غټېدو مخکې وکارول شي او پټي له هر ډول بېکاره بوټو څخه پاک شي. دغه کار پر کورنیو د خپشاوې او د کاریګرو د ګمارنې بار چې کېدای شي ۴۰۰ ډالره وي، راکموي. یو تن بزګر وایي چې ماشومان یې خوښ دي چې د خپشاوې له کار څخه بېغمه دي. بزګر آفت وژونکو درملو ته تر ډېره د شک په سترګه ګوري. ګڼ شمېر وګړي د دې تولیداتو د ګټورتوب او د کوکنارو په تړاو د هغه د اغیز په اړه شک لري، خو ادعا کوي چې د خراب حاصل کلونو ته په کتو مجبور دي چې پر کښت باندې هر څه وپاشي ترڅو د کوکنارو غوزې غټې شي.




۲۲ شکل: د افت وژونکي درملو تصویر چې د هلمند په لښکرګاه کې پلورل کېږي او د کوکنارو په بوټو کې د ناروغیو لپاره کارول کېږي.




۲۳ شکل: د افت وژونکي درملو عکس چې د هلمند په لښکرګاه کې پلورل کېږي او د کوکنارو په بوټو کې د ناروغیو دلمنځه وړلو لپاره کارول کېږي.

دریېیم جدول: هرزه وژونکي درمل چې د شمالي بغرا او بکوا په صحرايي سيمو کې د کوکنارو په کروندو کې کارول کېږي

| توليدوونکی هېواد | توليدي کمپنی | کمياوي نوم | سوداګريز نوم |
|---|---|---|---|
| چين | صحرايي | Dimethyl -1-4,4 bipyridinedium dichloride 1,1 | پاراکوات |
| ايران | باور | Dimethyl -1-4,4 bipyridinedium dichloride 1,1 | پاراکوات |
| چين | فراهي | Fenoxaprop-p-ethyl | پاور پوما |
| چين | سنګينتا | Clodinafop propargyl | تاپيک |
| چين | درخشان کرنيزه اتحاديه | Clodinafop propargyl | ټيپيک |
| پاکستان | ټارکېټ | Fenoxaprop-p-ethyl | پوجين |
| چين | سنګينتا | Dimethyl -1-4,4 bipyridinedium dichloride 1,1 | ګراموکسون |
| چين | اګروزير | Dichlorophenoxy penoxy propionic acid 2,4 | ډيکلوفوپ ميتايل |
| چين | صحرايي | Dichlorophenoxy 2,4<br>penoxy propionic acid | U 46 Combi Fluid 6 |


## ۳.۴ د بازار پراختيا

په يادو سيمو کې غوره کرنيزو روښونو لکه د ژورو څاه ګانو ټکنالوژۍ، لمريزې برېښنا او هرزه وژونکو درملو ته لاسرسی د هغه بدلون ښکارندويي کوي چې د افغانستان په لېرې پرتو سيمو کې رامنځته شوی دی. هغه توليدات چې يو مهال په شمالي بغرا او يا په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ زيږديز کلونو کې په بکوا کې نه موندل کېږي، په ۲۰۱۷ زيږديز کال کې په يادو سيمو کې د لاسرسي وړ وو. پخوا به د يادو سيمو بزګرو د کندهار ښار مرکز، لښکرګاه يا هم د فراه ښار ته ورتلل. ځايي بازارونه يوازې د مېلې په نامه موقتي بازارونه وو چې يوازې څو قلمه توکي به پکې موندل کېدل. په ۲۰۱۹ کال کې ټول دغه توکي نه يوازې دا چې د ولسوالۍ بازارونو ته نږدې په يادو دښتي سيمو لکه په دلارام او نادعلي کې د لاسرسي وړ دي، بلکې د دايمي بازارونو شمېر هم په زياتېدو دی.

نوآباد شاول يو له هغو لومړنيو بازارونو څخه دی چې د بغرا په شمال کې جوړ شوی، خو دا يو غير معمول بازار دی ځکه چې د يو کانال ترمنځ موقعيت لري، خو د پخوانيو دښتي سيمو په لور غزيدلی او په دې توګه د مرکزي هلمند له دواړو سيمو څخه، يعنې د اوبه ييزو ځمکو او ژورو څاه ګانو په واسطه خړوبېدونکو ځمکو څخه يې مشتريان درلودل. د وخت په تېرېدو کله چې د شمالي بغرا سيمې وده او انکشاف وکړ، خپله يې بازار پيدا کړ. په پخوانيو دښتي سيمو کې ښه وړاندې نور بازارونه هم جوړ شول، لکه په نادعلي کې د کاظم او کوکنارو بازارونه. (۲۴ او ۲۵ انځورونه وګورئ). په داسې حال کې چې هلته يو وخت يوازې شاړې دښتې وې، د ۸۰ او ۱۰۰ هټيو په لړلو سره يو بازار جوړ شو او زياتره يې هغه توکي او خدمات پلوري کوم چې بزګرو به يو وخت د هغو د ترلاسه کولو لپاره لښکر ګاه ته سفر کاوه.

په بکوا کې هم د وضعيت پرمختګ ليدلی شو. که څه هم د ولسوالۍ مرکز سلطان بکوا، د فراه مرکز ته غځېدلې لويې لارې په اوږدو کې موقعيت لري، د دښتي سيمو شاوخوا نور بازارونه هم جوړ شوي دي. د عبدالودود په نامه يو بازار چې په بکوا کې د ګورز په ختيځ کې موقعيت لري، د ۲۰۱۸ زيږديز کال له جون څخه د ۲۰۱۹ زيږديز کال تر مارچ مياشتې پورې په ډېره ښه ښه پراخ شوی دی، دغه بازار په سيمه کې د ميتافيتامين لابراتوارونو باندې چلېږي او همدارنګه ياد بازار د افيدريا توکو لپاره عمده مارکېټ دی چې د هلمند په مرکزي غرنيو سيمو کې توليد يږي. (۲۷ انځور وګورئ).[۲۲]

۲۲ ډيوېډ منسفيلډ، الکس سودرهولم او د پايداري پراختيا او څېړنې سازمان https://blogs.lse.ac.uk/usappblog/۲۰۱۹/۰۹/۳۰/long-read-the-/unknown-unknowns-of-afghanistans-new-wave-of-methamphetamine-production




۲۴ انځور: په انځور کې د کاظم بازار پراختیا لیدل کېږي، نادعلي، زیرډیز کال۲۰۰۸-۲۰۱۸

سرچینه: السیس کمپنی.





۲۵ انځور: په تصویر کې د کوکنارو بازار پراختیا وینئ، نادعلي، ۲۰۰۸-۲۰۱۸

سرچینه: السیس کمپنی.




۲۲ شکل: د سلطاني بکوا انځور، زیږدیز کال ۲۰۱۰-۲۰۱۷

سرچینه: د آلسیس کمپنۍ




۲۷ انځور: انځور د عبدالودود بازار پراختیا ښیي، بکوا، ۲۰۱۸-۲۰۱۹.
سرچینه: د آلسیس کمپنی.

په يادو دښتي سيمو کې د دغه ډول بازارونو او نويو توليداتو -لکه د سولر تختو، د هرزه وژونکو درملو او آن د ميتافيتامين او هيروئينو د توليد لپاره د کيمياوي توکو پراختيا موږ ته د دې سيمو په اړه ډېرې خبرې له ځان سره لري.

لومړی، ښکاره خبره ده، دغه سيمې چې يو وخت شاړې دښتې وې، اوس له ملي اقتصاد او نړيوالو بازارونو سره تړل شوې دي. په ځايي بازارونو کې په پراخه کچه مصرفي توکي چې د هېواد له ګوټ ګوټ او نورو سيمو څخه راځي، موندل کېږي. هغه څه چې ډېر مهم دي، ځايي اوسېدونکي له چين څخه واردېدونکې سولر ټکنالوژي، له پاکستان، ايران او چين څخه اګروکيمياوي توکي او هم د ناقانونه مخدره توکو د توليد لپاره چې په نړيوالو بازارونو کې پلورل کېږي، د مختلفو هېوادونو له تجربو څخه ګټه اخلي. له همدې امله ستونزمنه ده چې دغه دښتې سيمې له پراختيايي بهيرونو څخه لېرې او بهر وګڼل شي، ځکه چې نه مرکزي او ولايتي حکومت شتون لري، نه هم خدمات او نه فزيکي امنيت شته.

دوهم؛ ادعا کېږي چې د دغه ډول بازارونو د رامنځته کولو تر شا د مخدره توکو قاچاقبران دي او يا هم د نوې ټکنالوژۍ د ترويج لامل د ځايي ټولنو او د هغوی د غړو بې خبري ده. شواهد ښيي چې دغه پخوانۍ دښتې سيمې په حقيقت کې د بدلون او غوړېدو په حال کې سيمې دي، کوم چې کروندګر او ځايي سوداګر دواړه د نوې ټکنالوژۍ د ترويج، توليداتو او د ناقانونه مخدره توکو د کاروبار په شمول د بازار د فرصتونو د ايجاد په برخه کې ډېر فعال دي. ځايي وګړو د ۱۹۹۰ لسيزې په لړ کې په ګاونډيو هېوادونو کې د بزګرۍ او کرنې غوره تخنيکونه زده کړي وو او پر دې سربېره له ۲۰۰۱ کال راهيسې بهر ته د افغانانو کډوالي د دې لامل شوې چې په افغانستان کې د نويو توليداتو او کرنيزې ټکنالوژۍ په رامنځته کولو کې پام ور زياتوالی راشي. ځايي بزګر له تجربو سره اشنا ښکاري او په دوامداره توګه د دې په لټه کې دي چې له محيطي او اقتصادي ننګونو سره مبارزه وکړي او د کرنيز سيستم مالي پايښت چې اوسمهال د کوکنارو پر توليد سخت متکي دی، په غوره توګه مديريت کړي.

دريېم؛ په يادو دښتي سيمو کې انسان مېشتېدنه او بدلون لکه څنګه چې ځينې خلک ګومان کوي، هومره بې نظمه نه دي. په دغو سيمو کې د ځمکو د پراختيا او خرڅلاو له امله د ملکيتونو شخړې او دعوې د ټولنې د مشرانو او د اړتيا په وخت کې د طالبانو له خوا حل و فصل کېږي. په ورته توګه په دې سيمو کې د دايمي بازارونو پراختيا د ځمکو او د مالکيت د عين حقونو له لارې تنظيم شوي دي. زياتره دغه بازارونه په مختلفو ځمکو کې چې د بېلابېلو کسانو ملکيتونه دي، جوړ شوي دي. د ځمکو او ملکيتونو په تړاو هر ډول پرېکړه د اکثريت خلکو پريکړې ته اړتيا لري او په هغه صورت کې چې ښکېلې غاړې کومې هوکړې ته ونه رسېږي، موضوع د قومي مشرانو او طالب قوماندانانو منځګړيتوب ته وړاندې کېږي. داسې پرېکړه بايد وشي چې د ټولو ښکېلو لورو ګټې په پام کې ونيول شي او د شخړې او تاوتريخوالی مخنيوی شي، ښکاري چې تر دې دمه دغه ټکي ته پام شوی دی. سره له دې چې په دې سيمو کې رسمي حکومتي سيستمونه نشته، خو د دوه اړخيزو او ډله ييزو ګټو په شمول ځايي قواعد او دودونه بايد رعايت شي.

هرګوره ؛ په دې دښتي سيمو کې د مېشتو خلکو د ژوند او معيشت د پايدارۍ په اړه ګڼې پوښتنې شته دي. که څه هم په يادو سيمو کې مېشتېدنه او اقتصادي وده دواړه له يو بل سره اوبدلې نه دي، خو آيا دغه ټولنې کولای شي چې له اقتصادي-ټولنيزې، سياسي او ايکولوجيکي پراختيا پرته پر همدې ليکه خپل ژوند ته دوام ورکړي؟ له شک پرته په دې سيمو کې د زيات نفوس د مېشتېدو ظرفيت نه شته او نه هم سرچينې دومره دي چې د شته نفوس اړتيا تر ډېرې مودې پوره کړي، پر هغې ټکنالوژيو سربېره هم چې هغوی د ځان د استفادې لپاره رامنځته کړې. په راتلونکې برخه کې به په پخوانيو دښتي سيمو کې د معيشت پر وړاندې بالقوه ګواښونه او د هغې پراخ اغېزې وڅېړل شي.

# ۵. نا پایداره پراختیا؟ په پخوانۍ شاړه دښته کې د معیشت پر وړاندې ګواښونه

## ۱.۵ زهرجنې اوبه: کمېدونکې او ککړې اوبه او د هغه اوږدمهاله اغېزې

له شک پرته چې په پخوانیو دښتي سیمو کې د ۱.۴ میلیونه انسانانو د معیشت او ژوند پر وړاندې یو ستر ګواښ د ځمکې لاندې اوبو د سطحې ښکته تلل دي. دمګړۍ په شمالي بغرا او بکوا کې د اکوافیر یا د ځمکې اوبه لرونکې طبقې په اړه ډېر کم خلک پوهېږي. د ناوړه امنیتي وضعیت او نورو شکمنو شرایطو له امله ستونزمنه ده چې د اوبو سطحه په سیستماتیکه توګه اندازه او و ارزول شي. په داسې حال کې چې د ځمکې لاندې اوبو او د هغه د تغذیې په اړه د ځایي خلکو د پوهاوي کچه ډېره محدوده ده، خو بزګر د ژورو څاه ګانو د منظم مراقبت او څارنې له امله د اوبو د سطحې په اړه یوه اندازه تجربه او پوهه لري، په ځانګړې توګه کله چې خپل واټرپمپونه او پایپونه بدلوي. له هغې راهیسې چې سولري ټکنالوژي دود شوې، ټول په دې متفق وو چې د اوبو په سطحه کې د پام وړ بدلون راغلی دی. د بېلګې په توګه؛ د بزګرو په وینا هغه مهال چې د ځمکې لاندې اوبه د ډیزلي واټرپمپونو په مرسته را ایستل کېدې، د اوبو سطحه تر ځمکې لاندې نیم یا یو متر وه، خو له ۲۰۱۸ زېږدیز کال راهیسې هر کال د اوبو سطحه له دوو تر درې مترو پورې ښکته ځي. په دې اړه ډېر لږ شکونه وو چې د اوبو د سطحې ښکته کېدل د بزګرو له خوا د سولري واټرپمپونو په شمېر کې د زیاتوالي له امله دی او دې کار اندېښنه پیدا کړې چې ښایي د ځمکې لاندې اوبه وچې شي.

د ځایي خلکو انګېرنه دا ده چې له سولري برېښنا سره اوبه وړیا دي. د اوبو د ضایعاتو د مخنیوي لپاره تدابیر ډېر کم دي. د سولري ژورو څاه ګانو لپاره کیندل شوې څاه ګانې ۱۲۰۰ کیلومتره مربع دي. دغه زېرمې کانکرېټ شوې نه دي او ځمکې ته د جذب او هوا ته د تبخیر کېدو له امله د اوبو ضایعات زیات دي. بزګران د ورځې له خوا خپل سولري پمپونه چالانوي ترڅو ذخیرې ډکې کړي. لکه څرنګه چې ولیدل شول، ځینې کروندګر آن د شپې له خوا هم ډیزلي واټرپمپونه چالانوي ترڅو په ذخیره کې ډېرې اوبه زېرمه کړي. له دې امله اندېښنې دې حد ته ورسېدې چې د راپورونو له مخې طالبانو بغرا په شمال کې د شپې له خوا د ډیزلي واټرپمپونو پر چالانولو بندیز ولګاوه. دغه اقدام د سولري واټرپمپونو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالي په اړه اندېښنو ته په ځواب کې واخیستل شو. لکه د بکوا یو تن بزګر چې وایي:«سولر به دلته اوبه او زموږ ژوند دواړه تمام کړي.»

د بزګرو په خبره په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې د بغرا په شمال کې د اوبو سطحه د **۲۵** او **۳۰** مترو ترمنځ وه، چې د ۲۰۱۰ زېږدیز کال په پرتله ۱۰ او **۱۵** متره ښکته تللې. په بکوا کې د اوبو سطحه له ۴۰ تر ۲۰ مترو پورې ده او په ډراماتیک ډول د ښکته کېدو خوا ته روانه ده. ځینو بزګرو شکایت کاوه چې څاه ګانې یې وچې شوي او اړ دي چې نوې څاه ګانې ووهي. اوسمهال د څاه ګانو د وچېدو پېښې ډېرې کمې دي، خو په یادو دښتي سیمو کې د خطراتو د ارزونې په موخه یوې سیستماتیکې څېړنې او کتنې ته اړتیا ده.

د اوبو سطحې پر ښکته کېدو سربېره، شواهد ښیي چې په یادو سیمو کې د ځمکې لاندې اوبه ککړې شوې هم دي. د بېلګې په توګه، د بغرا په شمال کې د ځمکې لاندې اوبو کیمیاوي ټسټ څرګندوي چې د نایټریټ کچه د روغتیا نړیوال سازمان له خوا په هر لیټر کې تر ټاکل شوې **۵۰** میلي ګرامه څخه لوړه ده، په ځینو ټسټونو کې آن ۱۰۰ میلي ګرامه ښودل شوې ده چې دا په ماشومانو کې د بلو سنډروم[۲۳] په نامه ناروغۍ د رامنځته کېدو خطر زیاتوي. دغه ناروغي چې د میتوموګلوبینیما په نامه هم یادېږي، د کرنیزې سرې یا پارو د کارونې له امله رامنځته کېږي او که درملنه یې ونه شي، د ماشوم د مړینې لامل کېږي. د اوبو په ککړتیا کې فلورایډ، سلفیټ او کرومیم هم شامل دي. د دې ترڅنګ په ټولو نمونو یا سمپلونو کې بیولوجیکي محتویات هم خالص نه وو، په دې معنی چې د ځمکې لاندې اوبه تر څښاک مخکې باید تصفیه یا پاکې شي.

۲۳ میډیکل نیوز ټوډې، بلو بېبي سنډروم څه شی دی؟ php.۳۲۱۹۵۵/https://www.medicalnewstoday.com/articles

په بکوا کې بیا د ځمکې لاندې اوبه دومره نه وې ککړې شوې. د نایتریت کچه د روغتیا نړیوال سازمان له خوا تر توصیه شوې کچې ښکته وه، چې دا د بغرا د شمالي سیمې په پرتله د خاورې غوره شرایط او د کیمیاوي سرې د کمې کارونې ښودنه کوي.

تر دې هاخوا چاپیریالي ګواښونه او د ځمکې لاندې اوبو ککړتیا، په پخوانیو سیمو کې د کوکنارو په کښتونو کې د هرزه وژونکو درملو د زیاتې کارونې له امله ده. ساحوي تجربې څرګندوي چې کروندګر د کوکنارو په کښتونو کې په لویه پیمانه آفت وژونکي او هرزه وژونکي درمل کاروي او د دې ډول درملو ځینې یې مخلوط ترکیبونه دي او زهري خواص لري چې پیژندل یې ستونزمن دي. زیاتره دغه انتخابي هرزه وژونکي او ځینې زهري درمل لومړی د کوکنارو په کروندو کې کارول کېږي، لکه پراکوات[24] چې په لویه کچه د غیر انتخابي هرزه وژونکو پر ځای کارول کېږي چې له همدې امله د انسان روغتیا ته زیان رسوي. (۴ جدول وګورئ).

د چهارګلک په بهیر کې کله چې د پسرلي په سر کې د کوکنارو څلور ګلان وغوړېږي، هرزه وژونکي درمل د بمبو په واسطه پر کښتونو پاشل کېږي. د هر هکتار ځمکې لپاره معیاري اندازه **۲.۵** لیتره ده. د درملو له زهري او کیمیاوي ګواښونو څخه د خوندیتوب په موخه درمل پاشونکی کس خپل مخ پر یوه دستمال یا پټو پټوي، خو ماسکونه او دستکشې، ولو که موجود هم وي، ډېر کم کارول کېږي. بزګر د دغه کیمیاوي درملو له کارونې سره د مل روغتیایي خطراتو په اړه ډېر کم پوهېږي چې د درملو د تیارولو او پاشلو په ترڅ کې ځوانان او ماشومان دواړه ترې زیانمن کېږي (**۲۸** انځور وګورئ).

د دغه ګواښونو اوږدمهاله اغېزې د هغو کسانو او د هغوی د کورنیو د روغتیا لپاره چې دغه درمل کاروي، زیان رسوونکي دي په ځانګړې توګه د افغانانو د ناروغۍ لوړې کچې ته په کتو.

۲۴ ډیوېډ منسفیلډ، له هغه بد څخه چې هغوی بدتر کړ: په جګړه ځپلو ولایتونو هلمند او ننګرهار کې د اپینو کښت، (کابل: د افغانستان د تحقیق او ارزونې واحد، ۲۰۱۴)، پ. https://areu.org.af/publication/۱۴۱۱/۲۴

ثلورم جدول: هرزه وژونکي درمل او له هغو سره تړلې روغتیايي ستونزې[۲۵]

| روغتیايي ستونزې | | | | | | | | کیمیاوي ترکیب | د محصول نوم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د انسان عمومي روغتیا | د اعصابو زهرجن کېدل | بیا تولید/ پراختیايي اغېزې | سرطان | د سترګو سوزش | د پوستکي حساسیت | د پوستکي سوزش | د تنفسي کانال سوزش | | |
| د ځيګر، معدې، پښتورګو، تنفسي سیستم او د کولمو د زهري کېدو احتمال | نه | ممکن | ممکن | هو | معلومات نشته | هو | هو | 1,1 Dimethyl -1-4,4 bipyridinedium dichloride | پاراکوات/ پاراموکسون |
| د ځيګر او پښتورګو د زهري کېدو شونتیا | معلومات نشته | ممکن | معلومات نشته | هو | معلومات نشته | هو | هو | Fenoxaprop-p-ethyl | پاور پوما/پوجین |
| د تخمدانونو، پروستات او د وینې د زهري کېدو شونتیا | ممکن | ممکن | هو | هو | هو | هو | نه | Clodinafop propargyl | ټاپیک/ټپېک |
| د امریکا د چاپېریال ساتنې ادارې د معلوماتو له مخې د پښتورګو او ځيګر زهرجن کېدل ښایي رونشو پنومینا یا ساه لندې لامل شي او د تنفسي سیستم د تخریب شونتیا هم شته | نه | ممکن | ممکن | نه | هو | نه | هو | 2,4 Dichlorophenoxy penoxy propionic acid | Diclofop methyl/ U46 Combi Fluid 6 |

۲۵ د هرفورډ شایر پوهنتون د افت وژونکو درملو د ډېټابېس د معلوماتو له مخې https://sitem.herts.ac.uk/aeru/ppdb/en/atoz.htm#M



۲۸ ام انځور: یو تن بزګر په داسې حال کې چې زوی يې ترڅنګ ولاړ دی، د کوکنارو پر کښت هرزه وژونکې درمل پاشي، شمالي بغرا، هلمند.

## ۲.۵ له عروجه تر زواله: د کوکنارو د کښت سقوط

د کوکنارو کښت په دغه پخوانيو دښتي سيمو کې د انسانانو د ژوند د پايښت لامل شوی دی. د کوکنارو بيه له دې کبله ګرانه ده چې ناقانونه دي، په ځانګړې توګه کله چې د طالبانو په وخت کې د کوکنارو پر کښت بنديز ولګېد، يو کيلو کوکنار، **۵۰۰** امريکايي ډالرو ته پورته شول، چې دې کار په پخوانيو دښتي سيمو کې ناقانونه کاروبار او مېشتېدنې ته اقتصادي ارزښت ورکړ. که طالبانو په ۲۰۰۰ او ۲۰۰۱ زېږديز کلونو کې د کوکنارو کښت نه وای بند کړی او د **۱۹۹۰** زېږديز کلونو په څېر د يو کيلو کوکنارو نرخ د **۳۰** او **۲۰** امريکايي ډالرو ترمنځ وای، نو دغه بيدياوې به له شک پرته شاړې وای.

په هر حال؛ تر بندېدو او تر هغې وروسته د دې بوټي د کښت د مخنيوي تر هڅو پورې د کوکنارو بيه لوړه شوه او د **۲۰۰۸** زېږديز کال تر مني پورې نسبتاً لوړه پاتې شوه. تر هغې وروسته دغه شاړې يا دښتي ځمکې لکه څرنګه چې پورته يې يادونه وشوه، له وړاندې د زورواکو کاروباريانو او قبيلوي ډلو له خوا اشغال شوې ول. تر دې وروسته، بزګرو څو کاله پرله پسې لږ **حاصلات** ترلاسه کول. په دې وروستيو کې د ترياکو بيې په ډراماتيک ډول راښکته شوې چې غالباً د **حاصل** تر ټولو بد کال **۲۰۱۸** زېږديز و چې د يو کيلو ګرام بيه يې، **۴۵** ډالرو ته راښکته شول. په بکوا کې، لږ **حاصل** او ټيټې بيې دواړه ورانوونکې وې، چې ګڼ شمېر بزګر يې زيانمن کړل.

په لاندې **۵** او **۲** جدول کې د هغې خسارې يا زيان کچه په ګوته شوې چې د **۲۰۱۸-۲۰۱۹** زېږديز کال د کښت په موسم کې بزګرو ته واوښت. **هغه** مهال له هر هکټار ځمکې څخه **۲۲.۵** کيلو ګرامه او په ځينو مواردو کې تر دې هم لږ**حاصل** ترلاسه کېده. دواړه جدولونه د کوکنارو **خالص حاصل** ښيي. په جدولونو کې دا هم ښودل شوې چې د ځمکې د اجارې سيستم او د ځمکې د اوبو لګونې سيستم (يعنې د سولري او که د ډيزلي واټرپمپ له لارې اوبه کېږي) ته په کتو دغه **حاصل** څنګه د ځمکوال او بزګر ترمنځ وېشل کېږي. دغه جدولونه څرګندوي چې تر لومړني لګښت وروسته، **هغه** کسان چې سولر کاروي کولی شي چې د کوکنارو له کښت څخه ښه خالصه ګټه لاس ته راوړي. **هغه** بزګر چې د کورنۍ غړي يې په کروندو کې کار کوي او سولري واټرپمپ کاروي، له هر هکټار څخه **۴۵۰** امريکايي ډالره ګټي، خو هغوی چې ډيزلي واټرپمپ کاروي له هر هکتار ځمکې څخه يوازې **۵۵** ډالره ترلاسه کوي. په ورته ډول، **هغه** ځمکوال چې خپلې ځمکې په اجاره ورکوي، کولی شي چې د ډيزل پر ځای د سولر سيستم څخه په ګټنې خپل لګښتونه راکم او د تاوان مخه ونيسي.

له شک پرته، د حاصل تر فصل وروسته د ځو میاشتو لپاره په دې موخه د تریاکو ساتل چې ګنې قیمتونه یې لوړ شي، د خالصې ګټې له زیاتوالي سره مرسته کوي، البته چې د کیفیت د خوندیتوب لپاره په دوه یا درې پوښونو کې وساتل شي. خو د اجاره ورکوونکو لپاره چې غواړي تر حاصل راټولولو وروسته سملاسي تریاک وپلوري، ساتل او د پلور ځنډول یې په ډېر نادر ډول پېښېږي. هغوی د یوې لس کسیزې کورنۍ لپاره باید ۲۷۰ ډالره خالص عاید د لاسته راوړلو لپاره مبارزه وکړي. دغه اندازه عاید به د یوې کورنۍ د مړولو لپاره که چېرته د هغوی د خپلو ځمکو او باغونو حاصلات هم ورسره یو ځای کړو، کافي وي، خو که چېرته روغ و رنځور- په ځانګړې توګه د هغوی د خوړو تېښې او محدود کیفیت ته په کتو- یا نورو ټولنیزو اړتیاوو لکه ودونو یا خیر و خیرات ته پام وکړو، نو بیا دغه عاید کافي نه ګڼل کېږي.

په پنځم او شپږم جدول کې محاسبې ښیي چې د کوکنارو کښت په کومو حالتونو کې له مالي پلوه پر یوه بې ګټې کښت باندې بدلېږي، آن د هغو بزګرو لپاره چې ځمکې یې خپلې دي او هم سولر برېښنا کاروي. د بېلګې په توګه؛ د ۲۰۱۸ زیږدیز کال د اپریل/مۍ د حاصل راټولولو په فصل کې د فی کیلو ګرام اپینو بیه ۴۵ ډالرو ته راښکته شوې وه. که یو بزګر له سولر څخه په استفادې له هر هکتار ځمکې (۰.۲۵ جریب) څخه ۱۵.۲۱ کیلو ګرامه حاصل راټول کړي، بیا یې هم تاوان کړی. خو هغه کروندګر چې ډیزلي برېښنا کاروي او همدومره حاصل راټول کړي، نو په هر هکتار کې به ۵۰۰ ډالر تاوان کوي. دغه ډول حاصلات هغومره غیر معمول نه دي، لکه څرنګه چې تمه یې کېږي. د بېلګې په توګه په ۲۰۱۵ زیږدیز کال کې د بوغرا په شمال کې له هر جریب ځمکې څخه له ۱ تر ۲ چارکو لږ تریاک ترلاسه شوي وو، یعنې له هر هکتار څخه له ۵.۲ تر ۱۱.۲ کیلو ګرامه حاصل راټول شوي ول.

که څه هم؛ تر ۲۰۱۲ زیږدیز کال مخکې به د حاصل راټولونې په فصل کې یو بزګر د خپلې کورنۍ له کاریګرو څخه په استفادې په فی هکتار ځمکه کې له ۲۷.۵ کیلو ګرامه حاصل څخه معمولاً ۳،۳۲۴ امریکایي ډالره خالصه ګټه لاسته راوړله، خو هغو کروندګرو چې کاریګر به یې ګمارل، له همدومره حاصل څخه ۱،۷۱۰ امریکایي ډالر خالصه ګټه ترلاسه کوله. دا هغه خالصه ګټه ده چې د کروندګرو لپاره د ښو خوړو لکه په اونۍ کې څو ورځې د غوښې او مېوې له مصرف سره معادل ده، خو تر دې هاخوا دغه مقدار عاید د دې وړ نه دی چې سپما شي، ځمکه پرې وپېرل شي او یا هم د کورنۍ د غړو د جدي ناروغیو درملنه پرې وشي. آن که په هر هکتار ځمکه کې له ټولټال ۲۲.۵ کیلو ګرامه حاصل څخه د فی کیلو ګرام په بیه کې ۱۰۰ ډالره لوړوالی راشي، نو هغه کروندګر چې کاریګر هم استخداموي، په هر هکتار کې به ۹۰ ډالره خالصه ګټه لاسته راوړي، خو هغه ځمکوال چې د کورنۍ غړي د کاریګرو په توګه کاروي، په هر هکتار کې به ۱،۱۴۳ ډالره خالصه ګټه لاس ته راوړي.

خو په حاصل او بیو دواړو کې زیاتوالی به د هغو بزګرو لپاره چې خپل کاریګر لري، ۵،۳۰۵ ډالره خالصه ګټه او هغوی چې له بهرون نه کارګر ګماري، ۳،۱۲۸ ډالر خالصه ګټه ولري. آن د دغه لوړ عاید په صورت کې د هرې کورنۍ د سړي سر عاید به په ترتیب سره ۱.۴۵ او ۰.۸۲ امریکایي ډالر وي، دا څرګندوي چې یو کروندګر اړ دی چې په ورځ کې د ۱.۹۰ ډالره ګټې لپاره تر دوو هکتارو زیاته ځمکه کې کوکنار وکري، چې دا د شدیدې بېوزلۍ د کچې ښکارندويي کوي.

دغه جدولونه په ډاګه کوي چې کروندګر د کوکنارو په بیه او حاصل کې د بدلون له امله څومره زیانمنونکي دي او همدارنګه د بشري ځواک او اوبو د لګښتونو د راکمولو لپاره د ستراتیژیو جوړول څومره مهم دی ترڅو په پخوانیو دښتي سیمو کې د کرنیزو تولیداتو ارزښت لوړ شي. په یادو سیمو کې کروندګر له ځانګړې ننګونې سره مخ دي، هغه دا چې په هر ښه کال پسې ډېر بد کلونه هم وي ځکه چې هم حاصل کم وي او هم بیې راټیټېږي. په حقیقت کې په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې په بکوا او د بغرا په شمال کې ډېری مرکه کوونکو چې په یادو دښتي سیمو کې یې د بزګرۍ تجربه درلوده، څلور یا پنځه کاله مخکې د «حاصل د ښه کال» یادونه کوله.

بله ستونزه دا ده چې د تریاکو د تولید د لګښتونو د راکمولو انتخابونه محدود دي. په دې پړاو کې، ستونزمنه ده چې ووایو چې نور څه ډول ټکنالوژیکي اسانتیاوې لګښتونه راکمولی او مولدیت زیاتولی شي. په ورته وخت کې د اوبو د سطحې د ښکته کېدو، مالګین کېدو او ککړېدو په شمول د ژوند چاپېریال تخریب کال په کال زیاتېږي- په ډراماتیک ډول د سولر انرژۍ په واسطه د ځمکې لاندې اوبو استخراج د دې تخریب یو لامل دی. د تریاکو حاصل د خاورې د خرابوالي، حشراتو او ناروغیو له امله زیانمن شوی او په تولید کې د لا زیات کمښت یا نزول احتمال خورا لوړ دی.

د دې اټکل ډېر ستونزمن شوی چې په دغه دښتي سیمو کې به وضعیت ښه والی و مومي، بلکې نور هم د خرابېدو لور ته روان دی او پایله یې دا ده چې یو شمېر خلک د سیمې پرېښودو ته اړ شوي دي. ښایي دا ټول په یو وخت کې پېښ نه شي. په لومړي سر کې ښایي هغه خلک د سیمې پرېښودو ته اړ شي چې د ژوندي پاتې کېدو توان یې له لاسه ورکړی- په ځانګړې توګه اجاره اخیستونکي، بزګران او هغوی چې ځمکې یې حاصل نه ورکوي، خو ښایي خبره دې حد ته ورسېږي چې یوه ورځ په دې دښتي سیمو کې د ځمکې لاندې اوبه وچې شي چې په دې صورت کې به ټول بزګر د سیمې جبري پرېښودو ته اړ شي. اوس پوښتنه دا ده چې دغه خلک به چېرته ځي او چېرته چې دوی مسکن غوره کوي، پر ژوند به یې څه اغېز پرېباسي؟

پنځم جدول: د ډیزلي واټرپمپونو په مرسته د خړوبېدونکو ځمکو د کوکنارو عاید، بکوا، ۲۰۱۷-۱۸

(امریکایي ډالر/هکتار) سرچینه: ساحوي څېړنه

| الف: پانګه | مقدار | واحدونه | لګښت (PR) | ټولټال (PR) | افغانۍ | امریکایي ډالر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| څاه | ۱۰۰ | مترونه | ۵۵۰ | ۵۵,۰۰۰ | ۲۶,۹۵۰ | ۵۵۰ |
| واټر پمپ | ۱ | واحد | ۶۵,۰۰۰ | ۶۵,۰۰۰ | ۳۱,۸۵۰ | ۶۵۰ |
| جنراتور | ۱ | واحد | ۴۲,۰۰۰ | ۴۲,۰۰۰ | ۲۰,۵۸۰ | ۴۲۰ |
| پایپونه | ۱ | "۵-"۳ | ۵۵,۰۰۰ | ۵۵,۰۰۰ | ۲۶,۹۵۰ | ۵۵۰ |
| | | | | ۰ | ۰ | ۰ |
| الف: ټولټال لګښتونه | | | ۱۲۲,۵۵۰ | ۲۱۷,۰۰۰ | ۱۰۶,۳۳۰ | ۲,۱۷۰ |
| | | | | | | |
| ب: لګښتیز مواد | مقدار | واحدونه | لګښت | ټولګه | افغانۍ | امریکایي ډالر |
| تخم | ۲۰ | کیلو ګرام | ۱۱۱ | ۲,۲۲۰ | ۱,۰۸۷,۸ | ۲۲,۲ |
| برېښنا | ۱۰ | ساعتونه | ۲,۵۰۰ | ۲۵,۰۰۰ | ۱۲,۲۵۰ | ۲۵۰ |
| پارو | ۵ | ټېلر | ۳۵,۰۰۰ | ۱۷۵,۰۰۰ | ۸۵,۷۵۰ | ۱۷۵۰ |
| هرزه وژونکي | ۲,۵ | لیټر | ۲,۰۰۰ | ۵,۰۰۰ | ۲,۴۵۰ | ۵۰ |
| افت وژونکي | ۲,۵ | لیټر | ۲,۸۰۰ | ۷,۰۰۰ | ۳,۴۳۰ | ۷۰ |
| ډیزل | ۴۰۰ | لیټر | ۸۸ | ۳۵,۲۰۰ | ۱۷,۲۴۸ | ۳۵۲ |
| تېل او فلټر | ۱۲ | واحدونه | ۴,۰۰۰ | ۴۸,۰۰۰ | ۲۳,۵۲۰ | ۴۸۰ |
| توره پارو | ۱۰ | بوری (۵۰ کیلو) | ۴,۸۰۰ | ۴۸,۰۰۰ | ۲۳,۵۲۰ | ۴۸۰ |
| سپینه پارو | ۱۰ | بوری (۵۰ کیلو) | ۲,۲۰۰ | ۲۲,۰۰۰ | ۱۰,۷۸۰ | ۲۲۰ |
| استخدام شوي کارګر | ۰,۲۵ | د اپینو حاصل | ۳۰,۰۰۰ | ۷,۵۰۰ | ۳,۶۷۵ | ۷۵ |
| د کاریګرو لپاره ډوډۍ | ۱۴۰ | کسان د ورځې | ۲۵۰ | ۳۵,۰۰۰ | ۱۷,۱۵۰ | ۳۵۰ |
| ب (۱) لاندې ټولګه: لګښتیزه توکي (استخدام شوي کاریګر) | | | | ۴۰۹,۹۲۰ | ۲۰۰,۸۶۰,۸ | ۴,۰۹۹,۲ |
| ب (۱) لاندې ټولګه: لګښتیزه توکي (اکورني کاریګر) | | | | ۳۱۲,۴۲۰ | ۱۵۳,۰۸۵,۸ | ۳,۱۲۴,۲ |
| | | | | | | |
| ج: د پانګې تاوان | | | | | | |
| واټرپمپ | ۰,۵ | | ۶۵,۰۰۰ | ۳۲,۵۰۰ | ۱۵,۹۲۵ | ۳۲۵ |
| جنراتور | ۰,۵ | | ۴۲,۰۰۰ | ۲۱,۰۰۰ | ۱۰,۲۹۰ | ۲۱۰ |
| پایپونه | ۰,۵ | | ۵۵,۰۰۰ | ۲۷,۵۰۰ | ۱۳,۴۷۵ | ۲۷۵ |
| ټول لګښت | | | | ۸۱,۰۰۰ | ۳۹,۶۹۰ | ۸۱۰ |
| فی جریب | | | | ۴,۰۵۰ | ۱,۹۸۴,۵ | ۴۰,۵ |
| | | | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د: حاصل | | | | | | |
| اپین | ۵ | Man (۴,۵ kg) | ۳۰,۰۰۰ | ۱۵۰,۰۰۰ | ۷۳,۵۰۰ | ۱,۵۰۰ |
| وابنه | ۱۸۲۵ | Days | ۱۰۰ | ۱۸۲,۵۰۰ | ۸۹,۴۲۵ | ۱,۸۲۵ |
| تخم | ۳۵ | Seer (۷ kg) | ۶۶ | ۲,۳۱۰ | ۱,۱۳۱,۹ | ۲۳,۱ |
| لاندې ټولګه: ناخالصه ګټه | | | | ۳۳,۴۸۱۰ | ۱۶۴,۰۵۲,۹ | ۳,۳۴۸,۱ |
| | | | | | | |
| ر: تر حاصل وروسته اخاذې ګانې | | | | | | |
| ملا | ٪۵ | | ۱۵۰,۰۰۰ | ۷,۵۰۰ | ۳,۶۷۵ | ۷۵ |
| طالبان | ٪۲,۵ | | ۱۵۰,۰۰۰ | ۳,۷۵۰ | ۱,۸۳۷,۵ | ۳۷,۵ |
| پر سولر د طالبانو مالیه | ۱ | | ۱,۵۰۰ | ۱,۵۰۰ | ۸۵۵ | ۱۵ |
| زېرمجموعه: تر حاصل وروسته ټولټال اخاذې | | | | ۱۲,۷۵۰ | ۶,۲۴۷,۵ | ۱۲۷,۵ |
| | | | | | | |
| خالصه ګټه: د کارګرو نه استخدام | | | | | | |
| د کښت مالک ته خالصه ګټه- کورني کاريګر | | | | ۵,۵۹۰ | ۲,۷۳۹,۱ | ۵۵,۹ |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| خالصه ګټه: استخدام شوي کاريګر | | | | | | |
| د کښت مالک ته خالصه ګټه- د حاصل راټولونې په وخت کې د کارګرو استخدام | | | | ۹۱,۹۱۰- | ۴۵,۰۳۵,۹- | ۹۱۹,۱- |
| | | | | | | |
| د اجاره اخيستونکي لپاره خالصه ګټه (۵/۱) | | | | ۲۲,۹۲۲ | ۳۲,۸۱۱,۳۸ | ۲۲۹,۲۲ |
| د ځمکوال لپاره خالصه ګټه (۵/۴) او د ټولو لګښتونو ورکړه | | | | ۱۵۸,۸۷۲- | ۷۷,۸۴۷,۳- | ۱,۵۸۸,۷۲- |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| د اجاره اخيستونکي لپاره خالصه ګټه (۷/۲) ټول لګښتونه | | | | ۱۳۴,۷۳۳- | ۶۶,۰۱۹,۴- | ۱,۳۴۷,۳۳- |
| د ځمکوال لپاره خالصه ګټه (۷/۱) له پانګې پرته بل کوم لګښت نه لري | | | | ۴۲,۸۲۳,۴ | ۲۰,۹۸۳,۴۷ | ۴۲۸,۲۳۴ |

**شپږم جدول: د سولري واټرپمپونو په مرسته د خروبېدونکو ځمکو د اپینو عاید، بکوا، ۲۰۱۷-۱۸**

**(امریکایي ډالر/هکتار) سرچینه: ساحوي څېړنه**

| الف- پانګه | مقدار | واحدونه | لګښت | ټولټال | افغانۍ | امریکایي ډالر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ځاه | ۱۰۰ | مترونه | ۲۵۰ | ۲۵,۰۰۰ | ۳۷,۰۵۰ | ۲۵۰ |
| واټرپمپ | ۱ | واحدونه | ۷۰,۰۰۰ | ۷۰,۰۰۰ | ۳۹,۹۰۰ | ۷۰۰ |
| پایپونه | ۱ | واحدونه | ۵۵,۰۰۰ | ۵۵,۰۰۰ | ۳۱,۳۵۰ | ۵۵۰ |
| ترانسفرمر | ۱ | واحدونه | ۲۲,۰۰۰ | ۲۲,۰۰۰ | ۱۲,۵۴۰ | ۲۲۰ |
| سولري تختې | ۳۲ | واحدونه | ۱۱,۰۰۰ | ۳۹۲,۰۰۰ | ۲۲۵,۷۲۰ | ۳,۹۲۰ |
| د برېښنا مزی | ۲ | بنډل | ۳,۰۰۰ | ۲,۰۰۰ | ۳,۴۲۰ | ۲۰ |
| فرېم | ۵ | وحدونه | ۵,۰۰۰ | ۲۵,۰۰۰ | ۱۴,۲۵۰ | ۲۵۰ |
| نصبول | ۱ | تخنیکي کس | ۲,۰۰۰ | ۲,۰۰۰ | ۳,۴۲۰ | ۲۰ |
| ذخیره | ۴۰ | ساعتونه | ۲۰۰ | ۲۴,۰۰۰ | ۱۳,۲۸۰ | ۲۴۰ |
| الف: ټولټال لګښتونه | | | ۱۷۳,۲۵۰ | ۲۲۹,۰۰۰ | ۳۸۱,۳۳۰ | ۲,۲۹۰ |
| | | | | | | |
| ب: مصرفي توکي | مقدار | واحدونه | لګښت | ټولټال | افغانۍ | امریکایي ډالر |
| تخم | ۲۰ | کیلوګرام | ۱۱۱ | ۲,۲۲۰ | ۱,۲۲۵,۴ | ۲۲,۲ |
| برېښنا | ۱۰ | ساعتونه | ۲,۵۰۰ | ۲۵,۰۰۰ | ۱۴,۲۵۰ | ۲۵۰ |
| کمیاوي سره | ۵ | ټېلر | ۳۵,۰۰۰ | ۱۷۵,۰۰۰ | ۹۹,۷۵۰ | ۱,۷۵۰ |
| هرزه وژونکې | ۲,۵ | لیټر | ۲,۰۰۰ | ۵,۰۰۰ | ۲,۸۵۰ | ۵۰ |
| افت وژونکې | ۲,۵ | لیټر | ۲,۸۰۰ | ۷,۰۰۰ | ۳,۴۳۰ | ۷۰ |
| توره پارو | ۱۰ | بورۍ (۵۰ کیلو) | ۴,۸۰۰ | ۴۸,۰۰۰ | ۲۷,۳۲۰ | ۴۸۰ |
| سپینه پارو | ۱۰ | بورۍ (۵۰ کیلو) | ۲,۲۰۰ | ۲۲,۰۰۰ | ۱۲,۵۴۰ | ۲۲۰ |
| استخدام شوي کارګر | ۰,۲۵ | د اپین حاصل | ۱۵۰,۰۰۰ | ۳۷,۵۰۰ | ۲۱,۳۷۵ | ۳۷۵ |
| د کارګرو لپاره ډوډۍ | ۱۴۰ | کس په ورځ کې | ۳۰۰ | ۴۲,۰۰۰ | ۲۳,۹۴۰ | ۴۲۰ |
| ب (۱) زېرمجموعه: مصرف (استخدام شوي کاریګر) | | | | ۳۲۳,۷۲۰ | ۲۰۷,۳۲۰,۴ | ۳,۲۳۷,۲ |
| ب (۱) زېرمجموعه: مصرف (کورني کاریګر)) | | | | ۲۷۷,۲۲۰ | ۱۵۸,۰۱۵,۴ | ۲,۷۷۲,۲ |
| | | | | | | |
| د: د پانګې زیان | | | | | | |
| پایپونه | ۰,۵ | | ۵۵,۰۰۰ | ۲۷,۵۰۰ | ۱۵,۲۷۵ | ۲۷۵ |
| مجموعی | | | | ۲۷,۵۰۰ | ۱۵,۲۷۵ | ۲۷۵ |
| في جریب | | | | ۱,۳۷۵ | ۷۸۳,۷۵ | ۱۳,۷۵ |
| | | | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د: حاصل | | | | | | |
| اپین | ۵ | من (۴.۵ کیلو ) | ۳۰,۰۰۰ | ۱۵۰,۰۰۰ | ۸۵,۵۰۰ | ۱,۵۰۰ |
| وابنه | ۱,۸۲۵ | ورځې | ۱۰۰ | ۱۸۲,۵۰۰ | ۱۰۴,۰۲۵ | ۱,۸۲۵ |
| تخم | ۳۵ | سېر (۷ کیلو ) | ۲۲ | ۲,۳۱۰ | ۱,۳۱۶,۷ | ۲۳,۱ |
| زېرمجموعه: ناخالصه ګټه | | | | ۳۳۴,۸۱۰ | ۱۹۰,۸۴۱,۷ | ۳۳۴۸,۱ |
| | | | | | | |
| ر: تر حاصل راټولونې وروسته اخاذي ګانې | | | | | | |
| ملا | ٪۵ | | ۱۵۰,۰۰۰ | ۷,۵۰۰ | ۴,۲۷۵ | ۷۵ |
| طالبانو مالیه پر اپینو | ٪۲,۵ | | ۱۵۰,۰۰۰ | ۳,۷۵۰ | ۲,۱۳۷,۵ | ۳۷,۵ |
| د طالبانو مالیه پر سولر | | | ۵,۰۰۰ | ۵,۰۰۰ | ۲,۸۵۰ | ۵۰ |
| زېرمجموعه: تر حاصل وروسته اخاذي ګانې | | | | ۱۱,۲۵۰ | ۶,۴۱۲,۵ | ۱۱۲,۵ |
| | | | | | | |
| خالصه ګټه: کاریګر نه دي استخدام شوي | | | | | | |
| د کښت کوونکي لپاره خالصه ګټه- کورني کاریګر | | | | ۴۴,۹۲۵ | ۲۵,۶۳۰,۰۵ | ۴۴۹,۲۵ |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| خالصه ګټه: استخدام شوي کاریګر | | | | | | |
| د ځمکې مالک ته خالصه ګټه- د حاصل راټولونې په وخت کې استخدام شوي کاریګر | | | | ۴۱,۵۳۵- | ۲۳,۶۷۵- | ۴۱۵,۳۵- |
| | | | | | | |
| د اجاره اخیستونکي ورکوونکي خالصه ګټه (۵/۱) او لګښت نه لري | | | | ۶۶,۹۶۲ | ۳۸,۱۶۸,۳۴ | ۶۶۹,۶۲ |
| د ځمکې د مالک لپاره خالصه ګټه (۵/۴) او ټول لګښت ورکوي | | | | ۱۰۸,۴۹۷- | ۶۱,۸۴۳,۳- | ۱,۰۸۴,۹۷- |
| | | | | | | |
| | | | | | | |
| د اجاره اخیستونکي لپاره خالصه ګټه (۷/۲) | | | | ۸۷,۰۳۳,۴- | ۴۹,۶۰۹- | ۸۷۰,۳۳۴- |
| د ځمکې د مالک لپاره خالصه ګټه (۷/۱) او له پانګې پرته بل لګښت نه لري | | | | ۴۵,۴۹۸,۴ | ۲۵,۹۳۴,۰۹ | ۴۵۴,۹۸۴ |

## ۳.۵ ورېږي بزګر: د یوه متخاصم او کوچېدونکي ولس ګواښ

که څه هم له نوې ټکنالوژۍ لکه د سولر برېښنا او د هرزه وژونکو درملو زیاتېدونکي کارونه د کوکنارو د تولید اړونده لګښتونه راکموي، خو دغه ټکنالوژۍ په دې سیمه کې د کرنې اوږدمهاله ګټه او هلته د مېشتو کروندګرو روغتیا هم اغېزمنوي. په راتلونکو څو کلونو کې له دغه دښتې سیمو څخه د لوی شمېر خلکو د بې ځایه کېدو شونتیا ډېره زیاته ده.

لومړني کسان چې ښایي له دغه صحرایي سیمو څخه کډه شي، بزګران او اجاره اخیستونکي[۲۶] دي. د دې ډلې یو شمېر خلک له وړاندې په ۲۰۱۵ لګښتیزه کال کې له خپلو مېنو بې ځایه شوي وو، که څه هم دا بې ځایه کېدنه د لنډ وخت لپاره وه او لامل یې د سولري برېښنا او کوکنارو د حاصلاتو کموالی و. هغه مهال د کوکنارو حاصل څلور کاله پر له پسې لږ و او اجاره اخیستونکو نه شوای کولی چې آن خپلې لومړنۍ اړتیاوې هم پوره کړي. ځینې خلک له سیمې وکوچېدل او په هغو سیمو کې ځای پر ځای شول چې اوبه یې لرلې لکه مالګیر، شین کلی، لوی باغ، مارجه او زرغون کلی. ځینو نورو په خپل کلیو کې د ځمکو په لټه کې وو.[۲۷]

ګڼ شمېر په دې پوهېدل چې کانال ته نږدې په اوبه لرونکې سیمه کې د ځمکو د موندلو لپاره هیلې به یې پوره نه شي او په پخوانیو دښتې سیمو کې د بې ثمره ځمکو له اوږدمهاله اغېزو خبر و او هم په دې پوهېدل چې ښایي هېواد پرېږدي او بهر لاړ شي[۲۸]. لکه په دشت آب پشک کې یو تن مرکه کوونکي چې وویل:«زه به بېرته له دې سیمې څخه بښکته خوا ته لاړ شم. نور اجاره اخیستونکي هم ځي. که چېرې هر کال لکه د سږ کال په شان حاصل ولرو، مجبور یو چې له دې هېواده کډه وکړو.»[۲۹]

په دې څېړنه کې د پوښتل شویو کسانو ۵۴ سلنه چې بزګران او اجاره اخیستونکي وو او په پخوانۍ سوېل لویدیځه سیمه کې له مېشتو تخمیناً ۱.۴ میلیونه انسانانو څخه ښایي نیمایي یعنې ۷۷۱،۴۰۰ کسان بې ځایه او د ځمکې یا کار په لټه کې شي. لکه د ۲۰۱۵ کال په څېر د سوېل لوېدیځ اوبه لرونکو سیمو لکه د هلمند کانال ته څېرمه سیمو لپاره به اسانه نه وي چې په دومره شمېر کسان جذب کړای شي، په ځانګړې توګه د سرچینو له شتون پرته، ترڅو د کوکنارو تولید پراخ کړي، چې دا کار به د کارګري شرایطو د سختېدو له امله اجاره اخیستونکو ته تقاضا لوړه کړي. په اوبه لرونکو او کرنیزو سیمو کې د ځمکو نشتوالي ته په کتو د دې قوي شونتیا شته چې ښایي یو شمېر کوچېدونکي کسان د کار او غریبۍ په تکل لښکرګاه، ګرشک، کندهار او ایران ته لاړ شي. د دې اغېز به دا وي چې په ښاري سیمو کې به د نفوسو تراکم زیات، د خدماتو او سرچینو د لاسته راوړلو لپاره به سیالي سخته او د ژوند معیارونه به خراب شي.

دوهمه برخه کډوال په پخوانیو دښتې سیمو کې د ځمکې خاوندان دي: د دې نمونې پرېښستې شاوخوا ۲۴۸،۰۰۰ نفوس دی. دا کسان به په دې دښتې سیمو کې د پاتې کېدو لپاره مقاومت وکړي او د یوه ښه حاصلخېزه کال په هیله به شپا سبا کوي، ترڅو ټول خراب کلونه جبران کړي. دا هغه ډله ده چې نه غواړي چېرته لاړ شي، هغوی دلته پاخه اړولي او د تګ اراده نه لري.

دغه ډله خلک به له هر راز بحران سره د مبارزې لپاره هر هغه څه چې په لاس کې لري، ښایي وپلوري، لکه ښایي د ولور په بدل کې خپلې لوڼې نورو ته په نکاح کړي او یا هم د پیسو د ګټلو لپاره د خپل کورنۍ غړي نورو سیمو ته د کار یا ځمکې[۳۰] د پیدا کولو په موخه واستوي.[۳۱] خو پر له پسې خراب کلونه به بالاخره د هغوی شتمنۍ ټوله تمامه کړي او بیا به بل هېڅ انتخاب و نه لري، مګر دا چې سیمه پرېږدي.

۲۶ «ډېری هغه کسان چې ځمکه نه لري، سیمه به پرېږدي»: (دشته آب پشک #۴) «که وضعیت همداسې دوام وکړي، هېڅوک په دې دښته کې پاتې نه شي، ځکه چې له کوکنارو پرته د ژوند لپاره بل فرصت نه شته. « (شنه جامه#۲).

۲۷ "زه به بیرته ش.م ګروپ ته لاړ شم که چېرته ځمکه پیدا کړم. " (شنه جامه)؛ "ځینې کسان به خپل وطن ته لاړ شي، ځکه چې دلته په کوکنارو کې ګټه نه شته. په اوړي کې به بېرته خپل کلي ته لاړ شم. " (دشت آب پشک#۱۰).

۲۸ «زه پلان لرم چې له دې ساحې کډه وکړم. غواړم وطن ته لاړ شم. و به ګورم که ځمکې پیدا کړم. په اوړي کې به روز مزدوري وکړم او په ښکتنۍ برخه کې به په ځمکو کې کار وکړم. (شنه جامه#۴)؛ «زما حاصل ډېر خراب و. نه پوهېږم چې لاړ شم که پاتې شم، نه پوهېږم چې چېرته لاړ شم. که چېرته په کوزه برخه کې ځمکه پیدا کړم بیا هېڅکله دې دښتې ته رانشم. « (شنه جامه#۸).

۲۹ دشت آب پشک#۲.

۳۰ د بېلګې په توګه، د ۲۰۱۸ کال په پسرلي کې د بکوا په اچکو کارېز سیمه کې یو تن بزګر وویل چې خپل ورور یې د افغانستان شمالي ولایت بادغیس ته د کوکنارو د کرلو لپاره واستاوه. هغه ادعا وکړه چې هلته له بکوا څخه نور کروندګر هم راتلل او د کوکنارو د کښت لپاره یې ځمکې اجاره کولې.

۳۱ « ما سږ کال خپل لور د ۱،۰۰۰،۰۰۰ کلدارې ولور په بدل کې ورکړه، خو تر اوسه مې ولور نه دی ترلاسه کړی. دلته هېڅوک له حکومت څخه خوښ نه دي ځکه چې خلکو سږکال خپل کوکنار له لاسه ورکړل. « (دشت آب پشک#۱۴(.

که څه هم د شمېر له پلوه کم دي، خو په دغه دښتي سیمو کې د ځمکو مالکین د اجاره اخیستونکو په پرتله ډېر سرکښه دي، هغوی د بایللو لپاره ډېر څه لري. د دې خلکو اکثریت یې د افغان حکومت مخالف دي او په زور مجبور کړل شوي چې دلته راشي. زیاتره کروندګرو لکه د مرکزي هلمند خلکو خپلې مېنې پرېښودې او د جګړې۳۲ یا د هلمند په حاصلخېزه زون کې د کوکنارو پر کښت د بندیز په پایله کې د خپل ځمکو د له لاسه ورکولو له امله دښتو ته مهاجر شول. دغه کروندګر د کوکنارو په کاروبار کې د تاوان ملامتي پر افغان حکومت او د هغه پر لوېدیځوالو متحدینو ور اچوي. په حقیقت کې، په دې دښته کې مېشت خلک حکومت ته د خپل معیشت پر وړاندې د مستقیم ګواښ په سترګه ګوري ځکه چې حکومت د کوکنارو کښت بند کړی دی. ۳۳ پر دې سربېره، هر ځل چې حاصل خراب وي، د خلکو ترمنځ یوه همېشنۍ انګېرنه او ګنګوسه دا ده چې حکومت د کوکنارو پر کښتونو دوا شیندي او ذهنیت دا دی چې افغان حکومت د کلیوالو هوسایني ته د لومړیتوب ورکولو پر ځای د بهرنیانو ګټې پالي او د کوکنارو حاصلات ویجاړوي۳۴. لکه یو تن کروندګر چې وویل:«حکومت د کفارو اوامر مني. چې کافر هر څه وو ایي، حکومت یې مني. حکومت، هېواد پر کافرو خرڅ کړی. «۳۵ ګڼې نورې له سپکاوي ډکې تبصرې وشوې. ۳۶دغې ډلې د کوکنارو د مخنیوي کمپاین د څرنګوالي په اړه هم ورته څرګندونې درلودې. د بېلګې په توګه د ۲۰۱۷ کال په نومبر کې د هیروئینو د لابراتوارونو پرضد هوایي بریدونو د دې خلکو چیغې راپورته کړې او هم د دې هڅو د اغېز او مقصد په اړه پوښتنې را ولاړې شوې.

د تریاکو د بیو ټیټېدل چې لامل یې زیات تولید او د امریکا د بندیزونو په پایله کې د ایراني ریالو سقوط و، له دغه هوایي بریدونو سره نېغه اړیکه درلوده. د بکوا په دښتو او په شمالي بغرا کې مېشتو خلکو دغه کار په سختو ټکو وغانده. ۳۷د دې تصور ستونزمن دی چې یاده ډله چې د حاصلاتو د افت او د اوبو د سطحې د راښکته کېدو له امله له دغو دښتو کډه کېدو ته اړ شوې دي، له اقتصادي بدیلو لارو چارو پرته به څنګه او چېرته هستوګنه غوره کوي.

له ځمکوالو او اجاره اخیستونکو پرته یوازینۍ ډله چې ښایي د دې دښتو په پرېښودو به خوښ وي، د کور مېرمنې دي. هغوی ته په ځانګړې توګه په دې بیدیا او دښته کې ژوند کول ګران دي. د دې مېرمنو په مخ کې یوه عمده ننګونه په دې دښتي سیمو کې د تګ راتګ او ګرځېدو محدودیتونه دي چې هغوی یې په خپلو اصلي مېنو کې له خپلو کورنیو سره له راشه درشه څخه بیل کړې دي. په دښته کې سیمه ییز بازار ته ورتګ ډېر په ندرت کېږي؛ دوی آن له ګاونډیانو سره هم راشه درشه او اړیکه نه لري، د خپلو نږدې خپلوانو او کورنۍ د لیدلو لپاره ښاري سیمو ته ورتګ خو بېخي لېرې خبره ده.

ځینې مېرمنو آن شکایت کاوه چې د محدوده اړیکې، د سفر د محدودیتونو او د کافي وخت د نشتوالي له امله د خپل کورنۍ د نږدې غړو لکه د پلار د جنازې۳۸ مراسمو ته هم نه شي تللی،۳۹. د تجرید او یوازېتوب دغه احساس تر دې کچې و چې ځینو مېرمنو ځانونه بندیوانې ګڼلې. ۴۰ ځینو

۳۲ یو تن مرکه کېدونکی په د ۲۰۱۴ کال کې په ترک ناوه کې د جګړې له وېرې دې سیمې ت کډه شو. نوموړي لس جریبه ځمکه په اجاره واخیسته. نوموړی له هغو څو تنو د ګوتې شمار کسانو څخه و چې خپل ټوله لس جریبه ځمکه یې د اپینو کښت ته ځانګړې کړې وه. د اپینو ټولټال ۴ منه حاصل ترلاسه کړی و. (شنه جامه#۸).

۳۳ «زه د حکومت مخالف یم ځکه چې زما ژوند یې نه دی ښه کړی، بلکې زما ژوند یې راخراب کړ. « (غازي اباد#۳(«موږ د خپل کورنۍ او راتلونکې ژوند په اړه فکر کوو. د حکومت په کیسه کې نه یو. هغوی څوک دي او څه کوي؟» (دشتک ۹#( ؛ «زه له حکومت سره کومه علاقه نه لرم. حکومت ډېر کمزوری دی. هغوی په دې سیمه کې د عدالت په تامین کې پاتې راغلي.(سپین کلی#۱۴( ؛»زه نه پوهېږم چې کوم دئوس دلته والي دی او په حکومت کې څوک دي. موږ دلته دوه ډېر مهم شیان لرو: لومړی کوکنار دي او دیم طالبان. « (کاملان#۱۳( ؛ «که حکومت دلته راشي خلک ورسره جګړه کوي. هغوی به حکومت ته اجازه ور نه کړي چې حاصلات واړوي. (اچکو کاریز#۷( ؛»که حکومت ومنو، نو کوکنار له لاسه ورکوو. دا ستونزمنه ده. « (دشتک#۱۴(.

۳۴ «ددې حکومت مور و غ***م. دا حکومت نه دی، د امریکا غلامان دي. د دې حکومت له لاسه مو ژوند سخت او مشکل شوی.» (دشت آب پشک#۵(«هغه یوازې په نوم والي دی. ټولې پرېکړې بهرنیان کوي، هغه کوم واک و صلاحیت نه لري. (شنه جامه#۲( ؛ «الله دې د حکومتي خلکو کورونه وران کړي د دوی له امله زموږ حاصلات کم شوي. « (کلاماد#۵(.

۳۵ شنه جامه#۵

۳۶ «ددې حکومت مور و غ***م. دا حکومت نه دی، د امریکا غلامان دي. د دې حکومت له لاسه مو ژوند سخت او مشکل شوی.» (دشت آب پشک#۵( ؛»سږکال اکثریت اجاره دارانو ټول شته له لاسه ورکړل. د دې حکومت مور و غم***م. د فقر عامل همدا حکومت دی. « (دشت آب پشک#۱۱) «لومړی خو د والي او بیا د ولسوال ښځه و غ *** م « (دشت آب پشک#۱۳( ؛» زموږ بېوزلي د دې دووس والي او حکومت له لاسه ده. هغوی دغه مشکل جوړ کړی. « (شنه جامه#۸(

۳۷ « دا د کفر حکومت دی. د فابریکو په نامه د خلکو کورونه ورانوي. «(دشت شوراوک#۲( ؛»د فابریکې ماینه غ***م. هره ورځ په هلمند کې ګڼ شمیر خلک وژل کیږي او حکومت هیڅ پوښتنه نه کوي چې دا خلک څوک دي، خو یوازې په فابریکو پسې دي. « (دشت شین کلی#۸( ؛ «بهرنیان په موسی قلعه او نوزاد کې فابریکې بمباروي. په ما باندې کوم تاثیر نه لري. د دوی ماینه غ***م ! که دومره قوي وي ولسوالۍ دې ونیسي او خلکو ته دې امنیت راولي، خو اوس ټوله ولسوالي د طالبان په ولکه کې ده. « (دشت شین کلی#۳( ؛»د حکومت ماینه غ***م ! فابریکې بمباروي خو هیڅ ګټه نه لري. خدای به بهرنیان له دې هیواده ورک کړي. ټول مشکلات همدوی جوړ کړي. « (شنه جامه#۷( ؛»امریکایان په موسی قلعه کې یوازې دوه فابریکې ویجاړې کړې. پر اپینو یې هیڅ تاثیر نه دی کړی. سږ کال د تیر کال په پرتله اپین زیات دي او راتلونکی کال یې بیا کرم. په دې عملیاتو سره موږ لا زیات د حکومت مخالف شوو ځکه چې د خلکو کورونه ورانوي. « (شنه جامه#۱(.

۳۸ ۱#F

۳۹ ۳۴#F

۴۰ ۱#F

نورو د یوازېتوب او تجرید په اړه د خبرو په لړ کې څرګنده کړه چې «انفرادي ژوند لري، نه ټولنیز»[۴۱] یو شمېر ښځو د سخت زړه تنګون او ډیپرېشن یا ژور خفګان یادونه کوله. [۴۲] آن د ځانوژنې راپورونه هم ورکړل شوې دي. [۴۳] په دغه دښته کې ښځې د کار له ډېر بوج او د روغتیایي او تعلیمي اسانتیاوو له نشتوالي هم کړېږي. دلته کارونه کانال ته د نږدې سیمې په پرتله ډېر دي. دا کارونه مالداري او د لرګیو یا خسو راټولول دي، خو د کوکنارو خېشاوه او د حاصل راټولولو پرمهال کاریګرو ته د پخلي او خوړو تیارول هم پکې شامل دي. ځینو مېرمنو کله چې کانال ته څېرمه په خپلو اصلي مېنو کې ژوند کاوه، په کروندو کې کار نه کاوه او کله چې دښتې ته کډه شول نو ټکان یې وخوړ:«دلته په دښته کې موږ په کروندو کې کار کوو، خو په وطن کې مو کار نه کاوه.» [۴۴]په دښتي سیمو کې د کلنیکونو او روغتونونو نشتون په دې معنا چې هلته د ناروغیو د درملنې ډېر کم امکانات وو او ناروغان بله لاره نه لري مګر دا چې ګرشک یا لښکرګاه ته له ډېرو ننګونو او ستونزو سره سفر وکړي. یوې ښځې په دې اړه وویل:«کله چې موږ دښتې ته راغلو، تر سخت فشار لاندې وم. هلته ژوند هېڅ اسان نه و. که چېرې ناروغ شې، کور کې به پاتې وې هېڅ چاره نه شته.» [۴۵] یوې بلې وویل«ژوند ښه نه دی. موږ له یو بل سره اړیکه نه لرو. ډاکټر ته نه شو تللی.» [۴۶]

کله چې یادو مېرمنو د هلمند په کرنیزو ساحو کې ژوند کاوه، هلته یې ژوند ښه و. هغوی هلته کولی شول چې خپلو کورنیو او خپلوانو کره لاړې شي او آن د سودا اخیستلو لپاره لښکرګاه ته تللې. هغوی به د اوړي په میاشتو کې د دښتې له سوځوونکې ګرمۍ څخه بل ځای ته تلل او که څه هم اکثریت مېرمنو چې د لښکرګاه شاوخوا سیمو کې د اوړي په موسم کې ځمکې یا اجاره کړې ملکیتونه نه درلودل، خوشاله وې چې بېرته د کانال سیمو ته ورشي. [۴۷] لکه یو تن ښځه چې اصلاً له ګرمسیر څخه ده، خو له اووه کلونو راهیسې په دښته کې اوسېده، داسې وایي:«اوس موږ په وطن کې یو - دلته هر څه پیدا کېږي.» [۴۸] دغه مېرمنې دلته له موقتي ازادۍ نه خوند اخلي، خو په دې پوهېږي چې په منې کې به بېرته دښتې ته ستنېږي، هغه وایي:«د بېوزلۍ له امله د دښتې ټولې ستونزې مو پر ځان منلې دي»[۴۹]

بالاخره دا د میرمنو او نارینه وو دواړو لپاره یوه ننګونه ده. که څه هم ژوند په دښته کې ستونزمن دی، خو ځینې اقتصادي ګټې هم لري، خو که د یو ټاکنې په توګه مطرح شي، ډېر خلک به هلته ژوند ته زړه ښه نه کړي لکه یو تن ښځه چې وایي:«که موږ بل چېرته د ژوند کولو کومه ټاکنه لرلی، نو دې دښتې ته نه راتلو. دا چې بله ټاکنه نه لرو، نو ځکه مو دا ژوند قبول کړی. تر دې غوره وه چې هېڅ مو ځمکه نه درلودی.» [۵۰] زیاتره کسان د بېوزلۍ، تاوتریخوالي او د معیشت د نشتوالي له امله د افغان حکومت تر ولکې لاندې کرنیزو سیمو څخه دلته راکډه شوي دي. په دښتي سیمو کې مېشت کسان پر حکومت غوسه دي چې د کوکنارو د بندولو په بدل کې یې ورسره مرسته نه ده کړې، د هغوی په وینا حکومت مسول دی چې مرستې ورته ووېشي.

په دې سیمه کې د مېشتو خلکو شمېر هم زیات دی. دا چې په سوېل لوېدیځه دښتي سیمو کې ۱۴۱،۰۰۰ کورنۍ اوسېږي او ټولټال نفوس یې ۱.۴ میلیونه کسان اټکل کېږي، د دې تصور ستونزمن دی چې که دغه خلک کډه کېدو ته اړ شي، چېرته به ځي. که څه هم له دې دښتي سیمو څخه کډوالي ښایي د ډله ییزې کډه کېدنې پر ځای په تدریجي توګه ترسره شي او لومړی به بې ځمکو خلک وځي او سرکشه ځمکوال به هغه وخت وتلو ته اړ شي چې بل انتخاب ونه لري؛ خو په ښارونو کې کافي ځمکې او دندې نه شته چې دغه خلک په ځان کې جذب کړي. له شک پرته چې دغه خلک به د افغانستان نورو برخو ته کډه کېږي چې ورسره به په ښاري سیمو کې سرچینو ته تقاضا او بهر ته کډوالي زیاته شي، همدارنګه نور خلک به اړ شي چې هېواد پرېږدي او پاکستان، ایران یا اروپایي هېوادونو ته لاړ شي. په دې اړه یو کره تحلیل ته اړتیا ده چې دغه بیدیا مېشتی نفوس څومره زیانمنونکی دی او هم د دې وړاندوېنه ضرور ده چې د اوبو تر وچېدو مخکې، یاد خلک تر کله په دې سیمو کې پاتې کېدلی شي.

۴۱ ۳#F

۴۲ خلک ډېر په ژور خفګان اخته دي.#۲ ؛ «زه په دښته کې ځینې میرمنې پیژنم چې ډپرېشن یا ژور خفګان لري. «F#۲۲

۴۳ د نادعلي په دښته کې د ځان وژنې په اړه یو راپور و. ادعا کیده چې یوې ښځې د ځان وژنې په موخه اپین خوړلي و.

۴۴ ۱#F

۴۵ ۱۳#F

۴۶ ۲۷#F

۴۷ "کله چې بیرته را وګرځیدو، اوس دلته خوښ یو. موږ کلنیک ته لاسرسی لرو او ماشومان مو ښوونځي ته ځي. موږ دلته د کورنۍ لپاره ښه خواړه موندلی شو.»#F۴.

۴۸ ۲#F

۴۹ ۲۳#F

۵۰ ۴۹#F

# ۶. پایله

د افغانستان سوېل لوېدیځې دښتې په ۲۰۰۱ زیږدیز کال کې د طالبانو رژیم له ړنګېدو وروسته بدلون وکړ. کله چې له ۳۴۴،۰۰۰ هکتاره کرنیزې ځمکې سره یو ځای شاړې ځمکې ونیول شوې، خلک پکې مېشت او کروندې پکې ابادې شوې. دا هغه سیمه ده چې تر ۲۰۱۹ زیږدیز کال پورې پکې ۱۴۱،۰۰۰ کورنۍ او ۱.۴ میلیونه نفوس اوسېده. د ملي او نړیوال اقتصاد د یوې برخې په توګه، په دغو دښتي سیمو کې دایمي بازارونه اباد شوي چې بېلابېل ډوله توکي پکې پلورل کېږي. دا وضعیت د یوه لوی شمېر نفوس او یو لنډمهاله عاید ښودنه کوي.

د پخواني حالت برعکس چې یو وخت دغه سیمې سپېرې او وچې دښتې وې، اوس په دې پراخه دښتو کې له نویو کرنیزو ټکنالوژیو لکه د ځمکې لاندې اوبو د استخراج لپاره له سولري ټکنالوژۍ او د کرنې لپاره له وارداتي کیمیاوي درملو څخه کار اخیستل کېږي. دغه سیمې په حقیقت کې د کرنیز نوښت په لومړۍ کرښه کې قرار لري.

د کوکنارو کښت د دغه بدلون لپاره اقتصادي وسایل برابر کړي دي. د ۲۰۰۰-۲۰۰۱ کلونو پرمهال د طالبانو له خوا د کوکنارو پر کښت تر بندیز وروسته او بیا د کرزي د حکومت له خوا د بندیزونو د هڅو په پایله کې د کوکنارو تولید په دې صحرایي سیمو کې پر یوه ګټور کاروبار بدل شو. د مخدره توکو د کنټرول هڅو د کوکنارو کښت نور هم متحرک کړ او په یادو دښتي سیمو کې د خلکو نفوس او د کښت وړ ځمکې نورې هم پراخې شوې. دا له دې امله نه چې حکومت په یادو سیمو کې پراختیایي پروژې نه پلې کولې. دلته کاروبار د مقرراتو تابع دی. د ځمکو د حقونو، حکومتولۍ او د شخړو د حل په اړه محلي عرف او دودونه حاکم دي او طالبان هم تر یوه بریده پر وضعیت نظارت کوي. دغو صحرایي ځمکو ته لاسرسی آزاد نه دی. طالبانو د محلي بازارونو د جوړولو او د ژورو څاه ګانو د کیندلو په اړه ځینې مقررات وضع کړي، ترڅو د سیمې اوږدمهاله پایداري زیانمنه نه شي. خو پر یادو هڅو سربېره، له سولر ټکنالوژۍ څخه پراخه ګټه اخیستنه دې کچې ته رسېدلې چې د ځمکې اوبه ورځ تر بلې ښکته ځي او له بلې خوا په کروندو کې له حده زیات کیمیاوي سرې د کارونې له امله د ځمکې لاندې اوبه ککړې شوې دي. د ځمکې لاندې اوبو د وچېدو په اړه اندېښنې پر یقین بدلې شوې دي، خو د ژورو څاه ګانو، زېرمو او د سولري واټرپمپونو د مخنیوي لپاره ډېر لږ اقدامات شوي.

تر دې هاخوا پدې سیمه کې د خلکو معیشت له ګوابڼ سره مخ دی. د کوکنارو تولید یو سخت چاپېریال رامنځته کړی، د تولید لګښتونه لوړ او د مارکېټ فرصتونه کم دي. ټیټې بیې او کم محصول په دې سیمه کې تکرارېدونکې ننګونه ده. که چېرته د کوکنارو حاصلات خپل ارزښت له لاسه ورکړي، دغه دښتي سیمې به نور د خلکو د اوسېدو جوګه نه وي، خلک به وهڅېږي چې اوبه لرونکو سیمو ته چې د حکومت تر کنټرول لاندې دي، کډه شي او دا په داسې حال کې ده چې هلته د دې خلکو د جذب ظرفیت ډېر کم دی.

د دې امکان شته چې د مرکزي هلمند یا فراه ځینې حاصلخېزه او زرغونې سیمې به د کډوالۍ لپاره د دې خلکو لومړنی انتخاب وي، له دې پرته دغه کروندګر او د هغوی کورنۍ د خپل معیشت د تامین لپاره کولی شي چې کوم بل بدیل او سرچینه پیدا کړي، چې دا به له شک پرته ښارونو، ګاونډیو هېوادونو او یا ممکن اروپایي هېوادونو ته مهاجرت وي. دې ته په کتو چې دغه خلک له افغان حکومت سره مخالفت او دښمني لري او په دې باور دي چې د حکومت د بېغورۍ، فساد او د کوکنارو پر کښت د بندیزونو له امله یادو دښتو ته کډه شوي او بیا هلته د مخدره توکو پرضد د اقداماتو له امله د کوکنارو حاصلات او بیې زیانمنې شوې دي؛ نو ستونزمنه ده چې دغه خلک دې چېرته چې مېشت کېږي، ښه ګاونډیان اوسي.

په یاو پخوانیو دښتي سیمو کې له روان ناورین سره د مبارزې لپاره د سپارښتنو وړاندې کول یوه ننګونه ده. لا هم د دې سیمې او د نفوس په اړه پوهېدل یې ډېر کار ته اړتیا لري، په ځانګړې توګه دې ته په کتو چې چاپېریال څومره متحول دی، د نوښت لپاره ثابت ظرفیت او له سیمې څخه د کډوالۍ پوتنشیل په کوم حد کې دی. یو شمېر بېړني اقدامات شته چې کولی شي د کډوالۍ د کچې او د مهالوېش په اړه غوره پوهاوی رامنځته کړي. نور اقدامات دا دي چې په دې دښتي سیمو کې د زیاتېدونکي نفوس او د ورانوونکو کرنیزو روشونو اغېزې راکمې کړي، په داسې حال کې چې یو لړ نورې سپارښتنې وړاندیز کوي چې څنګه د هغو پالیسیو او پروګرامونو له تکرار څخه مخنیوی وشي چې په لومړي قدم کې پخوانیو دښتي سیمو ته د کروندګرو د کډوالۍ لامل کېږي.

## د ځارنې او څېړنې په کچه اقدامات

د سوېل لوېديځ په پخوانيو صحرايي سيمو کې د ځمکې لاندې اوبو د ژوروالي او ښکته کېدو د معلومولو په موخه يوه سيستماتيکه ارزونه ترسره کول او په دې اړه يو موډل جوړول چې دغه اوبه تر څومره وخت پورې دوام کوي. خراب امنيتي وضعيت ته په کتو ، ممکنه به نه وي چې دا کار له بېلچې يا فشاري ټرانسډيوسر څخه په ګټې اخيستنې د لاس په واسطه وشي. يو ممکنه بديل د سټلايټ ټکنالوجۍ کارول دي، په ځانګړې توګه رادار چې د ځمکې لاندې اوبو د اندازه کولو لپاره يوه منل شوې او اغېزناکه لاره ده. په پخوانيو دښتي سيمو کې د سولر ټکنالوژۍ ځارنه به د دې ارزونې يوه مهمه برخه وي او مرسته به وکړي چې د دې ټکنالوژۍ د کارونې او د اوبو د سطحې د راښکته کېدو ترمنځ اړيکه جوته کړي، ترڅو د هغې د اغېزو د راکمولو لپاره اقدامات وشي.

پخوانيو دښتي سيمو ته د خلکو د راتګ راتګ منظمه ځارنه به په ځانګړې توګه ډېره اړينه وي چې په ډاګه شي کومه ډله خلک بې ځايه کېږي او ولې. د سټلايټ په مرسته د انځورونو اخيستل کولی شي چې په دې دښتي سيمو کې د مېشتو کورونو تراکم وارزوي، خو سيمه ييز کار ته اړتيا ده ترڅو معلومه شي چې کومه ډله خلک بل چېرته مسکن غوره کوي او دليل يې څه دی. له وړاندې څېړل شويو سيمو کې دوامداره طولي کار به په نا امنه سيمو کې د کار پيلامه او هم به د کډوالۍ د تاريخي مخبېلګو او د هغو د بدلون په اړه د پوهېدو غوره لاره وي. د هغو خلکو په اړه چې سيمه يې پرې ايښې، قاچاق کوي او يا په سرحدي سيمو په ځانګړې توګه له نيمروز او هلمند سره په نږدې پولو کې کډوالي کوي، لا زياته څېړنه يا ريسرچ به له يادو دښتي سيمو څخه د خلکو د کډوالۍ د اغېزو په اړه معلومات او پوهاوی په لاس ورکړي، ترڅو له دې لارې د افغانستان دننه او له افغانستان څخه بهر د کډوالۍ مخبېلګې په ګوته شي.

## د پروګرام په کچه اقدامات

پر دغو صحرايي سيمو د فشار د راکمولو په موخه، په سوېل لوېديځ کې د بالا بلوک د بخش آباد ، فراه او د نيمروز په چهاربرجک کې د کمال خان په شمول د سترو پلان شويو پروژو له لارې ځينو خلکو ته د ځمکو د وېش په اړه بايد فکر وشي. د دې پروژو له بشپړېدو سره هر يوه يې د څه باندې ۸۰،۰۰۰ هکتاره ځمکې د خړوبولو ظرفيت لري او کولی شي چې لسګونه زره خلکو ته د کرنيزو ځمکو زمينه برابره کړي. د بغرا او بکوا په شمالي دښتو کې د مېشتو کورنيو لپاره د دې ځمکو ورکړه به لږترلږه د ځمکې لاندې اوبو ښکته کېدونکې سطحې باندې فشار راکم کړي، له دې سره به په فرضي ډول نوي کډوال دغه دښتي ځمکې اشغال نه کړي او بزګرانو يا اجاره دارانو ته به په اجاره ور نه کړل شي. د بغرا او بکوا په شمالي دښتو او په سوېل لوېديځ کې د ترياکو د توليد په برخه کې د کروندګرو د پام وړ تجربو ته په کتو ، ټولې هڅې بايد په کار واچول شي ترڅو ډاډ رامنځته شي چې نويو پروژو ته د ورتلونکو کډوالو لپاره د بازار په برخه کې د مرستې په ګډون يو هر اړخيز حمايوي بسته چمتو شي، البته دې ټکي ته په پام چې د کوکنارو کښت تر دې زيات نه شي.

دې ټکي ته په پام سره چې هغه اقدامات چې د کاري ځواک د لګښت فرصت لوړوي، د اپينو پر توليد به لوی پراختيايي اغېز ولري او په دښتي سيمو کې به د کوکنارو له خراب حاصل سره ترلي ګواښونه راکم کړي. شواهد ښيي چې کليوالي ټولنې هغه مهال د ترياکو له توليد څخه لاس اخلي کله چې نورو معيشتي بديلونو او د بشري مصؤنيت اهدافو ته لاسرسی پيدا کړي. دغه موخې نه يوازې د کرنيزو او غير کرنيزو مختلفو عوايدو لاسته راوړل په ځان کې رانغاړي چې پربنسټ يې کورنۍ کولی شي خطرونه او خپل اقتصادي وضعيت په غوره توګه مديريت کړي، بلکې ترڅنګ يې کليوالي ټولنې کولی شي چې بېلابېلو خدماتو لکه امنيت، روغتيايي خدمات او ښوونې او روزنې ته لاسرسی پيدا کړي. د افغانستان په بېلابېلو برخو کې غير کرنيز عوايد د يو شمېر شوکونو لکه د حاصل خرابوالي او پر کوکنارو له بنديز سره د مقابلې لپاره اړين او حياتي دي. د مالدارۍ سکتور، غوره عوايد او ټولنيز خونديتوب هم په حاصلاتو کې د آفت د جبران لپاره يو ښه بديل دی. که چېرې په ځينو سيمو کې د کوکنارو په کښت کې کموالی دښتي سيمو يا د دولت له کنټروله بهر سيمو ته د خلکو د کډوالۍ په مخنيوي کې مرسته نه کوي، نو اړتيا ده چې په پورتنۍ ذکر شويو برخو او نورو ساحو کې په لويه کچه پانګونه وشي. په حقيقت کې پراخ ګټور کرنيز کاروبار او د ګټورو مشروع توليداتو په سوداګرۍ کې زياتوالی چې د هېواد د پرمختيايي ستراتيژۍ يوه برخه ده، کولی شي چې له دې پروسې سره مرسته وکړي.

په جګړه ځپلو سیمو کې د پروګرام جوړونې لپاره د اغېزو موثره څارنه یا نظارت مهم دی. سیاسي فشار، پوځي ځواک او د لنډمهاله پرسونل ګومارنه یا وقف کول له ثبات سره مرسته کولی شي. دغه اقدامات د حداقل پروګرامونو طرح کېدو ته زمینه برابروي، ځکه چې تر دې مهاله ټولنیزو-اقتصادي، سیاسي او محیطي فکتورونو ته چې پر نتایجو مستقیم اغېز لري، پاملرنه نه ده شوې. د ثبات د ټینګښت د اړونده اقداماتو سیاسي ماهیت (د یوه کار کولو اړتیا ) او د بریا د راپور کولو فشار، د پروګرامونو د تطبیق د لا زیاتې سیستماتیکې ارزونې مخه نیسي. مرسته کوونکي به تر ډېره «کلنۍ ارزونې» ته غاړه کېږدي، کوم چې د داخلي پرسونل له خوا ترسره کېږي او دغه ارزونه په لویه کچه پر هغو معلوماتو متکي ده چې له چارواکو او د پروګرامونو په تطبیق کې له دخیلو افرادو څخه لاس ته راځي، چې په دې توګه د کره والي او ناپېيلتوب تصدیق یې نه شي کېدای. د اغېزو لا زیات سیستماتیک نظارت ته اړتیا ده. دغه نظارت تجربو ته وزن وربخښي او پر ذینفع اړخونو یا شریکانو مستقیم اغېز لري. دا کار همدارنګه د شویو تحقیقاتو یا ریسرچونو او د سټلایټ په مرسته د اخیستل شویو انځورونو له لارې ترسره کېږي او مرسته کوي چې پوه شو چېرته د پروګرامونو تطبیق ممکن دی، یا وکتل شي که چېرته پروګرام د ناکامۍ خوا ته روان وي او یا هم تر ګټې تاوان زیات وي، باید لغوه شي.

محصولاتو ته د بدیل موندلو پر ځای د محصولاتو لومړیتوب بندي او د مختلفو عایداتي سرچینو موندل. تجربوي څېړنې ښیي چې د کوکنارو پر ځای غنم یا نور محصولات غوره کول، هغه لنډمهاله غبرګون دی چې کروندګر یې د اقتصادي تنګلاسۍ پر وړاندې ښیي او بېرته ډېر ژر د تریاکو تولید ته مخه کوي. تجربې په ډاګه کوي چې د کوکنارو په کښت کې دوامداره کمښت یوازې هغه وخت شونی دی چې کروندګر د معیشت د تامین لپاره نور ګڼ بدیلونه ولري، ګټورو کرنیزو محصولاتو ته لاسرسی او غیر کرنیزو عوایدو ته لاسرسی ولري. اړتیا ده چې د بریا له اندازه ګیرۍ او د مخدره توکو پر وړاندې د هڅو له ناکامېدو څخه نوره ډډه وشي. دا کار ګټور نه دی ثابت شوی، دغې ګمراه کوونکې پالیسۍ په دښتو کې د مېشتېدنې په شمول د حاصلاتو د آفت د مخنیوي په تړاو د ستراتیژیو په جوړولو کې ډېر خلک له مسیر څخه منحرف کړي دي. له سټلایټ څخه په ګټې اخیستنې د کوکنارو د کښتونو نقشه برداري او په ساحه کې ژوره څېړنه کولی شي چې د کوکنارو په کښت کې د دوامداره کمښت د ارزونې لپاره ګټور انتخابونه په لاس راکړي.

### د پالیسۍ په کچه اقدامات

افغانستان ته د سولر ټکنالوژۍ پر وارداتو بیا کتنه او د ژورو څاه ګانو لپاره پر کارول کېدونکو وسایلو باندې د کنټرول وضع کول. دې حقیقت ته په کتو چې حکومت په صحرایي سیمو کې د سولري واټرپمپونو او ژورو څاه ګانو د تنظیم او څارنې وړتیا نه لري، نو د هغه ډول ټکنالوژۍ واردات باید کنټرول کړي چې افغانستان ته واردېږي. یوه شونتیا دا ده چې د ژورو څاه ګانو د واټرپمپونو لپاره د کارول کېدونکو سولري تختو پر واردولو محدودیتونه وضع کړي. دا چې دغه تختې په کورونو کې نه کارول کېږي، نو هغه کورنۍ چې د رڼایي یا نورو برېښنایي وسایلو د روښانولو لپاره یې کاروي، اغېزمنې نه کړي. د سولري تختو پر وارداتو بندیز ښایي په یادو دښتي سیمو کې د ژورو څاه ګانو د کیندلو بهیر په بشپړ ډول ونه دروي، خو لګښت به یې زیات او د کارونې کچه به یې راکمه کړي.

د تریاکو پر تولید، تجارت او کارونې او د هغه پر مشتقاتو د ټولو ملي، څو اړخیزو او دوه اړخیزو پراختیایي پروګرامونو د اغېزو ارزونه. له مخدره موادو سره د مبارزې د ارزونې دغه چاره به سخته نه وي، بلکې له مالیې وزارت څخه د مالي او تخنیکي مرستو لپاره د منظورۍ د بهیر د یوې لازمي ځانګړنې په توګه وګڼل شي. د دغې ارزونې فارمټ باید د هغو لارښودونو پربنسټ جوړ شي چې د نړیوال بانک له خوا په ۲۰۰۷ کال کې له مخدره توکو سره د مبارزې لپاره چمتو شوي دي، خو اوس مهال په لویه کچه له پامه غورځول شوي دي. (لومړۍ ضمیمه وګورئ).

له مخدره توکو سره د مبارزې په رڼا کې د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو هر اړخیزه بیا کتنه باید ترسره شي. دغه بیاکتنه به مرسته وکړي ترڅو د پروګرام جوړونې مسوول کسان په دې پوه شي چې یاد پروګرامونه به د مخدره توکو پر ناقانونه کاروبار څه اغېز ولري او ددغه ډول فعالیتونو د ترسره کولو پرمهال حداکثر ته د مثبتو اغېزو د لوړولو په موخه لازم ګامونه واخلي. په ځانګړې توګه اړتیا ده چې د یوه ساحوي پلان له مخې د مختلفو سکتوري پروګرامونو ترمنځ اړیکه تامین شي، ترڅو پراختیایي او د مخدره موادو ضد نتایج دواړه حداکثر کچې ته ورسول شي.

د اړونده وزارتونو د تخنیکي او ستراتیژیک ظرفیت لوړول ترڅو د دې جوګه شي چې د کوکنارو د کښت لاملونه د خپلو پراختیایي پروګرامونو په طرح او تطبیق کې را ونغاړي. په تېر کې، له مخدره توکو سره د مبارزې وزارت د دې مسوولیت درلود چې له اړوندو وزارتونو سره کار وکړي ترڅو د کوکنارو د کښت اغېزې په خپلو پروګرامونو کې راونغاړي، خو د دې کار په ترسره کولو کې پاتې راغی. د وزارت تر انحلال وروسته، اوس اړوند وزارتونه مسوولیت لري چې په خپلو پراختیایي پروګرامونو کې داسې تدابیر په پام کې ونیسي چې حداقل د کوکنارو کښت تشویق نه کړي. یاد وزارتونه به د دې کار لپاره تخنیکي ملاتړ ته اړتیا ولري.

**لومړۍ ضمیمه: په افغانستان کې د کوکنارو له ستونزې سره د مبارزې په برخه کې د نړیوال بانک د فعالیتونو په تړاو لارښود**

**الف: ستراتیژیکه تګلاره**

**د کوکنارو ستونزه**

د کوکنارو د تولید کمول له هغو سترو ننګونه یوه ده چې افغانستان ورسره مخ دی. کوکنار د لوی اقتصاد محور او د ناخالص کورني تولید یو پر دریمه برخه جوړوي او د نړیوالې تقاضا او د تادیاتو بیلانس حمایه کوونکي دي. په کلیوالي اقتصاد کې کوکنار د ۳۵۰،۰۰۰ بزګرو کورنیو د معیشت لپاره چې اکثریت یې بېوزله دي، د مبارزې تګلاره ده. په امنو سیمو کې کوکنار جنګسالاري او تروریزم حمایه کوي. د حکومتدارۍ په کچه ناقانونه اقتصاد په ټولو سطحو کې د دولت جوړونې هڅې تر سیوري لاندې راولي.

**د حکومت تګلاره**

د کوکنار د راکمولو او بالاخره له افغان اقتصاد څخه د هغه د ورکولو په اړه د حکومت تګلاره یا ستراتیژي اساساً درې ستنې لري: لومړی د حکومتدارۍ او د قانون د واکمنۍ ښه کول دي، ترڅو عامه بنسټونو او میکانیزمونو د تقویې او ځواب ویونکو حکومتي جوړښتونو او په ټولو سطحو کې د ټولنیز قرارداد د پراختیا له لارې مخدره توکي کنټرول شي . دوهم عنصر د اقتصادي فعالیتونو او خدماتو د عمومي سطحې لوړول، د ژوند د سټنډردونو ښه کول او د ټولنیز خوندیتوب برابرول دي. دریم عنصر په پراختیایي پروګرامونو کې پر مشخصو اجزاوو باندې تمرکز کول دي چې کولی شي پر بېوزلو بزګرانو، کاریګرو او تر ټولو زیانمنونکو ساحو په تمرکز سره د کروندګرو پر سلوک د پام وړ اغېز ولري.

**د نړیوال بانک تګلاره**

دغه شالید ته په کتو، د کوکنارو د ستونزې په تړاو د نړیوال بانک کاري تګلاره په لاندې ډول ده:

- د کوکنارو د ستونزې شننه او د لوی اقتصاد د ابعادو په شمول په ټولو سطحو کې د ډیالوګ هڅول؛
- په افغانستان د مخدره توکو د ستونزې د پراختیایي ابعادو او هغه ته د رسیدګۍ په اړه د شننیز کار ملاتړ او ښکېلتیا.
- د اړتیا په صورت کې د نړیوال بانک د تمویل شویو پروګرامونو له لارې د حکومتي ستراتیژۍ د پراختیایي اړخونو ملاتړ کول؛
- دا ډاډ رامنځته کول چې د نړیوال بانک له لوري ملاتړ کېدونکي فعالیتونه د کوکنارو اقتصاد باندې منفي اغېزې نه کوي.

**څارنه**

د دې تګلارې پربنسټ نړیوال بانک غواړي چې په افغانستان کې خپل ټول فعالیتونه هغه که عملیاتي، شننیز یا سلاکار کارونه دي، وڅاري ترڅو ډاډ رامنځته کړي چې له مخدره توکو سره په مبارزه کې یو ډول چلند کېږي او په داسې ښه کېږي چې په ملي کچه د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې له هڅو سره تر اعظمي حده مرسته وکړي. د څارنې پروسه به په ډاګه کړي چې عملیات یا فعالیتونه په کومه کچه کې دي.

- د حکومتولۍ له اجنډا سره مرسته؛
- د همکارۍ زیاتول ترڅو د ټولنې او د کورنۍ په کچه د معیشت په کچه کې ښه والی راشي؛
- د جغرافیوي ساحو د پوښښ او بېوزلو طبقو ته د رسیدګۍ په موخه له مخدره موادو سره د مبارزې د ځانګړو پروګرامونو زیاتول؛
- د ګواښونو تشخیص او د داسې تګلارې رامنځته کول ترڅو ډاډ رامنځته شي چې نړیوال بانک د «نه زیان» اصل ته درناوی کوي او د نړیوال بانک باور او شهرت ته زیان نه رسوي.
- د نظارتي او راپور ورکونې د قابلیتونو لوړول، کوم چې د کوکنارو اقتصاد اړونده پایلې په اغېزناکه توګه څاري .

### ب: په معیشتي ستراتیژیو کې د کوکنارو د رول پېژندل او د پراختیایي پروگرامونو لپاره مناسب اقدامات

### په افغانستان کې د کوکنارو د کښت د «برېا» لاملونه

د افغانستان اوسنی اقتصادي او سیاسي چاپېریال ځینې ښېگڼې لري چې د کوکنارو کښت ته یې بستر جوړ کړی. کوکنار قیمتي، لږ وزن لرونکی او دوامداره بوټی دی او قوي تقاضا ورته موجوده ده. کوکنار د ارزښت زنځیر په هره مرحله کې کافي گټه لري او د کرېدټ، پلور، ټرانسپورټ او پروسس له اړخه له یو بل سره تړلی غوره بازار لري، چې په افغانستان کې پر ناکاره زېربنا سربېره یادې ټولې برخې په ښه توگه کار او فعالیت کوي. سوداگر علاقه لري چې کوکنار د کروندو پر سر د نغدو په پیسو په بدل کې وپېري او دا کار آن کله کله د حاصل تر راټولولو مخکې هم کېږي. کوکنار هر چېرته او په هر هېواد کې کرل کېږي او په پسته خاوره کې چې شگلنه نه وي، ښه وده کوي. دغه بوټی د افغانستان له کرنیز اقلیمي شرایطو سره جوړ دی چې له همدې امله د نړۍ د ټول اوسط حاصل په پرتله په افغانستان کې ډېر خام تریاک او مورفین تولیدېږي او د کمیابه کرنیزو اوبو گټه حداکثر ته رسوي. دغه محصول له اقتصادي پلوه د هغو کروندگرو لپاره حیاتي ارزښت لري چې لږه ځمکه او لوی فامیلونه لري، په ځانگړې توگه په هغو لېرې پرتو دښتي سیمو کې چې د کوکنارو کښت مخ په زیاتېدو دی. د وړو کروندگرو لپاره په اوسنیو شرایطو کې نور داسې کرنیز حاصلات نه شته چې دغه ډول عاید یا گټه ترې لاس ته راوړي. په داسې حال کې چې په دې سیمو کې د کوکنارو حاصلاتو سقوط کړی، پر دغه کښت د متکي کورنیو عاید به هم سقوط وکړي چې له امله به یې خلک د ځمکو پرېښودو ته اړ شي.

له دغو ځانگړنو سره- او د قانون تنفیذوونکو هڅو سربېره- کوکنار په گڼ شمېر سیمو کې نسبتاً د ټیټ رېسک لرونکی محصول دی خو د کروندگرو او سوداگرو لپاره بیا معمولاً د لوړ رېسک چاپېریال رامنځته کوي. د پور اخیستنې یا کرېډټ سنتي سیستم چې د سلام په نامه مشهور دی او په ټاکلې اندازه د راتلونکي محصول په اړه له وړاندې تادیات برابروي، د نورو محصولاتو په پرتله تر ډېره د کوکنارو د کښت په گټه راځرخي. په هغو سیمو چې د کوکنارو کښت آفت کړی، قرضې یا کرېدټ ته لاسرسی د کروندگر په خوښې پورې اړه لري. دغه خوښه یا رضایت او د کوکنارو د کښت لپاره د لازمو مهارتونو لرل له اجاره اخیستونکي سره مرسته کوي چې ځمکې ته لاسرسی پیدا کړي. د ځمکې د اجارې قېمت یا ارزښت هم د غنمو د مولدیت پر ځای د کوکنارو د حاصل له مخې پېژندل کېږي.

### د کوکنارو د گټو نا انډوله وېش

د کوکنارو له کښت سره تړلې گټې هغې پانگې او امکاناتو ته په کتو چې کروندگر یې لري، متفاوتې دي. هغه یو شمېر کسان چې زیاته ځمکه لري، له حاصل څخه لوړه گټه ترلاسه کوي او که چېرته د حاصل راټولونې تر فصل وروسته حاصل زر خرځ نه کړي، ښایي تر دې هم ډېره گټه ترلاسه کړي. هغه لوی کروندگر چې نورې عایداتي سرچینې او پانگه لري، کولی شي چې د کال په اخر کې خپل حاصل په لوړه بیه خرڅ کړي. پر دې سربېره هغه ځمکوال چې خپلې ځمکې په اجاره ورکوي، تر دې هم غوره کار کولی شي: د اجارې ځینې نا برابره معاملې ځمکوالو ته اجازه ورکوي چې د کوکنارو د حاصل دوه پر دریمه برخه واخلي، په داسې حال کې چې دغه ځمکوال د کوکنارو د تولید په ټولټال لگښت کې یوازې ۲۰ سلنه ونډه لري. همدارنگه ځمکوال ښایي تریاک په هغه نرخ واخلي چې د حاصل پر وخت د بیو په پرتله د پام وړ کم وي، چې له همدې امله د کوکنارو له کښت څخه د پام وړ گټه لاس ته راوړي. دغه گټه وروسته پر نور کاروبار او عایداتي سرچینو باندې بندوي او یا هم د تریاکو پر تجارت پانگونه کوي- کوم چې د لویو ځمکوالو لپاره پرېمانه شتمني زېږوي.

خو د بې حاصله ځمکو وضعیت متفاوت دی. د دې ډلې لپاره تریاک د عاید یوازینۍ سرچینه نه ده. د کوکنارو کښت د دې فرصت زیاتوي چې ځمکه په اجاره یا شراکت واخیستل شي او د کاریگرو د استخدام لپاره د کورنۍ له غړو کار اخیستل کېږي. په دې کې له تریاکو څخه لاسته راغلي عاید په نغدي ډول ترلاسه کېږي او یا هم د یوه مختلط سیستم له لارې چې آن په خپلو د کوکنارو د کروندگرو ترمنځ هم دود دی، د کورنۍ د مصرف لپاره خوراکي توکي کرل کېږي. د کوکنارو له کښت پرته، ځمکې ته د لاسرسي فرصت له لاسه وځي، لکه په ۲۰۰۴-۲۰۰۵ کال کې چې په ننگرهار کې وشول.

د کوکنارو کښت د گرځنده کاریگرو لپاره هم تقاضا رامنځته کړې. دغه کاریگر چې له نورو سیمو څخه د کوکنارو حاصلخېزو سیمو ته مسافر کېږي، د خېشاوې یا په خپله د کوکنارو د کښت په کارونو کې بوختېږي. د ملگرو ملتونو د مخدره توکو پرضد د مبارزې دفتر اټکل کوي چې د ۲۰۰۴-۲۰۰۵ د کوکنارو د کښت په فصل کې پر ۱۰۴،۰۰۰ هکتاره ځمکه کوکنار کرل شوي وو، چې دغه اندازه کوکنارو شاوخوا ۳۲.۴ میلیونه ورځنی اشتغال زایي یا کارموندنه رامنځته کوله چې دغه شمېر د نړۍ د یو پر دریمه برخه کارگرو د مزد له فرصتونو سره برابره ده. په داسې حال کې چې د یوې کورنۍ تر یوه زیات نارینه د خېشاوې او نېش وهلو په کار کې بوخت وي، د کوکنارو له کښت څخه لاسته راغلي له کروندې څخه بهر عواید تر پنځو میاشتو پورې دوام کوي او دا رقم د کروندې دننه عاید په پرتله چې له اجارې څخه لاس ته راځي، لوړ دی.

د کوکنارو کښت د ناچاره کروندګرو لپاره د پور اخیستنې یا کرېدټ مهمه سرچینه هم برابروي. په هغو سیمو کې چې د کوکنارو حاصل افت کوي، متضرر کروندګر پور اخیستنې ته اړتیا لري. له دې پرته، اساسي خوراکي توکو، کرنیزو مصارفو او د روغتیایي احتیاجاتو لپاره پیسو ته لاسرسی ډېر سخت او محدود وي.

پر پورتنۍ مستقیمې ګټې سربېره، د کوکنارو کښت او سوداګري پر کلیوالي اقتصاد د پام وړ او هر اړخیز اغېز لري. ځینې اټکلونه آن څرګندوي چې د هر هکټار کرل شویو تریاکو لپاره، له کروندې څخه بهر په کلیوالي اقتصاد کې له **۵** تر **۲** پورې کاري فرصتونه موندل کېږي.

## د کوکنارو د کروندګرو ډولونه

په دې لاربښود کې هغه کورنۍ چې د تریاکو په اقتصاد کې ښکېلې دي، په دې توګه ډلبندي شوې دي: **(۱)** هوسا، چې بسیا دي؛ **(۲)** شتمن، چې بسیا نه دي؛ او **(۳)** بېوزله او ډېر متکي. د عمومي قاعدې په توګه، لومړۍ ډله «هوسا» کروندګر د معیشت مختلفې یا متنوع لارې چارې په واک کې لري. دا ډله خلک په هغو سیمو کې ژوند کوي چې د ولایت یا ولسوالۍ مرکزونو ته نږدې وي او د لوړ ارزښت لرونکو تازه مېوو په ګډون مختلف النوع محصولات کري. دا خلک ځمکې، اوبو او هم د توکو او کارګرو مارکېټ ته ښه لاسرسی لري. هوسا کروندګر د ښه ژوند لپاره یوازې پر تریاکو متکي نه دي او کولی شو چې «فرصت لټوونکي مولدین» یې وګڼو، د چا لپاره چې د قانون تطبیق د مخدره توکو د کنټرول لومړنۍ وسیله ګڼل کېږي. تجرید شوي کروندګر (دویمه طبقه) او بېوزله کروندګر (درېیمه طبقه) معمولاً بې ځمکو یا هم ډېرې کمې ځمکې لري. همدا طبقه د پراختیایي پروګرامونو لپاره مطلوب کسان ګڼل کېږي او هڅه کېږي چې د تریاکو د تولید د کمولو په بدل کې ورسره مرسته وشي. له همدې امله د بېوزلۍ او د اپینو د کښت راکمولو تګلارې له یو بل سره ډېرې نږدې اړیکې لري. د یادو درې طبقو خلکو ځانګړنې په ۱الف جدول کې خلاصه شوې دي.

## مناسب پرمختیایي اقدامات

د کوکنارو کرونکې کورنۍ متنوع او متحرکې دي او په دې اړه د هغوی پرېکړه چې څومره ځمکه د کوکنارو کښت ته ځانګړې کړي، د یو لړ فکټورونو تر اغېز لاندې وي- نه یوازې نرخ. هغه پالیسي ګانې او پروګرامونه چې د کوکنارو له کروندګرو سره یو ډول یا متجانس چلند کوي، نه یوازې دا چې اغېزناکې نه دي، بلکې بې ګټې هم ثابتېدای شي. اړینه ده چې د کوکنارو د کروندګرو ترمنځ شته توپیرونه په پام کې ونیول شي. د کوکنارو په کښت کې د ښکېلو مختلفو ټولنیزو-اقتصادي ډلو پر ونډې او پر بېلابېلو ګټو پوهېدل (مثلا، ټولنیزې، اقتصادي او سیاسي)، په افغانستان کې په پایداره توګه د کوکنارو د له منځه وړلو په موخه د اغېزناکه ستراتیژیو په جوړولو کې د پیل ټکو د تشخیص لپاره خورا مهم دي.

۱الف جدول: د ترياکو توليدوونکو سيمو او کروندګرو ډولونه

| | لومړۍ ډله<br>پرځان بسيا | دويمه ډله<br>متکي | دريمه ډله<br>ډېر متکي |
|---|---|---|---|
| **بازارونو/خدماتو/ حکومتولۍ ته لاسرسی** | • د ولايت او ولسوالۍ مرکزونو ته نږدې<br>• حکومت له لږ غبرګون سره پرې خپل حاکميت اعمالولي شي | • د لاسرسي وړ، خو محدوده فزيکي زېربنا | • لېرې پراته دي<br>• د حکومت حضور او د خدماتو رسول محدود دي<br>• حکومت ته ستونزمنه ده چې د ولسوالۍ له مرکزه بهر خپل حاکميت اعمال کړي |
| **په ځمکه کې کښت (ژمی+اوړی)** | • تر ټولو لوی سايز کرل کېدونکې ځمکې) > ۱۵ جريبه) | • منځنی سايز کرل کېدونکې ځمکې (< ۷.۵ جريبه > ۱۵ جريبه) | • د کوچني سايز لرونکې ځمکې (> ۷.۵) |
| **اوبه لګول** | • کانال او اصلي سيند | • کانال او سيند، کاريز او د پسرلي غرنۍ اوبه هم شته | • کاريز او پسرلنۍ اوبه |
| **د ملکيت ډول** | • ځمکوال<br>• د ځمکې مالک کروندګر | • د ځمکې مالک کروندګر<br>• اجاره اخيستونکی | • د ځمکې مالک کروندګر<br>• اجاره اخيستونکی |
| **د حاصلاتو وار** | • ډبل حاصل | • ډبل حاصل، خو په اوړي کې محدود | • يو حاصل |
| **حاصلات** | • متنوع<br>• کوکنار ۳۰٪-۵۰٪<br>• غنم<br>• سبزيجات د خرڅلاو لپاره<br>• مېوې/حبوبات د خرڅلاو لپاره | • متنوع<br>• کوکنار ۳۰٪-۵۰٪<br>• غنم<br>• سبزيجات، يوه اندازه يې د خرڅلاو لپاره<br>• مېوې/حبوبات، يوه اندازه يې د خرڅلاو لپاره | • کوکنار ۷۰٪ +<br>• غنم ۲۰٪ -۳۰٪ +<br>• سبزيجات يوازې د مصرف لپاره |
| **د نفوسو تراکم** | • ۱-۱.۵ في جريب | • ۲-۳ في جريب | • ۳.۵ -۵ في جريب |
| **مالداري** | • د لبنياتو او څارويو خرڅلاو | • د يوه اندازه لبنيات د خرڅلاو لپاره | • رمه<br>• د غوا شيدې د کورنۍ اړتيا لپاره |
| **له کروندې بهر** | • محدود | • روز مزدوري- د کښت پرمهال کوکنار | • روز مزدوري- کوکنار د سيزن په وخت کې |
| **د کروندې دننه** | • معاش (موسسې، حکومت، تجارت، ټرانسپورټ) | • ساختمان<br>• نيمه مهارت | • محدود |
| **پور** | • ډېر پور ته لاسرسی<br>• د کرېډټ ګڼو سرچينو ته لاسرسی<br>• پورونه ورکوي | • يوه اندازه پور ته لاسرسی<br>• ګڼې سرچينې | • د پور ترلاسه کول د ټول عايد په تناسب<br>• اپين يوازې د پورونو سرچينه ده |
| **د اپينو خرڅلاو** | • ځيني وخت تر حاصل وروسته | • تر حاصل مخکې، خو له يوه اندازه زياتو پيسو سره | • تر حاصل مخکې |

پرمختیایي پروګرامونه چې د کروندګرو لپاره واقعي معیشتي بدیلونه وړاندې کوي، اړتیا ده چې تر ممکنه بریده د کوکنارو د اقتصاد په څېر ځانګړنې ولري، په ځانګړې توګه د کوچنیو او بېوزلو کروندګرو (دویمه او درېیمه طبقه) لپاره کوم چې اوسمهال یې انتخابونه ډېر محدود دي. په دې پروګرامونو کې د هغې ستراتیژۍ له تدوین څخه باید ډډه وشي چې یوازې هڅه کوي د لومړۍ ډلې د کوکنارو له بډایه سرچینو څخه لاسته راغلي نسبتاً لوړ عاید عوض کړي. داسې اقداماتو ته اړتیا ده چې امکاناتو یا پانګې ته د کوچنیو کروندګرو (دویمې او درېیمې طبقې) په لاسرسي کې ښه والی راولي. د بې وزلو کروندګرو لپاره پوروونو، ځمکې او د کروندې دننه او له کروندې بهر عایداتي فرصتونو ته لاسرسی باید لومړیتوب وي. په ۲الف جدول کې یو لړ پرمختیایي اقدامات لېست شوي چې د دویمې او درېیمې طبقې کروندګرو ستونزو ته د رسیدګۍ لپاره پرې باید تمرکز وشي. هغه کروندګر چې له اقتصادي اړخه د کوکنارو پر کښت متکي نه دي (لکه د لومړۍ طبقې خلک)، د قانوني او ټولنیز فشار پر راوړلو باید ډېر تمرکز وشي.

### ۲الف جدول: په کلیوالي اقتصاد کې د تریاکو د ګټې د متوازن کولو لپاره پراختیایي اقدامات

| شتمني | د کوکنارو د اقتصاد ګټې | پراختیایي اقدامات |
|---|---|---|
| ځمکه | • د هغو اجاره اخیستونکو لپاره چې د کوکنارو د کښت تجربه لري، ځمکې ته ترجیحي لاسرسی<br>• یوازې کوکنار کولی شي چې د ځمکې لوړه اجاره پوره کړي: په هغو سیمو کې چې کوکنار کرل کېږي، د ځمکې د اجاره ارزښت تر دې حده ټیټ شوی چې هغه کروندګر چې مشروع کښت کوي د دې جوګه نه دي چې اجاره پوره کړي<br>• د ځمکې له هر جریب څخه لوړه ګټه؛ هغه څوک چې په ځمکه کې لږ لګښت لري، حاصل یې په ګټه دی | • تر آبیارۍ لاندې زیاته کرنیزه ځمکه (د ژمي او اوړي فصلونه)<br>• د لوړ ارزښت مېوو تقویه ترویج کول او د کور په کچه د مېوو پروسس کول<br>• د مالدارۍ او لبنیاتو له لارې د عاید زیاتوالی<br>• د غیر کرنیزو عوایدو پراخول (د بېلګې په توګه: د مهارتونو او د بازار د اتصال د پراختیا له طریقه) |
| اوبه | • د اوبو د فې واحد له امله لوړه ګټه، کوکنار (په ځانګړې توګه په یو فصلي سیمو کې د پام وړ دي)<br>• یو له هغو محصولاتو څخه چې پانګه او د څاه ګانو لګښتونه پوره کوي | • تر اوبه لګونې لاندې د کرنیزو ځمکو زیاتوالی (اوړي او ژمي)<br>• د اوبو د موثریت د تکنیکونو/ټکنالوژۍ د ترویج او د لوړ ارزښت تولید د پکېجونو له لارې د کښت د ارزښت د بهبود لپاره واحده کړنچاره |
| پور/کرېډټ | • د راتلونکي محصول د پېرلو لپاره له مخکې ورکړه<br>• هغه کسان چې کوکنار کري په ځانګړې توګه بېوزله کروندګر د پور مستحق ګڼل کېږي. هغوی کولی شي چې پور واخلي او د دې جوګه دي چې موسمي او معلق پوروونه بېرته ادا کړي. | • د نورو محصولاتو لکه مېوو، پیازو او زیرې په اړه له وړاندې تادیات کله کله د لاسرسي وړ وي، دا د مارکېټ اتصال تقویه کوي<br>• د کرنیزو محصولاتو د وېش په ګډون د قرارداد تړل<br>• د MISFA له لارې د مصرف او پانګونې لپاره د کرېډټ د فرصتونو تقویه کول |
| کارګر | • هغه محصولات چې کارګرو ته اړتیا لري، د خېشاوې او حاصل راټولولو په موسم کې د پام وړ کارګري فرصتونه رامنځته کوي<br>• د بې مزده فامیلي کارګرو کارول، د ښځو په ګډون<br>• اجاره اخیستونکي د حلال کښت پر ځای د کوکنارو له کښت څخه ډېره ګټه لاس ته راوړي<br>• هغه څوک چې کوکنار کښت کوي، هغوی ته د خوړو برابرول | • د مېوې د پروسس لکه د وچې مېوې د پروسس لپاره د کارګري فرصتونو رامنځته کول<br>• د ښځو لپاره د بالقوه عایداتي فرصتونو (لکه مالداري، مرغداري، لبنیات، د مېوو پروسس او نور) د پراختیا له لارې د کورني کارګرو د لګښت پوره کولو لپاره د فرصت رامنځته کول<br>• د غیر کرنیزو عایداتي فرصتونو رامنځته کول<br>• په هغو سیمو چې د کوکنارو د کښت پر وړاندې د حکومت قانوني محدودیتونه موجود دي، کارګرو ته د تقاضا د اوج پرمهال د کار په بدل کې نغدې پیسو ورکول<br>• د اجاره اخیستونکو لپاره کرنیزو اړتیاوو ته د لاسرسي ښه والی، ترڅو د مشروع یا حلال کښت له محصول څخه لویه ګټه ترلاسه کړي. |

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو يو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU ليکچر يا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون يې کاروئ، يا يوازې په دې وروستيو کې له دغه ادارې سره بلد شوي ياست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پايلو د شريکولو طريقې و ارزوو. د نظرونو شريکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ايميل کول دي: areu@areu.org.af

يا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته يې ويلی شئ، خو په ممکنه ډول يو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړيکه نيسئ (يعنې د خپرونو، غونډو يا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بريښنايي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهيرونو يا پايلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې يا موضوع ګانې چې تاسو يې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې يا فعاليتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې يا لېوالتيا ډګر، دنده يا څېړنه، او دغه راز موقعيت؟

# د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې نوې خپرونې

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسۍ وړ دي، او ډیرې ئې د هارډ کاپي(چاپي بڼه) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکونکی( مولف) | په دري ژبه | په پښتو ژبه | د څیړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مارچ ۲۰۲۰ | تکنالوژی او په افغانستان کی بشری مرسته: د معلوماتو د ټولولو او دمخابراتی موخو لپاره په ناامنو شرایوطو کی دتکنالوژی استعمالول | داکتر رودریگو مینا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| جنوری ۲۰۲۰ | د دولت جوړولو لپاره لازمی شرط، په افغانستان کی د مالیی سیستم ته یوه کتنه | سراج الدین ایثار | | | حکومتولي | د پالیسی نوټ |
| دسامبر ۲۰۱۹ | د هلمند د خوړو زون: یوه خیالي بریا | داکتر دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی زیرمو مدیریت | تلفیقی څیړنه |
| دسامبر ۲۰۱۹ | د افغانستان په ټاکنو کې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی | نواه کوبورن, محمد حسن وفایی | √ | √ | جندر | توضیحي پاڼه |
| دسامبر ۲۰۱۹ | نن ورځ په افغانستان کې د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو شخړه | داکتر انتونیو جیستوزی | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | تلفیقی لیکنه |
| سپتامبر ۲۰۱۹ | په افغانستان کې د کوچیانو د میشتیدنې بهیرونه او پر شخړې د هغوی اغیزې | داکتر انتونیو جیستوزی | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی لیکنه |
| سپتامبر ۲۰۱۹ | په افغانستان کی د کوچیانو د میشتیدنی بهیرونه او پر شخړی د هغوی اغیزی | داکتر انتونیو جیستوزی | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۸ غبرګولې | لمر په دوو ګوتو نه پټیږي | ډیوېډ منسفیلډ | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۷لړم | د ۱۳۸۲کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څیړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څیړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څیړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسي د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسي د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچیتوب، د کوچیانو او دسیمې د اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکټر انتونیو ګیستوزی | √ | √ | د کوچیانو او د سیمی د اوسیدونکو ترمنځ ښخړی | تحلیلی څېړنه |
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاری پروګرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختک | SLRC | | | تولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه :په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمهایا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| د۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | ولی محمد کنډیوال | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتوکوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو ګیستوزي | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامی؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو تریاکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپایی ټولنې د ستونزې د غبرګون تحلیل | چونا آر. ایچاویز، قیوم سروش | | | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ اکتوبر | په واقعی توګه بیساری: په هلمند کې د خوړو زون څنګه په ولایتونو کې د تریاکو د تولید د ډیروالی ملاتړ وکړ | ډیوېډ منسفیلډ | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال اګست | په افغانستان کې قضایې بیا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال آګست | په افغانستان کې اجرایي بیا کتنه | کاوون کاکړ | √ | √ | اساسی قانون | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | ښځې د افغانستان په کرنه کې | لینا ګانیش | | | جنسیت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د اوبو په برخه کې د سمونې اغیزې | اتل احمدزی | | | حکومتولي | موضوعی څېړنه |



د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری ټولی څېړونې
ددغی اداری له کورپاڼی ( www.areu.org.af )
څخه ترلاسه کولای شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی
کاپیانې هم موجودی دی.


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
لسمه ناحیه، لومړی سړک، شهرنو،
کابل، افغانستان
تیلفون: ۰۷۹۹۲۰۸۵۴۸ (۰) ۹۳+
برېښنالیک: publications@areu.org.af
ویب پاڼه: www.areu.org.af



ISBN 978-9936-641-98-3